د مصر عربی جمهوریت

د اوقافو وزارت

# د دولت او د دلي فقه

چمتو کوونکی

پروفیسر دکتور محمد مختار جمعه

د اوقافو وزیر

د اسلامي چارو د عالي شورا مشر

او د اسلامي څیړنو د مرکز غړی

ژباړه

امان الله حیدرشاه

قاهره

۱۴۴۰هـ/ ۲۰۱۹م

د لوی او بښونکی خدای په سپېڅلي نامه پیل کوم

﴿إِنۡ أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ﴾

«زه خو اصلاح کول غواړم تر څو پوري مي چي وس رسېږي، او زه چي د څه شي سرته رسول غواړم، هغه په ټوله معنا د الله په توفیق پوري تړلي دي، ما پر همغه باندي توکُل کړی دی او په هره معامله کي د همغه لوري ته رجوع کوم»

[هود: ۸۸]

## سریزه

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام على خاتم أنبیائه ورسله سیدنا محمد بن عبد الله، وعلى آله وصحبه ومن تبع هداه إلى یوم الدین.

وبعد:

د دولتونو او د ډلو د فقي ترمنځ ډیر توپیر موجود دی، ځکه د دولتونو د فقي موخه د دولتونو ساتنه او د هغو ننګونو مقابله ده چې د دولت ورسره مخامخ وي چې د هغې د مشروعیت د دفاع او د هغې د منابعو ساتنه ده او پدغه لاره کې د قربانۍ ورکول دي، پداسي حال کې چې د ډلو د فقي موخه په غالب او عامه توګه دا وې چې دوی د دولت د کمزورتیا او د هغې د نظام د له منځه وړلو هڅه کوي ترڅو دغه ډلې د دولت ځای ناستي شي اګر که دا ددوی لامل هم کیږي چې دولت پرې له منځه ځې او د نړۍ د نقشې څخه لیري کیږي، دوی غواړي دولتونه ټوټې کړې چې ګټه اړ زیان ونلري او تر دې هڅه کوي چې د ولت له منځه یوسي او یا هم دیته یې برابر کړې چې لوی هیوادونه یې روغ تیر کړې.

دغه تندروي ډلې تل پدې آند دي چې که دولت هر څومره پیاوړی کیږي د دوی په ګټه ندی او هر څومره چې دولت کمزوری کیږی د دوی په ګټه دی ترڅو خپلو هیلو ته ورسیږي، ځکه ددغو تندرو ډلو هیڅ یوه ډله نشي کولای چې واک ترلاسه کړی مګر دا چې دولته کمزوری شي نو دوی بیا خپلو موخو ته رسیږي، دغه ډلې تل دداسي یوې استراتیژۍ څخه کار آخلي چې په ترڅ کې د ولسونو او د چارواکو ترمنځ ستونزې را ولاړوي، لړ تر لړه ددې هڅه خو کوي چې د نظام د شرمولو او بې ځایه تورونو له لارې موخې ترلاسه کړې اګرکه دا نظام دحضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه د عادل نظام په څیر هم روان وي او ګومان کوې چې دوی د دین ساتونکې دي، په نصوصو کې تحریف او د خپل ځان څخه تاویل کوي، دا هغه څه دې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ لدې څخه منعه کړې یو او خبرداری یې راکړی او له مونږ څخه یې غوښتي چې ددوی سره مقابله وکړو او د هغوی غلطیاني خلکوته بیان کړو لکه چې فرمایي: «دغه علم عادل ځای ناستی ترلاسه کوي چې د تندرو تحریف د باطلو غلا او د ناپوهانو د تاویل څخه وساتي» بیهقي ددي روایت کړی.

شریعت مونږ دیته هڅولي یو چې د عادل حاکم درناوی وکړو د هغه ترڅنګ ودریږو مرسته ورسره وکړو د هغه شاوخوا را ټول شو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «د سپین ګیري مسلمان د قرآن د عالم او حافظ چې پکې کوتاه والی او زیادت یې نه وي کړی او د عادل حاکم درناوی د الله جل جلاله د تعظیم او د لوی والي یوه برخه ده» سنن ابی داود.

دغو تندرو ډلو حقیقتونه بدل کړې او نصوصو ته یې بدلون ورکړی او تحریف یی پکې راوستلی د هغوی د زیاتو مشرانو او رهبرانو عقلونه د جمود پړاو ته رسیدلي او د هغوی ټول پیروان تنګ نظره تندرو او د دیني نصوصو ظاهري بڼې پوري تړل شوي او د ځینو پخوانیو فقهاؤ او علماؤ غیر دقیق رایو ته یې د نصوصو د سپیڅلتیا ځای ورکړی او هغه نوي مسائل چې د نوښت بدلون اجتهاد ور دې سپیڅلي او ثابتو نصوصو ځای یي ورکړی، او دوی دې خپل دغه کار ته خالص دین وایي پداسي حال کې چې دوی د ناپوهی او ګمراهی سره مخامخ دي په ځانګړي توګه دوی داسي مشران او رهبران لري چې ددوی د ناپوهی او جمودیت له لاري پیسي لاسته راوړې او دا ناپوهان بیا د مرګ تر سرحده پوري ددغو مشرانو څخه دفاع کوي دا هغه چاري دې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته پدې هکله خبرداری راکړی لکه چې فرمایي: «الله تعالی علم د خلکو د سینو څخه علم نه نابودوي بلکي واقعي علماؤ ته هغه ورکوي تر هغه وخته پوري که هیڅ عالم پاتي نشي نو خلک بیا ناپوهان د خپلو مشرانو او رهبرانو په توګه غوره کوي نو کله چې ددغو ناپوهو مشرانو څخه پوښتنه وشي نو بغیر د علم څخه جواب ورکوي دوی پخپله ګمراهان دي او نور خلک هم ګمراه کوي» امام بخاري ددي روایت کړی.

زمونږ په عربي او زیاتره اسلامي هیوادونو کې ددغه تندرو ډلو د پیدا کیدلو له کبله ډیری کړاوونه رامنځته شوي دي په ځانګړي توکه وروسته لدي چې دغو ډلو په دین باندي سوداګرې پیل کړه او ددي لاري دوی هڅه کوي ترڅو ددین څخه ګټه پورته کړې او خپل مخالف لوری باندې بی بنسټه تورونه پوري کړې او ددي لاري څخه واک ترلاسه کړې نو د اسلام سره جګړه د ټولو تندرو ډلو شعار د خپلو سیاسي مخالفینو په ضد باندې ګرځیدلی.

دوی لدي څخه هم تیری کوي او دې حدته رسیږي چې خپلو سیاسی مخالفینو باندې د خیانت کفر او د مسلمانانو د ټولي څخه د دوی په وتلو تورونه پوري کوي چې ګویا مخالفین به یی د جنت بوی هم ونه ګوري د هغوی وینې او مالونو لوټول روا بولي او د هغوی ښځي د وینځو په توګه په نیونی باندي ټینګار کوي ددغو څخه زیاتره ډلي دا په ناپامی سره نه بلکي په قصده توګه سره سرته رسوي، دوی لدي څخه هم تیری کوي او خپل ځانونه د دین ټیکه داران بولي پداسي حال کې چې دوی د فقه او ددین څخه نا خبره دي او د دین بنسټیزو اصلونو باندي نه پوهیږي، ځیني لدوی څخه په مونږ ټولو باندي فتواګاني ورکوي او هیڅ داسي دلیل نلري چې الله تعالی په قرآن کې نازل کړې وې، دوی یوائې د خپلو ډلو د ګټو ځان ځانی قدرت غوښتونکي او د خپلو مشرانو د مشهورتیا لپاره کار کوي.

دغه ډلي چې په درواغو سره د اسلام د مبارک دین تر شا ځانونه پټوي ددغه امت دښمنانو ته بیلابیلي وسیلي برابروي ترڅو ددوی په داخلي چارو کې لاسوهنه

وکړې او د ترهګرۍ په ضد د جګړې ترنامه لاندي زمونږ هیوادونه کمزوري توتې کوي او زمونږ په اقتصادي جغرافوي شتمنیو سیاسي او ملي پریګړو باندي اغیزي غورځوي، لدغو ډلو څخه ځیني بیا د تندروی تاوتریخوالی او ترهګرۍ لوري ته تللي چې په خلکو د کفر ټاپي لګوي چاودني او ځان وژونکي بریدونه کوي او ځیني اشغالګر اړخونه شته چې دوی ته پیسي وسلي ورکوي ترڅو خپلو موخوته ورسیږي چې د عربي سیمي توټې کیدل او د غوی په شتمنیو باندي د خیټې آچول دي او له بل اړخه په اسلام مبارک دین باندي بې بنسټه تورونه پوري کوي چې ترهګري ورسره تړي.

دا چې مسلمانان ټولي نړۍ ته د سولي د استازو په توګه سره پیژندل کیدل دوی اوس داسي ګرځولي چې د ترهګرۍ وژني او د ویجاړۍ نوم ورسره مل وي او پدي لړ کې د «اسلاموفوبیا» کلمه را څرګنده شوه چې د اسلام د مبارک دین په خلاف ځیني اداري او اړخونه دیته وده ورکوي او کله چې ددي اور مړ کیږي اور ته بیا پوکي ورکوي ترڅو زمونوږ په څتونو باندي همداسي اور بل اوساتي.

امکان نلري چې هیڅ هوښیار او ملي شخصیت او هر هغه څوک چې خپل دین یي په ښه ډول سره درک کړی وې لدې څخه انکار وکړې چې دغو تندرو ډلو چې خپل ځانونه یي په درواغو او بهتان سره د اسلام په جامه کې پیچلي ډیر تریخ محصول یي پریښی او دوی داسي اغزي کرلي چې مونږ له هغي څخه تریخ میوه او زهر ترلاسه کوو نو له همدي کبله په مونږ ټولو لازمه ده هغه څه چې دغو تندرو او ګمراهو ډلو فاسد کړې بیرته یي اصلاح کړم.

همدارنګه د علم خاوندانو متخصصینو پوهانو او وطن پرستانو باندي دا لازمه ده چې خپلي هڅي دوه برابره کړې ترڅو د فریب کارانو باطل پرستانو تندروانو د تحریف او د پوهانو د تاویلاتو څخه خپل دین وساتي ترڅو په هغوی باندي بیا ملامتیا پاتي نه وي.

ما هڅه کړې دعه ترڅو پدغه کتاب کې زیاتره هغه غلط مفهومونه سم کړم چې د دولت د جوړولو په هکله رامنځته شوي او ددې د ساتني په اهمیت باندي رڼا واچوم، او پدې کتاب کې مي دا څرګند کړې او ټینګار مې کړی چې د هیوادونو ګټې د ادیانو د مقاصدو او موخو څخه نه جلا کیږي، او د هغو ډلو په هکله مي خبردازی ورکړی چې په هیوادونو کې دننه ددي لپاره رامنځته کیږي ترڅو د دولت او د هغي د ادارو او ځانګړتیاوو په وړاندي ودریږي او جګړه کوي، او پدې لړ کې مي د سیاسي تعددیت چې په دولت کې شتون اړین دی او موازي قوتونو ترمنځ توپیر کړی چې خطر لري، همدارنګه د دولت او د ډلي له نظره د ګټو توپیر مي کړی، او د هیوادونو د اقتصادي پرزخت په هکله مي خبردازی ورکړی چې لازمه ده هیوادونه د خپلو پولو ساتني ته اهمیت ورکړې او ملي

يووالى وساتي او د ټولو هيوادوالو ترمنځ بشپړ برابروالى وساتي او د هغوى ترمنځ د دين، رنګ، جنس، او نژاد له کبله توپير ونکړي.

د الله تعالى رضامندي زمونږ بنسټيزه موخه ده، او يوازې هغه مونږ لپاره کافي دى او چارو ښه سمبالونکى دى.

**پروفيسر دکتور محمد مختار جمعه مبروک**

**د اوقافو وزير**

**د اسلامي څېړنو د مرکز غړى**

**د اسلامي چارو د عالي شورا مشر**

## د دولت په اداره کولو کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کړنې

پیغمبر صلی الله علیه وسلم یواځې نبي نه وو بلکې ددې ترڅنګ چې نبي او رسول وو قاضي حاکم او یو پوځي قومندان هم وو هغه څه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدې اعتبار باندی کړي دي چې هغه نبي او رسول وو هغه چاري چې د عباداتو عقایدو اوارزښتونو او د اخلاقو د چارو سره اړه لري او د هغې نسبت نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته شوی وي او په هغه ډول مونږ ته رارسیدلی وي چې هغه اصحابو مونږ ته بیان کړی دي نو دغه چاري د وخت او د ځای په بدلیدو سره نشي بدلیدلي ځکه چې دا ثابتي چاري دي برابره خبره ده چې د فرائضو سره اړه ولري لکه د روژې د مبارکي میاشتي روژه لمونځ زکات حج او یا هم د سنتو سره اړه ولري چې هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه ثابت شوی وي لکه د عرفات په ورځ باندي روژې نیول او یا هم د عاشورا په ورځ باندي روژه.

اما هغه کړني چې بیغمبر صلی الله علیه وسلم پدی اعتبار باندي کړی وي چې هغه نبي او حاکم وو او یا همدارنګه پدی اعتبار باندي کړی وي چې هغه نبي او پوځي مشر وو او یا هم دا چې هغه نبي او قاضي وو نو دا کړني دوه اعتباره لري لومړني اعتبار دا چې هغه د نبوت په بنسټ باندي کړي وي او یا دوهم دا چې هغه دغه کړني پدي اعتبار باندي کړی وي چې هغه حاکم او یا هم قائد او یا هم قاضي وو[۱].

دا چې د نبوت او د رسالت چاري پای ته رسیدلي دي او د الله جل جلاله ددغه وینا سره سم نور نبیان نشي راتللی لکه چې فرمایي: (مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا) ژباړه: «(اې خلکو!) محمد صلی الله علیه وسلم ستاسي له نارینه و څخه د هیچا پلار نه دی، هغه خو د الله رسول او اخرنی او وروستنی نبي دی، او الله د هر شی علم لرونکی دی» [الأحزاب: 40]، او همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په نورو انبیاؤ باندي ماته په شپږو شیانو باندي فضیلت راکړل شوی دی لومړۍ دا چې ماته قرآن کریم راکړل شوی بل د ویري په مقابل کې له ماسره مرسته شوې ده او ماته یي غنیمتونه حلال کړي دي او همدارنګه ماته یي ځمکه پاکه ګرځولی ده او جومات یي ګرځولي دی او همدارنګه ټولو خلکو ته یي زه را لیږلی یم او په ما باندي د نبیانو راتګ پای ته رسیدلی[۲]، نو هغه کړني چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي اعتبار باندي کړي وي چې هغه حاکم یا هم مشر او قاضي وو نو پدي کې ځیني داسی شرطونه او ضرورتونه رامنځته شوي دي چې نور صفتونه

---

(۱) پدی هکله دغه کتاب ته مراجعه وکړئ: الإحکام فی تمییز الفتاوی عن الأحکام وتصرفات القاضی د امام قرافی ص99 او د هغه مابعد .

(۲) صحیح مسلم، کتاب مساجد او د لمونځ ځایونه، باب: ځمکه زما لپآره جومات او پاک ګرځولي شوی دي، حدیث نمبر (523).

ورسره تړل کيږي ځکه چې هغه دغه کړني پدی اعتبار باندي کړي دي چې هغه حاکم او يا هم پوځي مشر يا قاضي وو چې د احوالو په بدليدو سره دا بدليدلی شي مونږ غواړو ددغه صفتونو هريو صفت لپاره يوه نمونه بيان کړو:

هغه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم پدي اعتبار باندي کړني سرته رسولي دي چې هغه رسول او ځنګ کې وسره حاکم وو لکه د هغه صلی الله عليه وسلم دغه وينا چې فرمايي: څوک چې مړه ځمکه راژوندی کړي نو د هغه چا لپاره ګرځي چې دا يي را ژوندی کړې وي[١]، امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايلي دي پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه دغه کړنه پدې اعتبار باندي رامنځته شوې ده چې هغه حاکم او امام وو نو هيچا ته دا اجازه نشته چې هغه يوه ځمکه راژوندی کړي او ځانته واخلي مګر دا چې حاکم يا امام هغه ته اجازه ورکړي ځکه چې پدی کې تمليک راځي چې د حاکم اجازي پرته دا ناشوني ده[٢].

نو له همدي لپاره هيچا ته دا اجازه نشته چې يوه ټوټه ځمکه باندي لاس کيږدي او وايي چې دا ما راژوندي کړي ده نو دا زما لپاره ګرځي او وايي چې پدي د پيغمبر صلی الله عليه وسلم حديث موجود دی چې مخکي مو بيان کړ نو مونږ وايو چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم دلته چې کوم حديث ورنه رانقل شوی دی د حاکم په اعتبار باندي دغه کړنه يي سرته رسولي ده نو د حاکم څخه ماسوا بل چاته دغه اجازه نشته چې دغه ډول پريکړي واخلي چې د عامه حقوقو او يا هم د عامو مالونو او يا د عام ملکيت سره اړه ولري او که داسی ونشي نو چاري به د ګډوډۍ په لور ولاړي شي او په فتنو او د عام ملکيت باندي د تجاوز دروازي به پرانستلی شي او ښايي دا ددي لامل شي چې د خلکو ترمنځ جنګ او جګړې رامنځته شي نو پدي برخه کې مونږبايد هغه څه ته پابند ووسو چې په اساسي قوانينو او په نورو قوانينو کې راغلي چې د هيوادونو او د خلکو چاري تنظيموي.

او هغه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم پدی اعتبار باندي کړني سرته رسولي دي چې هغه يو پوځي مشر وو لکه د هغه دغه وينا چې فرمايي: څوک چې د شواهدو سره يو دښمن مړ کړي نو د هغه وژل شوي مال دده کيږي[٣]، نو اوس څوک نشي کولای چې دغه ډول کړنه ترسره کړي نو که چيرته يو څوک په مخامخ جګړه کې يو ترهګر ووژني نو نشي ويلای چې زه د هغه د وسلو موبايل او د مال خاوند يم ځکه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم دغلته دا کړنه پدي اعتبار باندي شوی ده چې هغه حاکم او پوځي مشر وو نو پدی کې بايد هغه څه ته پابندي

(١) سنن ابی داود، د خراج،کتاب باب احيای موات، حديث نمبر (3075).

(٢) کتاب الإحکام فی تمييز الفتاوی عن الأحکام وتصرفات القاضی والإمام، د امام قرافی، ص111.

(٣) صحيح البخاری، کتاب فرض الخمس، حديث نمبر (3142).

وشي چې په قوانینو او په اوسني اساسي قوانینو او همدارنګه د دولت په نظام او د وسلوال پوځ په نظامونو کې راغلي دي.

هغه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدې اعتبار باندي کړني سرته رسولي چې هغه یو قاضي وو لکه د هغه دغه وینا چې د خلع په مسئله کې یې ویلي دی کله چې د ثابت بن قیس ښځه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغله او وی ویل: چې اي د الله رسوله زه ثابت بن قیس په اخلاقو او دینداری کې نه ملامتوم خو زه د اسلام څخه وروسته کفر بد ګڼم نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا د هغه باغیچه بیرته ورته ورسپارې؟ هغي وویل : هو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: باغیچه قبوله کړه او هغې ته طلاق ورکړه[۱].

نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه کړنه دلته پدي اعتبار باندي راغلي ده چې هغه دلته نبي او قاضي هم وو او دا هم د هغو چارو د جملي څخه ګڼل کیږي چې قوانینو په اوسني عصر کې تنظیم کړي دي نو هغه ته باید پابندي وشي په هغه ډول باندي چې قانون د هغه تنظیم کړی وي دا په اسلامي فقه کې قاضي له لوری د طلاق ورکولو په نامه باندي پیژندل کیږي چې دا پخپله شرعي او قانوني قواعد او ضوابط لري.

امام قرافي رحمه الله فرمایي: د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه کړني چې د امامیت او حاکمیت پوري اړه لري دا په نبوت رسالت فتوی او په قضا باندي یو بل صفت او وصف وو چې ورته اضافه کړی شوی وو ځکه چې امام او حاکم هغه څوک دی چې هغه ته د خلکو عمومي سیاست ورسپارل شوی وي ترڅو د خلکو د ګټو دفاع وکړي فساد له منځه یوسي جنایتکاران ونیسي تجاوزکوونکی او ظلم کوونکي ووژني او په هیوادونو کې خلک ځای پر ځای کړې، او ددي ترڅنګ ځیني نور هغه مثالونه چې پدي کې راځي هغه د حاکم لخوا سرته رسیږي[۲].

بیا وایي: هغه څه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یو حاکم او امام په صفت باندی سرته رسولي دي لکه په خلکو باندی د غنیمتونو او دبیت المال تقسیمول د حدونو جاري کول د پوځونو جوړول د تجاوزګرانو او د تیري کوونکو سره جګړه کول او په کلیو کې د ځمکو ویشل او په معدنونو کې د برخو ویشل او ددې په څیر داسی نور مثالونه، نو پدي وخت کې هیچا ته جائزه نده چې پدي وخت کې داسي ګام پورته کړي مګر دا چې د هغه وخت امام او حاکم ترحکم لاندی به سرته رسیږي ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه ټول کارونه پدي اعتبارباندی کړی دي چې هغه د هغه وخت حاکم او امام وو او د هغه د اجازي

(۱) صحیح البخاری،د طلاق کتاب ، د خلع باب او د طلاق څرنګوالي ، حدیث نمبر (4990).

(۲) کتاب الإحکام فی تمییز الفتاوی عن الأحکام وتصرفات القاضی والإمام، د امام قرافی، ص105.

پرته هیڅ پدي برخه کې نه روا کیدل نو پدي وخت کې همدا شرعي قانون او شریعت وو[1]، لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ) ژباړه: «او د هغه پیروي غوره کړئ. هیله ده چې تاسي سمه لاره وموميئ» [سُوۡرَةُ الأعرَاف: 158].

(١) كتاب الإحكام فى تمييز الفتاوى عن الأحكام وتصرفات القاضى والإمام، د امام قرافى ص108، او كتاب تبصرة الحكام فى أصول الأقضية ومناهج الحكام، د ابن فرحون، ج1، ص12 و13.

## د دولت او د جماعت یا ډلي د فقي ترمنځ

زمونږ په اوسني زمانه کي د دولت جوړول او رامنځته کول یو له مهمو ضرورتونو د جملي څخه ګڼل کیږي برابره خبره ده چي لدي لاري د ځمکي آبادول وي او یا هم د خلکو د ګټو ساتنه وي او دا یو ضروري غوښتنه ده چي هیڅوک تري سترګي نشي پټولی او د هغه ضرورتونو د جملي څخه راځي چي هیڅ امکان نلري سرته دي ونه رسیږي لکه څرنګه چي ویل شوي دي یو بی وزله سړی په یو پیاوړي دولت کي د هغه مالداره سړي څخه غوره دی چي هغه د یو کمزوري دولت تابعیت لري، ځکه لومړنی کمزوری سړي ته داسی یو دولت شته چي د هغه ساتنه کوي او دا بل چي د کمزوري دولت تابعت ولري نه په داخل او نه په بهر کي هیڅوک د ملاتړ لپاره نلري ځکه څوک چي دولت ونلري ترڅو د هغه ترشا ودریږي او د هغه حمایه وکړي او د هغه د ګټو ساتنه وکړي هغه هیڅ ارزښت نلري برابره خبره ده که هغه کارګر وي او که پانګه وال، ځکه ټول هیوادونه اوس د پیاوړو دولتونو د وګړو ساتنه کوي او په تأسف سره باید ووایم چي د بی وزلو او کمزورو هیوادونو خلک د دوی لپاره کوم ارزښت نلري او نه هم د هغوی د ګټو او د هیوادونو ساتنه کیږي.

نو دلته د دولت او د ډلو د فقي ترمنځ ډیر لوی توپیر رامنځته کیږي د ډلو فقه چي ده هغه یوه مغلقه فقه ده چي یواځي هغوی ته ګټه رسوي هغه داسی فقه ده چي ددغه ډلو د ګټي پرته بل څه په نظر کي نه نیسي حتی ترديٌ پوري چي دوی ځیني داسی مفتیان پخپله ډله کي نیسي چي د علم د فقي پوهي او د کلتور خاوندان هم نه وي او نه هم ارزښتونو او عقل ته پاملرنه کوي بلکي دوی داسي سرچیني او مرجع ګاني جوړي کړي دي چي د هیوادونو نظام زمونږ د عربي او اسلامي امت په خلاف ګڼي ترڅو دغه امتونه او هیوادونه له منځه یوسي او د هغوی موجودیت د خطر سره مخامخ کړي دوی ددغه هیوداونو او په ارزښتونو او همدارنګه شتمنیو باندی خیټه اچول غواړي او پدي ترڅ کي دوی زمونږ د دین رنګ بدوی چي ګویا دا د وینو او همدارنګه د وژني او د ویني د تویدني دین دی او د خپلو ځانونو څخه هغه څه لري کوي چي ګویا دوی په هیڅ ډول ګناه نده کړي او زمونږ په موجودیت او همدارنګه زمونږ خاوري او زمونږ د حیا او زمونږ د ارزښتونو سره لوبي کوي.

ټولي تندروي ډلي ځان لپاره دا خبره کوي چي ګویا دوی ددین ساتونکي دي او دوی ددي لپاره هڅه کوي ترڅو د الله جل جلاله حکم پلي کړي او د هغه شریعت نافذ کړي مونږ دلته پوښتنه کوو دغه ډلي چي کوم قتلونه وژني چاودني ویجاړونکي کارونه د ویني تویدنه او همدارنګه د خلکو په ناموسونو باندی تیري او د آزادو خلکو بندي کولو او همدارنګه د مالونو لوټول او د با امنه خلکو ویرول سرته رسوي نو آیا د الله جل جلاله په شریعت او حکم کي دا شته؟

هغه څه چې دغه تندوري ډلي سرته رسوي دا پخپله په اسلام باندي يو ډول جنايت او تيری دی ځکه د اسلام مبارک دين ته چې کومه صدمه ددغو مجرمينو او تندرو ډلو د لاسه رسيدلي ده بل هيچا د لاسه نده رسيدلی ځکه دوی د اسلام د مبارک دين رنګه د نورو په وړاندی خرابه کړي ده دا ټول د دوی د بې عقلۍ او حماقت له وجي، د تاريخ په اوږدو کي حتی د اسلام د مبارک دين دښمنانو لخوا هم دومره صدمه د اسلام مبارک دين ته نه وه رسيدلی لکه دوی چې ور رسوي.

د دولت معنی دا ده چې يو نظام موجود وي او د دولت نه شتون معنا دا ده چې هلته ګډوډي موجوده وي دولت داسی ارزښتونه لري چې په هغه باندی ولاړ وي او دولت ترهغه پوري دولت نشي کيدلای چې د هغي بنسټونه له منځه تللي وي او يا هم يو بنسټ پکي موجود نه وي چې هغه خاوره، ولس، حکومت او نظام دی.

د دولت مقصد دا دی چې د ټولو ملي ادارو د کارونو درناوی وشي او همدارنګه قانون ترټولو لوړ وګڼل شي او په ټولو باندی يو ډول پلي شي ابوبکر صديق رضي الله عنه چې کله خليفه شو نو خلکو ته يي پخپل خطاب کي داسی وويل: ای خلکو زه په تاسو باندي خليفه غوره کړی شوی يم زه په تاسو کي غوره نه يم که چيرته زه کمزوری شوم نو ماسره مرسته وکړئ او که زه ښه شوم او ښه کار مي وکړ نو هم ماسره مرسته وکړئ صداقت يو امانت دی او دروغ يو ډول خيانت دی په تاسو کي کمزوري سړی زما په نزد باندی هغه پياوړی دی ترڅو هغه ته خپل حق وروسپارم او په تاسو کي پياړی سړي زما په نزد باندی کمزوري دی ترڅو د هغه څخه د خلکو حق واخلم که د الله جل جلاله خوښه وي(١).

عمر رضي الله عنه چې کله د واک چاري په لاس کي واخيستی نو په همدي باندي يی ټينګار وکړ او خپل ځان يی پري پابند وګرځولو او خپلو ټولو کاروکونکو ته يي امر وکړ چې په همدي باندي عمل وکړي همدا وو چې ابو موسی اشعري ته چې په کوفه يي ګمارلي و داسی وليکل په مجلس کي د خلکو ترمنځ منځلاريتوب غوره کړه او خپله څيره او عدالت هغوي ته په سمه توګه ښکاره کړه ترڅو چې څوک تاته تمه پيدا نکړي او کمزوري سړی ستا ظلم څخه ونه ويريږي(٢)، همدا وو چې له هغه څخه يی خلکو ترمنځ د برابرئ غوښتنه وکړه تردي چې په کتلو او په مجلس کي د خبرو پر مهال هم دا په نظر کي ونيسي يو شخص دې په بل باندي نه مخکي کوي اګر که دا په مجلس کي هم وي او هغه ته د وړاندي کولو په وخت کي هم وي ترڅو څوک ګمان ونکړي چې د فيصلی او د قضاء په وخت کي کوم ډول اشاره نه وي رامنځته شوی.

---

(١) سيرت ابن هشام، ج4، ص240، او د عيون الأخبارکتاب د ابن قتيبه، ج2، ص234، او البدايه والنهايه کتاب د ابن کثير ج5 ص 248.

(٢) سنن دار قطني: کتاب فی الأقضية والأحکام وغير ذلک، حديث نمبر: 3924.

د دولت مقصد دا دی چې عمومي او عام کارونه په خاصو ګټو او کارونو باندي مخکي شي او هغه ګټه چې هغه پراخه وي له هغه ګټي څخه مخکي شي چې هغه پراخه نه وي او عامي ګټي باید په خاصو ګټو باندي مخکې شي نو د لارو جوړول او یا ددی په څیر نور داسی کارونه چې د عامو کارونو سره اړه لري په خاصو کارونو باندي مخکي شي اګر که د یو شخص ځمکه دوبرخي هم کیږي او یا دا چې د هغه د کور یوه برخه نړول کیږي خوپدي شرط چې هغه ته باید د هغه بدله ورکړل شي او د هغه ځای باید د عامي ګټي لپاره وکارولی شي.

په دولت باندي ځان پوهولو مقصد دا دی چې د هغې طبیعت او د هغې د رامنځته کولو مشروعیت باندي پوه شي همدارنګه د هغې د ساتني په لازموالي او پدي باندي ټینګار وکړي چې د دولت ساتنه یو د عمومي او ضروري مقصدونو د جملي څخه ګڼل کیږي چې شریعت هم ددي د ساتني غوښتنه کړې ده.

ملي دولت پدي بنسټ باندي ولاړ وي چې د شخص او دولت ترمنځ دهیوادوالی د تړون درناوي پکې کیږي او د هیواد د ټولو وګړو ترمنځ په برابري ډول سره حقونه او واجبات ویشل کیږي چې د هغوی ترمنځ هیڅ ډول توپیر نه وي او د دین رنګ نژاد جنس او د ژبي له اړخه هیڅ ډول توپیر د هغي ترمنځ ونشي خو ځیني ګمراهي او تندروي ډلي چې په دین باندي یی سوداګري پیل کړي ده نه په هیواد باندي باور لري او نه په ملي دولت باندي پدغو کې زیاتره ډلی یا دا چې په ملي دولت باندي هیڅ باور نلري او یا هم د هغوي تنظیمي او ادیالوژیکي فکر د نورو شیانوپه پرتله هغه ته غاړه ایږدي نو ددوی تنظیمي ګټي د ملي یووالي دولت او همدارنګه د هیوادنۍ ګټو څخه پراخه او پورته وي.

او د جماعت یا د ډلي فقه دا ده چې هغوی په مسایلو کې خپلي ډلي ته لاس په نامه ولاړ وي او د هغي تابعداري کوي دوی یواځې د خپلو او د خپلي ډلي د ګټو لپاره کار کوي اګر که د دولت سره په ټکر کې هم وي که چیرته د دوی د ډلي ګټه پدي کې وي چې دولت هم له منځه ولاړ شي نو هیڅ درنګ پکې نکوي او دولت د خپلي ډلي په ګټه باندي له منځه وړي او ددي برعکس د ځینو زیاترو نظریی بیا دا دي چې د دولت له منځه وړل ددوی یو بنسټ دی اود ولسونو او د مشرانو او د حاکمانو ترمنځ د بی اتفاقي رامنځته کول د دوی دنده وي دوی پدي ډګر کې په نصوصو کې تحریف راولي او یا هم نصونه سره بیلوي او تاویل پکې پداسی ډول سره رامنځته کوي چې د خپلي ګمراهي ډلي د افکارو خدمت وکړي.

هیڅ عاقل سړی چې ملي هیوادني ګټه یی نظر کي نیولي وي او خپل دین باندي په سمه توګه سره پوه شي ددی څخه به انکار ونکړي چې ددغو ډلو ټول کارونه په ظلم درواغو او همدارنګه ددین تر نامه لاندي په غلطو لارو روان دي او دوی د پخوا څخه تریخ حقیقت پریښی دی ځکه چې دوی ازغي کرلي دي او باغچي یي

له منځه وړي دي نو له همدي لپاره په مونږ ټولو باندي لازمه ده چې باید هڅه وکړو ترڅو هغه څه سم کړو چې دغو تندروو او ګمراهو ډلو فاسد کړي دي.

او دا ترهغه پوري امکان نلري چي مونږ د تنګ فکرئ څخه پراخ فکر ته ونه وځو چې په ديني فکري کلتوري اود پوهني په چارو کې يو پراخ نظر ولرو او پدي ترڅ کې خپلو ثابتو شيانو چې په دين کې شتون لري ساتنه وکړو او دبدليدنکو شيانو په طبيعت باندي ځان پوه کړو او ثابت شيان اوبدليدونکي شيان پخپلو ځايونو کې ځای په ځاي کړو او پدغه ډګر کې د ډير دقت پوهي او د واقعيتونو د طبيعت او همدارنګه حالاتو او د نويو پيښو رامنځته کيدل مراعت کړو.

**د تجربي او شوق په اساس د دولتونو اداره کول**

زیاتره خلک د هیوادونو د جوړولو او اداره کولو په مفهوم باندي نه پوهیږي همدانګه د هیوادونو په سیاستونو باندي نه رسیږي دا خو لا پریږده چې ددغه هیوادونو مشري وکړي ځیني دا ګومان کوي چې دغه چاره ډیره آسانه او د ستونزو څخه خالي ده خو په واقعیت کې داسی نده ځکه چې دا د شوق او د خواهشاتو د چوکاټونو څخه څو پړاوه وړاندي چارې دي او همدارنګه دا پرله پسی سختو تجربو یوه سلسله او چاره ده چې سرته رسیږي ځکه چې پدي ترڅ کې باید د واقعیتونو کتنه وشی او همدارنګه د هغې ننګوني معلوم کړل شي ترڅو خنډونه یی چې په وړاندي شتون لري له منځه یوړل شي او ددی سره باید چال چلند په علمي منطقي بنسټونو باندي ولاړ وي او د پرله پسي تجربو رڼاپه ترڅ کې سرته ورسیږي.

پرله پسی او بنسټیزه تجربه که څه هم یواځي یو اړخ د علم او د څیړنو له لاري لاسته راځي خو بل اړخ یی بیا د تجربي او همدارنګه د تمرینونو او د پوهي او د ذهن د خلاصی ډیر ذکاوت او د بریا څخه لاسته راځي.

پخواني علماؤ د تجربي تمرین او د پر له پسي کار په اهمیت باندي خبرې کړې دي ځینو دا د حواسو سره تړلي دي چې په شمیرو باندي د هغي راټولیدنه نشي کیدلاي خو ځیني بیا دا درک کړي خو د هغې صفت یي ندي بیان کړي آمدي رحمه الله د تجربي تمرین او د کار د اهمیت په هکله ویلي دي ته نه ګوري چې دوه اسپه د ښه نسل او اوصافو لرونکی وې اګر که په ډیرو اوصافو کې به دواړه یوشان وي او په بیلابیلو برخو کې یو ه بل سره برابرتیا ولري خوبیا هم په هغوي کې یو داسی وي چې بل باندي غوره وي او د هغې درک د تجربي پوهي او د زیرک خاوندان کولی شي همدارنګه پدي کې مونږ کولي شو چې د نورو حیواناتو په برخه کې هم همدغه بیلګې پلي کړو چې په اوښانو او همدارنګه په صناعت اود خرماوو په ډولونو کې هم کولي شو چې همدا پلي کړو.

زمونږ په اوسني عصر او زمانه کې هم همدا خبره کیدلای شي ځکه چې که چیرته مونږ او تاسی په صنعتونو او په کسبونو کې نظر وکړو نو که چیرته ته وګوري چې دوه مجسمه جوړونکي یا د نورو صنعتونو خاوندان لکه نقاشان او یا د نورو ابتکاراتو او د مهارتونو خاوندان چې یو له بل سره کارونه یی ورته والی ولري خو بیا هم که چیرته مونږد هغوي د کارونو ترمنځ فکر وکړو نو د صنعت او د هنرونو او دښایست او د ابتکاراتو په دقت کې یو له بل سره توپیر کوي چې د تجربي او د زیات تمرین کوونکي اود زیات کار کوونکو خاوندانو پرته بل څوک پري نشي پوهیدلي هغه څوک پدي باندي پوهیږي چې دغه چاره یی د څو کلنو لپاره سرته رسولی وي.

که چیرته دا مونږ په حرفوي کسبي او لاسی صنایعو کې درک کولای شو نو د یو هیواد د ادارو او د بنسټونوادارو کولو کې به ستاسو څه خیال وي؟ سره لدي چې په اوسني زمانه کې د هیوادونو په وړاندې بیلابیل ننګوني او ستونزي او مشکلات شته چې پدي کې امنیتي پوځي سیاسی اقتصادي او مسلکي ستونزي راځي چې هره ورځ ورسره مونږ او تاسی لاس او ګریوان یو.

نو دا هم د علم تجربي زیات کار او تخصص ته اړتیا لري، یواځي په شوق او خواهشاتو باندي پرمخ نه ځي، کله چې په قرانکریم او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیثو کي نظر وکړو نو ګورو چې پدي دواړو کې پدي باندي ټینګار شوی دی چې باید وړتیا امانتداري او مهارت یو ځوک ولري چې دغه چاري پرمخ بوځي لکه چي الله جل جلاله پخپل کتاب کې د یوسف علیه السلام په ژبه باندي عزیز مصر ته فرمایلي دي: (قَالَ ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ) «یوسف (ع) وویل: "د هیواد خزانې ما ته وسپاره، زه ساتونکی هم یم او عالم هم» [سُوۡرَةُ يُوسُف : 55]، همدارنګه الله جل جلاله د شعیب علیه السلام د لور په ژبه باندي چې خپل پلار ته یې د موسی علیه السلام په هکله خبری کولي داسی وویل: (قَالَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡأَمِينُ) « له هغو دوو ښځو څخه یوې خپل پلار ته وویل: "پلاره جانه، دغه سړی نوکر ونیسه؛ دی تر ټولو یوه غوره ځوک دی چې نوکر یې نیسې، ځکه چي قوی او امانتدار دی» [سُوۡرَةُ القَصَص : 26]، او کله چې ابوذر رضي الله عنه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې هغه یی په یو کار وګماري پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ای ابو ذره ته ناتوانه یی او دا یو ستر مسئولیت دي او د قیامت په ورځ شرمندګي او پښیمانتیا ده مګر د هغه چا لپاره چې دده حق یی اداء کړی وي او هغه څه یی سرته رسولي وي چې په هغه باندي وو همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدي هکله فرمایلي دي: که چیرته د چارو واګې نا اهلو ته وسپارل شول نو د قیامت د ورځي انتظار وکړئ نو لازمه ده چې د چارو واګې هغه چا ته وسپارل شي چې هغوي د وړتیا او د امانت خاوندان وي.

همدارنګه یو بل څه مونږ دلته ملاحظه کولای شو چې زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هجرت په سفر کې یو داسی ځوک د لاری د ښودنکې په توګه ونیولو چې هغه مسلمان نه وو خو هغه په وړتیا او امانتداری کې ډیر مشهوره وو او هغه په صحابه کرامو باندي اعتبار ونکړ سره لدي چې هغوی ټول د امانت خاوندان وو بی له شکه چې په هغوي کې ځیني داسی هم وو چې د هغه لاری پوره معلومات درلودل او د زیاتي وړتیا له کبله چې دغه غیر مسلمان سړي درلوده هغه یی په صحابه ؤ باندي مخکې کړ او د لاری د ښودنکې په توګه یي غوره کړ همدغه کار عمر بن خطاب رضی الله عنه هم کړی دی چې د بیت المال او د دیوانونو ځیني لیکوالان یی غیر مسلمانان وټاکل.

دلته باید دا هم مونږ درک کړو چې د واکو چارې په لاس کې اخیستل او مسولیت خپله یو ډول مکلفیت دی کوم تشریف او درناوی ندی څوک چې دیته د درناوي په سترګه وګوري او هغه ته خواهش ولري او هڅه ورپسې وکړي هغه زیاتره وخت د خپلي لارې څخه خوېږي او د هغه خواهشات یې په زړه کې اچول کیږي خو که یو څوک د هغه پوره مکلفیت اداء کړي او د مکلفیت په سترګه وګوري چې دا یو مسؤلیت دی چې هغه ته ورکړې شویدي نو الله جل جلاله به د هغه سره مرسته وکړي پدې هکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه ته وفرمایل: ته د واکې د چارې او د امارت په هکله پوښتنه او تپ تلاش مه کوه ځکه که دا چیرته تاته بغیر د پوښتنې او خواهش څخه درکړل شول نو په هغه کې تاسره مرسته کیږي او که چیرته تا ددې غوښتنه وکړه نو د هغه بیا د تاڅخه پوښتنه کیږي او دا یو ډول مکلفیت دی[۱].

خود مسئولیت او د دندي په لوړوالي سره نور هم مسئولیت زیاتیږي چې یو چاته سپارل شوي وي، کله چې د مسؤلیت چوکاټ پراخه شي نو په هغه کې نور صفتونه او ځانګړتیاوي هم وراضافه کیږي چې پدي کې وړتیا تجربه امانت او همدارنګه ددغو مسئولیتونو اود چارو د سرته رسولو توان باید دغه شخص ولري ځکه چې هر انسان د خپل نفس د خلکو او د الله په وړاندې په هغه څه کې مسؤلیت لري چې هغه ته سپارل شوی دی چې د هغه حفاظت یې کړی او که ضایع کړي دي؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم پدي هکله فرمایلي دي: هر یو په تاسو کې مسؤل دی او هر یو په تاسو کې به د خپل لاس لاندې خلکو په هکله پوښتلی شي حاکم د خپل رعیت مسؤل دی سړی د خپلي کورنۍ او ښځه د خپل د خاوند د کور او اولادونو مسؤلیت لرې نو هر یو په تاسو کې مسؤل دی او هر یو په تاسو کې به د خپل لاس لاندې خلکو په هکله پوښتلی شي[۲]، په بل حدیث کې راځي: یقینا الله جل جلاله د هر شپونکي او مسئول څخه به پوښتنه کوي په هغه څه کې چې د هغه ترلاس لاندې وو چې آیا د هغه ساتنه یې کړي او که یې ضایع کړي دي تردې چې د سړي څخه به د خپلي کورنې پوښتنه کیږي[۳].

یو عاقل او پوه سړی د مسئولیت څخه خالي نه وي که په ټولنه کې د هغه هره مرتبه وي ځکه هر شخص د خپل توان په اندازه او همدارنګه د هغه څه په چوکاټ کې چې هغه ته سپارل شوي دي مسئول دی او که چیرته په هغه څه کې چې ورته سپآرل شوي پاملرنه ونکړي اګر که ځیني ورته بیا داسې ګومان کوي

(۱) صحیح البخاری: د قسم کفاره ، د کفاره باب مخکې او وروسته د حانث کیدوڅخه، حدیث نمبر 6722.

(۲) صحیح البخاری: کتاب جمعه، باب په کلو او ښارونو کې د جمعې لمونځ، حدیث نمبر 893، سنن ابی داود: کتاب خراج، باب د ملت په وړاندې د حاکم مسؤلیت، حدیث نمبر 2930.

(۳) سنن کبرای حدیث نمبر 8833.

چې ډير ورو‌کې هم وي خو هغه به حتما زيان او ضرر له ځانه سره لري نو پدغه ډګر کې بايد خپلو چارو کې پاملرنه وشی.

او دا خبره سمه او مناسبه نده چې يو مسئول چارواکي دي اټکلي کارونه سرته رسوي او يا دا چې د يو څه پلټنه او دقت ونکړي په ټولو هغو چارو کې چې ورته سپارل شوي دي چې د هغه د مسئوليت په چوکاټ کې راځي او مونږ او تاسو ټول بايد دا درک کړو چې باور پدي معنی نده چې ته ونه لټوي او پلټنه پکې ونکړي او کار پکې سرته ونه رسوي او په يو څه کې پلټنه کول ددی معنی نلري چې يو څوک په تا باور نلري.

همدارنګه هر مسؤل بايد د خپل مسؤليت په چوکاټ کې هغه څوک د خپلو همکارانو په توګه وټاکي چې هغوی پياوړي او امانتداره وي او همدارنګه څوک چې وړتيا ولري هغه بايد غوره کړی شي که يو څوک داسی يي وټاکلو چې د هغه څخه بل څوک دغه دندي لپاره ډير وړ وي او په معنوي شکل باندي هغه دده وړتيا ولري نو دغه سړي د الله جل جلاله د هغه د رسول او د هيواد په امانت کې يي خيانت وکړ چې ورته سپارل شوي ده ځکه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم پدي هکله فرمايلي دی: څوک چې د لسو او يا دلسو څخه د زياتو کسانو مسؤأيت په غاړه ولرې نو د قيامت په ورځ به پداسي ډول سره راوستل کيږې چې دواړه لاسونه به يي په غاړه کې تړل شوی وې که چيرته هغه په دنيا کې د خپلو لاس لاندې کسانو باندې يي نيکي کړې وي نو لاسونه به يي خلاصيږې او که ګناه يي کړې وه نو همداسي تړلې پاتې کيږي[١].

نو مونږ او تاسی ټول بايد دا درک کړو چې يو ورځ به راځي چې په هغه کې به ټولو ته ويل کيږي: (وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ) « او دوی معطل کړئ، د دوی څخه پوښتنه کيږي» [الصافات: 24]. همدارنګه فرمايي: (يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ) « هغه ورځ به وي چې تاسي وړاندي کړای شئ؛ ستاسي هيڅ راز به هم پټ پرې نښودل شي» [الحاقة: 18]، هغه که وړه چاره وي او که لويه لکه چې فرمايي: (إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٖ فَتَكُن فِي صَخۡرَةٍ أَوۡ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَأۡتِ بِهَا ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ) « او لقمان وويل) زويکيه! يو شی (نېکي يا بدي) که د اوري د دانې په اندازه هم وي او په کوم لوی ګټ يا په اسمانونو يا ځمکه کې پټ شوی وي، الله به هغه راوباسي. بېشکه، الله باريك ليدونکی او باخبره دی» [لقمان: 16] .

(١) د امام احمد مسند: ج48/ ص410، حديث رقم 22960.

## د هيوادونو قيام او پرزيدنه

د بشريت او د هيوادونو په تاريخ کې د انتقالي پړاونو څخه بل څه ډېر خطرناک ندي، تردي چې زياتره ځيږونکو پدي هکله تيزيسونه ليکلي دي چې څنګه هيوادونه رامنځته کيږي او ځيني نور بيا څنګه له منځه ځي او پدې برخه کې يي نظري او تطبيقي بيلګي وړاندي کړي دي، تل حقيقي خطر په يو هيواد باندي د بهر څخه نه راځي ځومره چې زيات خطر خپله د هيواد څخه دننه رامنځته کيږي چې ځيني د هيواد وګړي يا خيانت کوي او يا جاسوسي کوي او يا هم د بل چا لپاره کار کوي ترڅو خپل هيوادونه له منځه يوسي او يا هم پخپله هيوادوال دننه په هيواد کې د سمي لاري څخه د انحراف سرکشي او د تکبر لاره غوره کوي چې په ترڅ کې هيوادونه له منځه ځي الله جل جلاله پدي هکله فرمايي: (وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا) ژباړه: « او کله چې موږ د کومي سيمي د هلاک کولو اراده کوو، نو د هغې بډايانو ته حکم کوو، خو هغوی په نافرمانيو لاس پوري کوي، هله نو پر هغې سيمي د عذاب فېصله تطبيقيږي او موږ هغه بيخي تباه کوو» [الإسراء: 16]، په بل آيات کې فرمايي: (فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ) ژباړه: « د عاديانو حال دا ؤ چې هغوی په ځمکه کښي په ناحقه تکبر وکړ او ويې ويل: «زموږ څخه زيات زورور څوك دي؟!» - هغوی دا فکر ونه کړ چې کوم خدای چې هغوی پيدا کړي دي، هغه له دوی څخه زيات زورور دی؟ - هغوی زموږ د ايتونو څخه انکار کاوه» [فصلت: 15]، او الله تعالی د صالح عليه السلام د قوم په هکله داسې فرمايلي: (وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيۡنَٰهُمۡ فَٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡعَمَىٰ عَلَى ٱلۡهُدَىٰ فَأَخَذَتۡهُمۡ صَٰعِقَةُ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡهُونِ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ) ژباړه: « پاتي شول ثموديان، هغو ته موږ سمه لاره وړاندي کړه، خو د لاري لېدلو پر ځای يې(د ګمراهۍ) ړوند توب غوره کړ. په پای کښي د هغو د عملونو له امله د ذلت سخت لړزوونکی عذاب وربانـدي راوغورځېدی» [فصلت: 17] ، او د لوط عليه السلام د قوم په هکله داسې فرمايلي: (وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ٨٠ إِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةٗ مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ٨١ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخۡرِجُوهُم مِّن قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ٨٢ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ٨٣ وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ) ژباړه: «(او موږ لوط عليه السلام د پيغمبر په حيث ولېږه، نو ياد کړه) کله چې هغه خپل قوم ته وويل: "ايا تاسي داسي بې حيا شوي ياست چې هغه شرمناك کار (لواطت) کوئ چې ستاسي څخه مخکي په نړۍ کښي هيچا نه دی کړی؟، تاسي ښځي پرېږدئ، له نارينه ؤ سره خپله غريزه مړوئ. حقيقت دا دی چې تاسي بيخي له حده تېرېدونکي خلك ياست، خو د هغه د قوم ځواب له دې پرته

بل څه نه ؤ چي: "دا خلك (لوط او د هغه پيروان) له خپلو كليو څخه وباسئ، دوی ډېر ځان پاكوونكي خلك دي،  په پای كښي موږ لوط (ع) او د هغه كورنی، د هغه له مېرمني څخه پرته (چي له شا ته پاتي كېدونكو څخه وه)، روغ رمټ ويستل، او پر هغه قوم مو يو  (د شګو) باران ووراوه. نو وګوره چي د هغو مجرمانو څه عاقبت شو» [الأعراف: 80-84].

نو په ښه ډول د حكومت چاري پرمخ وړل داسي وي چي دغه چارې په عدالت باندي ولاړ وي ځكه چي الله جل جلاله هغه دولت ته بريا وركوي چي عدالت پكي وي اګر كه د كافرانو په لاس كي هم وي او د ظالم دولت مرسته هيڅكله نكوي اګر كه د واک چاري د مومنـانو پـه لاس كـې هـم وي، همدرانګـه ښـه حكومتولی پـه ارزښتونو او اخلاقو باندي ولاړ وي ځكه چې ملتونه او تمدنونه چې په ارزښتونو او په اخلاقو باندي ولاړ نه وي هغوی پخپله د خپلي ويجاړئ لپاره خپل بنياد او بنسټ لـه منځـه وړي لكه چې الله جل جلالـه فرمايي: (سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا) دا د الله كړنلاره ده چي لـه پخوا څخه را روانه ده؛ او ته به د الله په كړنلاره كښي هيڅ بدلون ونـه مومې» [الفتح: 23].

ځينو څېړونكو د هيوادونو په هكله ليكني كړي دي او د هيوادونو د برقرارئ لاملونه يی بيان كړي او ځينو نورو بيا د هيوادونود لـه منځـه وړني او د ويجاړئ لاملونـه بيـان كـړي دي ځينـي څېړونكـو هغـه مهمـي چـاري بيـان كـړې دې چې هيوادونه پري له منځه ځي چې ځينې يي په لاندې ډول دې:

لومړئ: په بيلالو ډولونو باندي د فساد خپراوي چې پدي كې چاپلوسي رشوت او همدارنګه په ضوابطو باندي د روابطو مخكيوالی او ځيني نوري بيلګي راځي ځكه چې خلک پخپل ژوند كې د بل هيڅ څيز څخه ډير نـه كړيږي څومره چې د فساد او همدارنګه د بـی عدالتي څخـه كړيږي نـو د همدي لپاره هر حاكم تـه دا لازمه ده چې په ټولو شكلونو د فساد مخنيوي وكړي، زما په آند مونږ اوس په يو ثابت قدم باندي روان شوي يو چې زمونږ پـه اوسني واقعيتونـو كـي چې مصر ورسره مخامخ دی يوښه او لوی ځای لاسته راوړی دی چې د فساد مخنيوي لپاره يی كارونه سرته رسولي دي او شفافيت يی په ټولو چارو كې رامنځته كړی دی.

دوهم: د ظلم خپراوی او بې عدالتي، برابره خبره ده چې د وګړو په كچه وي چې پدي كې د امنيت او د عادلي قضا او د عدالت نه شتون دی چې خلک نشي كولاي په برابر ډول سره خپلي چاری اداء كړي او يا هم د يو طبقي پـه كچـه بانـدي وي چې د بی وزلو او مسكينانو باندي ظلم سرته رسيږي او هغوی د ټولني څخه لري كيږي او پاملرنه ورته نكيږي او په سپكه سترګه ورته كتل كيږي.

نو د همدي لپاره ټولي رسمي ټولنيزي اود ملي يووالي اداري بايد د هغو طبقو د ساتني لپاره كار وكړي چې هغه ډيرې بې وزله وي او هغوي لپاره ټولنيز پاملرنه او بشپړ ټولنيز نظام رامنځته كړي چې په ديني هيوادنى بنسټونو باندي ولاړ وي ځكه چې دين او هيواد دواړه ددى غوښتنه كوي چې بايد يو په بل باندي رحم او يو له بل سره مرسته وشي ځكه چې مونږ ټول په يوه كښتى كې يو، هيڅ څوک نشي كولاى چې خپل ځان په كښتى كې وژغوري لكه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم پدي هكله پخپلو بيلابيلو احاديثو كې ټينګار كړى چې ټول په همدې باندې دلالت كوې.

دريم: د امنيت نه شتون او د دولت د قوو كمزورتيا او د ډلو او ټپلو رامنځته كيدل چې په زوره سره په ټولنه باندي خپل واک فرض كړي او يا هم ځيني هيوادوال د ظلمونو له كبله دولت ته غاړه نه ايږدي، نو د همدي لپاره د پوځي ادارو او د امنيتي ادارو سره بايد مرسته وكړو او ټول هغه خطرونه له منځه يوسو چې د داخل او بهر څخه هيواد ورسره لاس او ګريوان وي دا پخپله شرعي او هيوادني وجيبه ده او د هيوادوال امنيت او د هغه د كرامت ساتنه بايد د هر نظام لومړيتوب وي چې په ترڅ كې برقراري او هيوادني مينه او هيواد ته غاړه ايښودنه رامنځته كيدلى شي.

څلورم: د ارزښتونو له منځه تلل، ځكه هغه ملتونه چې په ارزښتونواو په اخلاقو باندي ولاړ نه وي هغوي د خپلي ويجاړى لپاره خپل بنسټونه خپله لمنځه وړي دي همدارنګه تمدنونه هم كه په اخلاقو او ارزښتونو باندي ولاړ نه وي هغه هم ضعيفه كيږي او ددغه چارو مخنيوي علماء مفكرين فيلسوفان او د ارزښتونو ساتونكي كولى شي نو د همدي لپاره لازمه ده چې د هغوي ښه پاملرنه وشي او په ښه ډول سره ددى وړتيا پيدا كړي چې دغه سخت او لويه دنده پخپله غاړه باندي واخلي چې مونږ پخپله مصر كې اوس ددغو چارو لپاره كار كوو ترڅو دا رامنځته كړو.

پنځم: د وګړو د ژوند چارى د ننګونو سره مخامخ وي او د هغوى بنسټيزي اړتياوي نه پوره كيږي، وګړي هم بايد د هغه ننګونو او حالاتو ته پاملرنه وكړي چې خپل هيوادونه يې وربانديي تيريږي مونږ بايد دلته ددي يادونه وكړو چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم صحابه ؤ په اقتصادي محاصري باندي چې په دوى راغلي وو صبر كړي وو تردى چې د بوټو پاڼي يې خوړلي ځكه چې ډيره سخته لوږه پرى راغلي وه نو د همدي لپاره مونږ ټول ديته اړتيا لرو چې د محاصري ټول ډولونه او د تنګسيا د ماتولو لپاره كار وكړو او پدغه ډګركې كار وكړو او توليدات رامنځته كړو او هڅه وكړو او د ټولنيز نظام او د بى وزلو سره د مرستي لپاره لاس سره يو كړو او د هغه چا مخنيوي وكړو چې هغوى اسراف او احتكار كوي اوپه ښه ډول سره بايد چارى پرمخ يوسو مونږ ديته اړتيا لرو چې بغير د

سترتیا څخه کار وکړو او بغیر د اسراف څخه خرچ وکړو او د ټولني د ټولو وگړو ترمنځ باید د یووالي او یو په بل باندي د مرستي کار وکړو ترڅو ټول خوندي ځاي ته ځان ورسوو بی له شکه چې ملي سوداگر او مدني ټولني او اداري پدي کې ډیر مهم رول لري چې برابرتیا رامنځته کړي او د اړمندو خلکو بنسټیزي اړتیاوي پوره کړي.

## د هیوادونو د اقتصادی پرزښت خطرونه

هیوادونه کله هم د بهر څخه او کله هم د داخل څخه له منځه ځي د داخل څخه د هیوادونو پرزښت د بهر څخه په له منځه تللو د خطرونو څخه کم ندي بلکې د داخل څخه د هیوادونو د لمنځه تللو خطر له بهر څخه ډیر دی.

بهرنی دښمن خو ښکاره دښمن وي او ولسونه هم زیاتره د هغه په وړاندي یو موټی کیږي ځکه چې هغه دشمن معلوم وي او نسلونه نسلونه د هغوی په مقابل کې ودریږي او آسانتیا ورسره نکوي او دا چې د جګړي وسیلي او لاری زیاتي شوي او پرمختګ پکې راغلي نو ولسونه هم د هغوی په مقابل کې ودریږي خو د داخل څخه د هیوادونو د له منځه تللو هڅه ډیره زیاته خطرناکه او د چال او فریب څخه ډکه وي برابره خبره ده چې دا پرزښت د بهرنیو لاملونو له کبله وي او که د داخلي لاملونو له کبله او یا هم دواړه یو ځاي سره مل وي همدارنګه هیوادونه ددی کبله هم له منځه ځي چې په هغه کې د ډلو ټپلو مذهبي ډلو او یا هم نژادي ډلو او قبایلي او قومي ډلو رامنځته کیدل او بی اتفاقی رامنځته شي خو کله کله دا هم تر یو حده پوري څرګند وي او زیاتره هیوادونو ددی د خطر څخه لا د مخه خبریږي او ددی د مخنیوي لپاره هڅه کوي او هڅه کوي ددي د مخه چې دغه فتنه رامنځته شي له منځه یوسي.

ددی ترڅنګ د دروغو او د بی بنسټه اوازو خپرول چې موخه یی د ملي شخصیتونو سپکاوي اوهمدارنګه د ټولو پرمختګونو په وړاندي خنډونو جوړول او ځیني وړي وړي پلمي غټول او ددغه دروغو چل او فریب له لاری د ناهیلي او د انسانانو په نفسونو کې د ویري او د ناکامی احساس رامنځته کول چې موخه یی یواځي دا وي چې ترڅو د خپلو هیوادونو په ضد باندي راپاځیږي او د هغوي د احساس څخه ناوړه ګټه پورته کړي او د هغه کارونو مخنیوي وکړي چې د هیوادونو د ودي لپاره روان وي.

خو ددی ټولو مخنیوي په هغه صورت کې کیدلی شي چې یو هیواد پیاوړي اقتصاد ولري او وکولاي شي چې خپل سیمه ایز او نړیوال اړتیاوي پوره کړي او د خپلو هیوادوالو لپاره یو باعزته ژوند رامنځته کړي او که چیرته اقتصاد کمزوري وي نو د دښمنانو په وړاندي به هم ددی فرصت زیات وي چې د هیواد د نظام د له منځه وړلو لپاره کار وکړي او په هیواد کې دننه داسی ګډوډي جوړی کړي چې په هیواد کې نظام له منځه ولاړ شي.

نود همدي لپاره لازمه ده چې مونږ پخپل ځان باندي تکیه وکړو او تولیدات زیات کړو او په مصارفو کې د احتیاط څخه کار واخلو همدا خبره اقتصاد پوهان هم کوي او د ادیانو لاربښوني هم ددي هڅونه کوي د الله جل جلاله پدغه وینا کې هم دغه خبره ګورو چې د یوسف علیه السلام په ژبه باندي یی فرمایلي دي: (قَالَ

تَزۡرَعُونَ سَبۡعَ سِنِينَ دَأَبٗا فَمَا حَصَدتُّمۡ فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّا تَأۡكُلُونَ) «یوسف (ع) وویل: "تر اوو کلونو پوري به تاسي د کروندو د کښتونو په کرکیله بوخت شئ. په دې دوران کې چې تاسي کوم کښتونه لو کړل، له هغو څخه یوازي لږ غوندي برخه چي ستاسي د خوراك لپاره په درد خوري، راوباسئ او نور پخپلو وږو کښي پرېږدئ» [یوسف: 47]، پدې کې د تولیداتو زیاتوالي ته اشاره او غوښتنه شویده چې باید ښه دول کارونه سرته ورسیږي او د مصارفو لپاره هم باید یو ښه پلان موجود وي چې ترڅو وکولای شو په ښه دول سره مصارف ترسره کړو همدارنګه الله جل جلاله فرمایي:« إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّا تَأۡكُلُونَ» ژباړه: « یوازي لږ غوندي برخه چي ستاسي د خوراك لپاره په درد خوري»، او داسی یی ندي ویلي مګر هغه څوک چې خوراک نکوي.

تولیداتو ته د غوښتنو په لړ کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم فرمایلي دي: که چیرته په تاسو باندي قیامت هم راځي او دیو چا په لاس کې یو بوټي وي نو هغه دي وکري[١]، او په ښه دول د مصارفو ته د دعوت اود غوښتني په لړ کې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بنی آدم د خیټي څخه بل کوم لوخی ندی ډک کړی چې ډیر بد وي بنی آدم باید دومره وخوري چې ځان وساتلی شي که اړ شو چې له هغې زیات وخوري نو یوه برخه دي خوړو ته ځانګړی کړې بله برخه دي اوبو ته او بله برخه هم د خپل نفس لپاره[٢].

نو د هیوادونو د اقتصاد د ښه والي اود اقتصادي پرزښت د لمنځه وړلو لپاره باید لاندي بنستونه په نظر کې ونیولي شي.

لومړی : د تولیداتو زیاتوالي، یواځي د تولیداتی زیاتوالي نه بلکي په ښه دول سره د تولیداتو وده او په هغه کې د ابتکاراتو او د نوښتونو رامنځته کول اوهمدارنګه هغو دګرونو ته داخلیدل چې هغه ډیر عاید ولري او ښه اقتصادي وده رامنځته کړی.

دوهم: په دول سره مصرف کول دا یواځي د خوړو او څخښاک پوري اړه نلري بلکي د ټولو اقتصادي اړخونو پوري اړه لري چې پدي کې اوبه بریښنا ګاز او همدارنګه ټول هغه وسایل راځي چې د ژوند په چارو کې سرته رسوو.

دریم: د خپل هیواد په وړاندي ټول هغه کارونه چې ته مخامخ کیږي په هغه باندي وفا او پوره والی کول او په بل چا باندي د تکیه کولو څخه ځآن ژغورل او همدارنګه داسی هڅه باید ترسره نشي چې خدمتونه تاته وړاندي کیږي او په مقابل کې ته هیڅ کار نکوي او یا داچې د دولت له لوري خدمتونه ترلاسه کوي خو د

---

(١) د امام احمد مسند ج27، ص 273.

(٢) سنن ترمذی: کتاب زهد، باب احادیث د زیاد خوړلو په بد والي کې ، حدیث نمبره 2554.

هغی حقیقي ارزښت نه پوره کوي بلکي د هغی د ارزښت د پوره کولو لپاره باید کار وکړی.

مونږ پدي باندي ټینګار کوو چي د ټولنیز نظام د ساتني لپاره او د دغه پروګرامونو د ترسره کولو لپاره دغه کارونه سرته ورسیږي او همدارنګه دغه پروګرامونو له لاری مونږ هغو مستحقو کسانو ته لاسرسی ولرو چې هغوي پاملرني ته ډیره اړتیا لري او ټول باید دیني اخلاقي ارزښتونه په ځان کې راولي او ددی هڅه وکړي چې دغه پروګرامونه هغه چاته وړاندي شي چې ددي مستحق وي نه هغه چاته چې ددي مستحق نه وي او ورته وړاندی کیږي.

څلورم: دا باید درک کړو چې د خدمتونو رامنځته کول او د دولت له لوري خلکو ته وړاندي کول یو ډول خدمت دی چې تاته وړاندي کیږي او د هغي په مقابل کې باید کار وکړي او لویه ستونزه دا ده چې ځیني هیوادونه ددي توان نلري چې بنسټیز خدمتونه خپلو هیوادونو ته وړاندي کړي ځکه چې په خدمتونو کې هم ډیر پراخوالي راغلي او ځیني خلک نه غواړي چې د خدمتونو په مقابل کې هغه څه اداء کړي چې وربادي لازمي دي نو له همدي لپاره ددغه خدمتونو د دواموالي لپاره باید مونږ د هغه په مقابل کې هغه څه چې په مونږ لازمي دي هغه اداء کړو.

که چیرته مونږ د بریښنا نمونه او بیلګه وړاندی کړو په مونږ باندي سخت حالات تیر شو چې بریښنا به تله او په دغه خدمتونو کې کمښت راغلی وو چې دا پخپله ناوړه اغیزه کوي او د هیوادونو په اقتصاد باندي ناوړه سیوري غوړوي او همدارنګه په نفس وخت کې د هیوادوالو په نفسونو کې هم یو ډول کرکه رامنځته کیږي خو د بریښنا وزارت تر هغه پوري ددی توانمندي نلري چې ښه خدمتونه وړاندي کړي ترڅو پوري هیوادوال هم هغه څه اداء نکړي چې وربادي لازمي دي چې هغه د بریښنا په مقابل کې پیسی ورکول دي ترڅو وزارت وکولاي شي چې خپلو شریکانو سره په ګډه پدغه برخه کې وده اوپرمختګ رامنځته کړي او خپل هغه مصرفونه او غوښتني پرځاي کړي چې دبریښنایي ستیشنونو د جوړولو او رامنځته کولو په لاره کې سرته رسوي او همدارنګه پدغه برخه کې نوي ستیشنونه جوړ کړي او د هغه لپاره باید د سون مواد برابر کړي او که چیرته پخپل وخت باندي د بریښنا په مقابل کې پیسی ورکړل شي نو وزارت به بی له شکه خپلو خدمتونو ته ادامه ورکړي او پرمختګ به پکي راولي همداسی د ریل ګاډي او مترو اوځیني نور خدمتونه چې وړاندي کیږي همدا بیلګه لري.

د خدمتونو د پیسو د ورکړي څخه تختي او همیشه هڅه کوي چې خپل ځانګړي ګټي په عامو ګټو باندي مخته کړي نو دا دیني ارزښتونو او بنسټونو او اقتصادي نظامونو سره په ټکر کې دي او دا پخپله ددی لامل کیږي چې اقتصادي حالت د

هيوادونو له منځه ولاړ شي او له کبله يې دغه هيواد د ناکامي سره مخامخ شي همدارنګه ځيني داسې ډلي شته چې هغه ګمراهي ډلي دي او شپه او ورځ هڅه کوي چې ددغه خدمتونو په مقابل کې خپلو وجايبو د اداء کولو څخه خلک بې لارې کړي او موخه يې همدا وي ترڅو دولت داسې خلکو ته وښايي چې ګويا ناکامي سره مخامخ شوي او نشي کولای چې د خلکو بنسټيزي چاري پرمخ يوسي او له کبله يې خلک ديته هڅوي چې په واکمنانو باندي پاڅون وکړي ترڅو دوی وکولاي شي د واکې چاری په لاس کې واخلي اګر که دا لامل هم کيږي چې هيوادونه له منځه ولاړ شي او ټوټه شي او چاري يې ختم شي دوی په اصل کې هيوادني مينه او باور نلري او نه هم د هيواد د رامنځته کيدو لپاره کار کوي د دوی دولت هماغلته دي چې چيرته د دويب ګټي او د دوی د ډلو ګټي په هغه کې نغښتي وي.

## د هیوادونو ساتنه د شریعت د ضروري مقصدونو څخه دي

بې له شکه هیوادنۍ مینه او د هغې ساتنه یو انساني فطرت دی چې شریعت ورباندې ټینګار کړی؛ نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې کله د مکې مکرمې څخه وتلو نو مکې ته یې په خطاب کې وویل: قسم په الله چې ته د الله تعالی په خاوره کې غوره خاوره یې او الله تعالی ته ډیر محبوب یې که چیرته زه له تا څخه ویستل شوی نه وای زه به هیڅکله نه وتلم[١]؛ او کله چې هغه صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ او هلته یې د خپل ځان او صحابه کرامو لپاره دولت رامنځته کړ نو هغه وطن ئي هیر نکړ چې ورڅخه راغلی وو او نه یې هغه وطن هیر کړ چې ورته راغلی وو؛ لکه چې فرمایي: ای الله مونږ ته د مدینې منورې مینه د مکې مکرمې او د هغې څخه زیاته مینه په زړونو کې واچوه ای خدایا زمونږ په تلو کې برکت واچوه الخ[٢].

د أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې کله د سفر څخه راستون شو نو د مدینې منورې دیوالونو ته به یې لیدل او خپل کاروان به یې ورباندې تیرولو او که په سوارلۍ باندې به سپور وو نو هغې ته به یې په چټکۍ سره یې مدیني لوري ته حرکت ورکولو[٣]؛ او نبي کریم صلی الله علیه وسلم همیشه خپل مخ اسمان لوري ته ګرځولو پدې هیله چې الله تعالی د هغه قبله مکې مکرمې او بیت الله شریف لوري ته وګرځوي تر دې چې الله تعالی یې دعا قبوله کړه لکه چې الله تعالی فرمایي: (قَدۡ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجۡهِكَ فِي ٱلسَّمَآءِۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبۡلَةٗ تَرۡضَىٰهَاۚ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ وَحَيۡثُ مَا كُنتُمۡ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ) «د اسمان لوري ته ستا بیا بیا مخ اووښتل مونږ وینو، دا دی مونږ تا د هغې قبلې (کعبې) لوري ته ګرځوو چې ستا خوښیږي، د مسجد الحرام لوري ته مخ وګرځوه! اوس چې تاسې هر چیري اوسی؛ نو د هماغه لوري ته مخ واړوئ؛ لمونځ وکړئ. کومو خلکو ته چې کتاب ورکړ شویدی، ښه پوهیږي چې (د قبلې بدلېدو ) دا امر د هغو د رب له خوا او حق دی، خو له دې سره سره چې دوی څه کوي، الله ور څخه ناخبره نه دی» [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 144]، نو همدا وو چې الله تعالی ورباندې اکرام وکړ او قبله یې بیت الله شریف لورته وګرځوله هغه لومړنۍ کور چې د خلکو لپاره د ځمکې پر مخ ایښودل شوی وو او نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دغه کور ترڅنګ لوی شوی وو چې قلبا او عقلا یې ورسره تړاو درلود.

---

(١) سنن ترمذی: کتاب مناقب، باب فضیلت مکه، حدیث نمبره 4304.

(٢) صحیح البخاری: د مدینی د فضایلو کتاب، باب د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مدیني خالي پریښودلو بد ګڼل، حدیث نمبره 1889.

(٣) صحیح البخاری: ، د مدینی د فضایلو کتاب ، باب مدینه خباثت دفع کوي، حدیث نمبره 1886.

حافظ ذهبي رحمه الله د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د خوښې شيان او ډولونه بيان كړي فرمائي هغه صلى الله عليه وسلم حضرت عايشې رضي الله عنها او د هغي د پلار سره او اسامه رضي الله تعالى عنه سره مينه درلوده، خواږه شيان او شات يي خوښيدل د احد د غره او د خپل هيواد سره ئي مينه درلودله[١].

عبدالملک بن قريب الأصمعي فرمايي كه چيرته غواړي د يو سړي وفا داري او د هغه د عهد او تړون وفا داري وپيژني نو د هغه مينه وګوره چې د خپل هيواد سره لري او د هغه مينه د خپلې كورنۍ سره دا خبره په يو بانډه چي هم نقل كړې ده[٢].

زمونږ د نوښت د طرحې چوكاټ پدي ډول دى چې هر څه پخپل ځاى كې كيښودل شي د ثابتو او بدليدونكې چارو ترمنځ توپير وشي د اشخاصو او د بشري نظرياتو څخه سپيڅلتيا ليري كړى شي په هغه صورت كې چې د سپيڅلتيا وړ نه وي او پدې ډول سپيڅلتيا يواځې الهي ذات پوري وتړل شي چې كتاب الله او احاديثو پوري يواځې وتړل شي او د نصونو لوستنه هم بايد د زماني د غوښتنو سره سم ترسره شي پداسي ډول لوستنه چې د تقليد حفظ د چوكاټ څخه بهر شو او د پوهي چوكاټ ته داخل شو فكر سوچ وكړو او د اوسني زماني د غوښتنو سره سم اجتهاد ترسره كړو دغه عام او ضروري مقصدونه چې مونږ يي بيانوو كلي مقاصد هم ورته ويلاى شو.

دغه فكر ددي لامل شو چې د ملي دولت د مسألي او مشروعيت دبيان لپاره پاملرنه وكړم ځكه ځيني داسې تندروي ډلې شته چې د هيواد د درناوي څخه انكار كوي او هڅه كوي ترڅو خلک ديته وهڅوي چې د دين او دولت ترمنځ واټن پيدا كړي او دوى ته داسې فكر وركوي چې ګواكې دين او دولت يو له بل سره په ټكر كې دي؛ خو په واقعيت كې داسې نده ځكه ددين لپاره اړينه ده چې دولت موجود وي ترڅو د هغه ساتنه وكړي او د هغي بيرغ پورته وساتي فقهاوو فيصله كړې ده چې كه چيرته دښمن د مسلمانانو په هيوادونو كې كوم هيواد ته داخل شي نو ددښمن مخه نيول او جهاد په هيواد والو باندې فرض ګرځي چې پدې كې سړي ښځې لوى واړه زورور كمزورى وسله لرونكى او غير وسله لرونكى ټولو باندې د خپل توان په اندازه فرض ګرځي اګر كه ټول له منځه ولاړ هم شي؛ نو له همدې ځاى څخه معلوميږي چې كه چيرته د هيواد او د خاورې ساتنه د شريعت د مقاصدو څخه مهم مقصد نه واى نو خلكو ته به يي ويلي وو چې د خپل ځان او د دين ساتنه وكړي او هيوادونه همداسې پريږدي خو داسې نده.

---

(١)كتاب سير اعلام النبلاء د ذهبي: 15/ 394 معرفي نمبره 216، چاپ: موسسه الرسالة، بيروت.

(٢)كتاب العقد الفريد: 31/4، چاپ: دار الكتب العلمية، بيرون، لبنان.

او د شریعت دغه کلیات او مقاصد چې ما د شمیر او ترتیب له اړخه ولیدل نو پوه شوم چې دا نه د قرآن آیات دی او نه هم احادیث دي بلکې د علماوو رایي او اجتهادات دي چې د ضروري شیانو د ساتنې په برخه کې یې وړاندې کړي.

دا چې د هیواد ساتنه او د دولت د جوړښت اهمیت د هغو کلیاتو څخه کم ندی چې علماوو بیان کړي. ځکه داسې هیڅ عاقل او هیوادپال شخصیت به دیته چمتو نه وي چې هیواد د خپل ځان او مال د ساتنې لپاره قرباني کړي نو همدا ده چې مونږ وایو د خاورې او د هیواد ساتنه هم باید ددغه کلیاتو په کتار کې راشي ځانگړي توگه په اوسني وخت کې چې زموږ هېوادونه په نښه کیږي او د ټوټې ټوټې کیدو هڅي کیږي نو په پوره ډاډ سره مونږ وایو چې کلیات باید شپږ وي چې د دین هیواد نفس عقل مال او د حیا یا د نسب او یا هم د نسل ساتنه ده.

دا چې د هیوادونو ساتنه د یو دولت پرته ممکن ندی ځکه همدا دولت دی چې د هیواد ساتنه کوي نو د دولت ساتنه هم په لزومي ډول پدغه کلي مقاصدو کې راځي ځکه یوه قاعده ده وایي چې یو واجب د یو بل کار سره تړلی وي نو هغه کار هم واجب گرځي نو هیواد هم ددولت سره تړلی دی نو پدې سره ویلای شو چې د هیوادونو ویجاړي او له منځه وړل ددغه کلي او عمومي مقاصدو سره په ټکر کې راځي.

## واک د تندروو ډلو له نظره

د تندروو ډلو له نظره او د هغو په ایډیالوجې کې واک یو هدف ګرځیدلی نه وسیله د دغو تندرو ډلو فکر پدې باندي راڅرخي چې څنګه وکړی شي واک ترلاسه کړي او که داسی نه وي نو د حاکمو نظامونو د لمنځه وړلو لپاره ویجاړي رامنځته کوي او پدې لاره کې دوی هرڅه ځانته روا بولي نو هر هغه څه چې دغه هدف ته دوی رسوي هغه ترسره کوي اګر که دا ددې لامل هم کيږي چې د خلکو ويني توي شي او با امنه خلک نا امنه شي او هیوادونه له منځه ولاړ شي یا هم ټوټې ټوټې شي یا هم ویجاړ شي او یا هم موجویت یی د خطر سره مخامخ شي نو د همدې لپاره ددغو ډلو څخه هیڅ د خیر توقوع نه کيږي چې د خپلو هیوادونو ته ورسوي بلکې دوی همیشه د شر رامنځته کونکي دي هر چیرته چې ولاړ شي شر هم له ځانه سره وړي دوی د خپل ځان پرته بل چا باندي باور نلري نه په هیواد او نه هم په هیوادوالی باندي دوی همیشه دیته چمتو والی لري چې د دښمن سره یو ځای شي اګر که د نړیوال صهونيزم او د شیطان سره هم وي خو چې ددوی سره پدې کې مرسته وکړي چې واک ترلاسه کړي او هغه څه ورته ترلاسه کړي چې دوی امید او هیله لري دوی پدغه ډګر کې جاسوسي او خیانت هم کوي او پدغه لاره کې د واک د ترلاسه کولو لپاره دوی هرڅه ته چمتو والی لري او ټولو دنیاوي چارو ته ددین نوم ورکوي او عامو او ناپوهو خلکوته دا وهم ورکوي چې ګویا دوی د خپلو دیني چارو د سرته رسولو لپاره دا کارونه سرته رسوي او حال دا چې ټول ادیان ددوی ددغه ډول کارونو څخه بیزاره دي او ادیان ټول ددغه ډول جاسوسي خیانت او د کفري ټاپي لګوني څخه ډیر لري دي.

خپلو دغو موخو ته د رسیدو لپاره بیلابیلي لاري لټوي ځیني وخت دوی وایي چې حاکمان د الله جل جلاله په شریعت باندي حکم نه کوي خو چې کله ددغو ډلو سره ته بحث وکړي او د الله جل جلاله د شریعت د مفهوم په هکله تري پوښتنه وکړي نو دوی بیا په هیڅ هم نه پوهیږي دغه خبری مونږ په ښکاره ډول سره پخپلو دوو کتابونو کې چې یو یی دی لازمه ده چې مفاهیم سم کړای شي او بل کتاب هم د ترهګرو ګمراهي او د ترهګرو د له منځه وړلو په نامه دي د مصر د اوقافو د وزارت له لوري چاپ کړی شوي دي چې زمونږ تر سرپرستي او تر مراجعه لاندي تیر شوي دي[1]، مونږ پدغو کې پدې باندي ټینګارر کړي دی چې د الله جل جلاله له لوري نازل شوي شریعت باندي پابندي کول ددی څخه انسانان نه منع کوي چې هغه قوانینو ته غاړه کيږدي چې دغه قوانین د عام شریعت او د عمومي قواعدو په چوکاټ کې ایښودل شوي وي چې د زماني اود ځای په بدلیدو سره دا هم بدلیږي او دغو قوانینو ته غاړه ایښودل پدې معنی ندي چې د الله جل جلاله د

(١) ددي په هکله لاندي کتابونو ته مراجعه وکړئ: "مفاهيم يجب أن يصحح" چاپ: د اسلامي چارو عالی شورا، ص ٢٩ او له هغي وروسته، چاپ ١٤٤٠هـ/ ٢٠١٩م. اوو کتاب: "ضلالات الإرهابيين وتفنيدها" ص٧-٣٢، چاپ" د اسلامي چارو عالی شورا ١٤٣٨هـ/ ٢٠١٧م.

شریعت مخالفت دی وکړ تر هغه وخته پوري چې پدغه قوانینو کې د هیوادونو ولسونو وګړو او د ټولنو لپاره خیر او ښیګڼه موجوده وي او هغه څه یی حلال کړي نه وي چې شریعت حرام کړي او هغه څه یی حرام کړي نه وي چې شریعت حلال کړي دي او ترهغه وخته پوري چې دغه قوانین د شریعت د ثابتو کارونو سره په ټکر کې نه وي.

مونږ پدي باندي ټینګار کوو چې د اسلام مبارک دین د حکم اونظام لپاره یو جامد چوکاټ ندی ایښي چې د هغه څخه مونږ ونکړی شو بهر ووځو بلکې ددی لپاره یی بنسټونه او نظامونه ایښي دي کله چې دغه معیارونه او بنسټونه رامنځته شي نو دا پدي معنی ده چې داسی یو نظام رامنځته شوی دی چې د اسلام مبارک دین د هغه اقرار کوي او چې کله دا لمنځه ولاړ شي نو په حکم کې ګډوډي او خلل رامنځته کیږي.

ترټولو مهم بنسټ چې د اسلام مبارک دین ایښي دی د هر نظام لپاره باید هغه پلي کړی شي هغه دا دی چې د هیوادونو او د خلکو ګټي پکې خوندي وي او د همدي لپاره کار وکړی شي او هڅه وکړي شي نو هر هغه نظام چې په هغه کې د هیوادنو او د خلکو ګټي خوندي وي او په هغه کې د عدالت برابروالي آزادي بنسټونه رامنځته شوي وي چې پکې ګډوډي او طرفداري او همدارنګه تخصص او پوهه پکې مراعت کړی شوي وي نو همدي ته مونږ ښه نظام او حکم ویلي شو.

ددغو عمومي بنسټ لاندي بیلابیل نور موخي شته چې موخه یی همدا ده چې باید عدالت په ټولو برخو کې رامنځته شي چې پدي کې سیاسي ټولنیز قضایي عدالت راځي د خلکو ترمنځ باید رنګ جنس او د نژاد له کبله توپیر ونشي دین په چا باندي په زوره ونه منلي شي پدي هلکه الله جل جلاله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ژبه باندي د مکې کفارو ته په خطاب کې داسی وفرمایل: (لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ) «تاسو لپاره خپل دین دی او ما لپاره خپل دین» [سوره الکافرون: آیه 6]، نو هر نظام او حکم چې په دغه بنسټونو باندي ولاړ وي او د ټولني بنسټیزي اړتیاوي پوره کړي وي چې پدي خوراک څخښاک جامه ځای او د بنسټیزو پروژو پلي کول چې پدي کې روغتیا ښونه او روزنه د لارو جوړول او ددی په څیر نور داسی ګټي راځي چې د هیوادونو او د خلکو ژوند په هماغه باندي ولاړ وي نو که چیرته دا رامنځته شي نو دیته ښه نظام او حکم ویلي شو چې پدي کې ټول اوالله جل جلاله پدي باندي راضي کیږي مګر هغه څوک چې هغه کینه او حسد کوونکي او تکبر کوونکي او یا هم جاسوس او خاین وي هغوی پدي باندي اقرار نکوي.

هغه احاديث چې د خلافت اود بيعت په هکله راغلي دي مونږ کولای شو چې په بشپړه توګه زمونږ په زمانه کې په بيلابيل نظامونو باندي پلي کړو په ځانګړي توګه هغه نظامونو باندي چې په هغه کې عدالت مراعت کړی شوي وي چې مشر او اداری ولري او د خلکو ترمنځ عدالت وکړي د هيوادونو او د خلکو ښيګڼي او ګټي په نظر کې ونيسي مشوره ولري او همدارنګه د کارپوهانو او د تجربې د خاوندانو او د متخصيصونو څخه ګټه پورته کړي خلک پری نږدي چې ګډوډي رامنځته کړي نو د هغه وروسته بيا پدي کې څه اشکاليت نشته چې کوم نوم ورکوو تر هغه وخته پوري چې هغه موخي لاسته راوړي چې د اسلام مبارک دين د هغه غوښتنه کوي چې د خلکو ترمنځ بايد پلي شي او د هغوي د دين اودنيا ساتنه وشي.

هغه څه چې دلته ته مونږته مهم دي هغه دا دي چې مونږ پدي هکله خبرداريی ورکړو چې دغه تندروي ډلي د ټولني په وړاندي کينه او حسد لري او هميشه پدي باندي هڅه کوي چې د بيلابيلو لارو څخه هغوی سره مرسته کوي چې ستونزي رامنځته کړي خو چې په ښکاره ډول ويجاړتيا وي او که د کارونو ځنډول او همدارنګه د حقيقتونو پټول او نور بيلابيل ښکاره نښي لري چې د دغه تندرو ډلو بل څوک يی فکر هم نشي کولی ځکه دوی د هيوادوالي څخه وتلي دي تردي حده پوري چې ځيني پدوی کې داسی دي چې که چيرته وګوري د هيواد توليدات موجود وي او نور هم داسی توليدات موجود وي چې د بهر څخه راغلي وي هغوی هڅه کوي چې دغه توليدات وکاروي چې د بهر څخه راغلي وي ترڅو د هيواد صنعت کمزوري کړي او ددوی په فکر سره پدي سره دولت کمزوري کيږي او له منځه ځي او دوی کولای شي چې بيا خپلو موخو ته رسيږي ځکه دوی د واک پرته بل څه نه غواړي اګر که پدي لاره کې هيوادونه هم له منځه ولاړ شي خبردار همدوی ناکامه او تاوان کوونکي دي لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ ٱللَّهُ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ) «هغوی خپل تدبيرونه په کار اچول او الله خپل تدبير کاوه، او الله تر ټولو ډېر ښه تدبير کوونکی دی» [سوره انفال: آيت 30].

## د دولت او د ډلو له نظره د مصحلت او د ګټي مفهوم

د دولت له له نظره د ګټي یا د مصلحت مفهوم عام وي هغه چې د هیواد او د هیوادوالو په ګټه وي خاص او ځانګړي مصلحت نه وي چې د ځیني وګړو لپاره وي او د ټولو ټولنو ګټي په نظر کې ونه نیولي شي او نه هم د سیاسي ډلو لپاره وي او نه هم د ځینو وګړو لپاره بلکي د هیواد ګټي لپاره رامنځته کیږي.

اما د ډلو مصلحت هغه دي چې ددوی د ډلو ګټي پکې خوندي وي او یا هم د ددوی د ګوندونو ډلي او کله کله پدي کې مبالغه هم کوي تردي حده پوري چې ددوی په نزد مبالغه هغه وي چې هغوي د ګوندونو د ډلو د مشرانو ګټي پکې خوندي وي اګر که ددغه ډلي او د ګوندونو نور وګړو ته زیان هم ورسیږي ځکه کله د خپلو ډلو خپل وګړي د مشرانو لپاره قرباني کوي دغه قرباني هیڅکله هم ددغو ډلو ټیلو په مشرانو او د هغوی په زامنو کې نه وي بلکي دوی همیشه هڅه کوي چې د هغو کسانو زامن او خپل هغه خلک قرباني کړي چې پدغه ډلو کې مشري نلري بلکي عادي وګړي دي ترڅو دوی وکولاي شي چې ټولي ګټي خپله ترلاسه کړي دغه ډلي همیشه هڅه کوي چې د هیواد لوړي ګټي د خپلو ګټو لپاره قرباني کړي زیاتره وخت دغه ډلي پدي نظر باندي وي چې که چیرته دولت پیاوړی شي نو دا ددوی د ډلو په ګټه باندي ندي او په پیاوړي دولت کې ددغو ډلو ټیلو لپاره ځای نشته نو همیشه دوی پخپل فکر باندي پدي کار کوي چې دولت کمزوری کړي ترڅو وکولای شي چې د خپلو ډلو لپاره کار وکړي زیاتره دغه ډلي په ځانګړي توګه ترهګریزي او تندروی ډلي خپلي ګټي د خپلو وګړو د ګټي سره تړلي بولي په ځانګړي توګه په اقتصادي او ټولنیز اړخ کې پداسی ډول سره چې ددغه ډلو د ګټو څخه دفاع کول د ټولو وګړو اساسي مسئله ګرځي او ددغه وګړو ژوند ترهغه پوري برابر نه وي ترڅو چې ددغه ډلي لپاره کار ونکړي او که چیرته کوم یو فکر وکړي چې ددغو ډلو د فکر څخه بهر شي نو د هغه ژوند خلل او د ویجاړی سره مخامخ کیږي او کله ناکله دی حد ته هم رسیږي چې د هغه ځانته خطر هم پیدا شي.

نو له همدي لپاره مونږ پدي باندي ټینګار کوو چې زیاتره شرعي فتوا ګاني باید پدي باندي ولاړ وي چې په هغه کې ملي او هیوادني اړخونه په نظر کې ونیول شي که چیرته له مونږ څخه مسجد اقصی ته د تللو په هکله د حکم پوښتنه وکړی شي نو مونږ پدي باندي ټینګار کووو چې پدغه چارو کې فتوا مناسبه ده چې د اختصاص لرونکو اړخونو څخه وپوښتلي شي په ځانګړي توګه هغه مختصي اداري لکه بهرنیو چارو وزارت او یا ځیني نوری اداري چې د بهرنیو چارو سره اړه لري چې ایا دغه تګ ګټه لري نو که چیرته ګټه ولري نو فتوا به پدي باندي وي چې جواز ورکړو ځکه چې حالاتو ته په لیدو باندي فتوا ورکو او که چیرته دغه اړخونه پدي نظر وي چې هلته تلل د خطرونو سره ډک دي او منفی اغیزي

د مثبتو اغیزو څخه ډیر دي نو دلته بیا رایه پدي باندي کیدلی شي چې مونږ منعه والي وکړو نو فتوا همیشه باید د واقیت څخه لری نه وي او د ګټو څخه جلا نه وي ګټه دلته داده چې باید د حاکم نظر ته ولیدلی شي ځکه چې هغه په ګټو باندي خه پوهیږي د همدي لپاره ویل شوي دي چې په هغو مسایلو کې چې خلاف کړی شوی دی د حاکم رایه ددي لامل کیږي چې اختلاف له منځه ځي ځکه چې حاکم په عامو ګټو باندي د بل هر چا څخه باندي ښه پوهیږي.

## سیاسي تعددیت او موازي قوتونه

دغه عنوان ته که مونږ وګورو د دوو چارو ترمنځ جمع والی راولي چې یوله بل سره په ټکر کې دي چې د منلو او د ردولو د اړخه یو له بل سره جلا والی لري لومړني داسی دي چې د دموکراسی د چارو د ودي او پرمختګ لپاره باید تري کار واخیستل شي او دوهم بیا د هیوادونو په شتون باندي یو لوي خطر ګڼل کیږي او د له منځه وړلو کمزورتیا او ټوټي ټوټي کیدو لامل ګرځي سیاسي تعددیت چې دموکراسی په عدالت باندي ولاړ وي یوه اساسي غوښتنه ده ځکه که چیرته نړۍ یو قطب وګرځولای شي او هیوادونه د یو ګوند پوري وتړلي شي نو په زیاتره وختونو کې دا ددي لامل ګرځي چې دیکتاتوری او کمزورتیا ته لاره هواره کړي ځکه چې مقابل لوري موجود نه وي چې دیته وهڅولي شي ترڅو په پوره ځواک سره هغه چاري پرمخ یوسي چې ورته سپارل شوي دي.

خو که په یو دولت کې موازي قوتونه موجود وي او یا هم ادسی ډلي موجودي وي نو د خپلو ځانګړو ګټو لپاره په دولت باندي فشار راوړي ددغه قوتو او د ډلو که هر ډول شکل موجود وي خو دا پخپله د هیوادونو په جوړښت او یووالي لپاره یو خطر ګڼل کیږي په ځانګړي توګه هغه ډلي ټپلي چې ددین ترنامه لاندي کار کوي او هڅه کوي ترڅو خپل ځواک او نفوس د دین باندي د سوداګری له لاری لاسته راوړي.

یواځینی تله چې مقیاس پری مونږ کولي شو او ټولنی پري معلوموﻻی شو چې څومره موازی قوتونه پکې شتون لري هغه دا دی چې دغه دولت څومره کولاي شي چې قانون پر ټولو باندي پلي کړي او بغیر د کوم استثناء او شک څخه په ټولو یو شان پلي کړی شي او هیڅ یوي ډلي او شخص ته دا اجازه ورنکړی چې د قانون څخه سرغړونه وکړي او یا هم په قوت سره د قانون مخه ونیسي او ټول باید قانوني لارو ته وګرځي ترڅو خپلي غوښتني د همدغو لارو څخه مطرح کړي او په هغه څه باندي پابند وسي چې قوانین او لایحي په هر ډګر کې ایښودل شوي دي همدارنګه مونږ پدي باندي ټینګار کوو دا جایزه نده چې قانون سره دوکه وکړی شي ځکه چې هدف ته رسیدلو ببنسټ پخپله ددی لامل کیږي چې وسیلي څخه کار واخلي چې دغه سیاسی اسلامي ډلي ټولنه د سمي لاري څخه بی لاری کوي او د هغو خطرونو لارو سره مخامخ کوي چې له امله یی هیوادونه د خطر سره مخامخ کیږي اوکه چیرته د الله جل جلاله فضیلت او مهرباني پرمونږ نه وي نو مصر به هم د همدي ډلو له لاری بی لاری شوی وو خو زمونږ مصر الله جل جلاله د امن او امان لوري ته وګرځولو او پدي ځاي کې د اخوانیانو د ترهګر فکر یادونه کولی شو چې دوی هڅه کوله ترڅو د دولت ترڅنګ موازي قوت رامنځته کړي او دا داسی چاره وه چې د دولت لپاره سرخوږي جوړیده چې په

پوره ځواک او قوت سره ددی مخنيوي وشو او ملي دولت د هيبت او د ځواک د ساتني لپاره ځانگړي گامونه پورته شو.

مونږ پدي باندي باور لرو چې ددين په قبلولو کې زور نشته او د علماؤ رول دا دی چې په ښکاره ډول سره د اسلام مبارک دين خلکو ته ورسوي او هغوی يواځي اسلام ته بلونکې او لارښودونکي دي هغوي حاکمان او قاضيان ندي دا پخپله ددی غوښتنه کوي چې د دعوت او سلطه او قوو ترمنځ ښکاره اړيکي رامنځته کړي نو د همدي لپاره هغه موازي قوتونه چې ځيني ډلي هڅه کوي چې دا رامنځته کړي هغه که ديني وي او که فکري اقتصادي او کلتوري وي او يا هم ټولنيزي ډلي وي چې دا د ځينو ټولنيزو موسسو له لاری سرته رسوي او يا هم بل نوم ورکوي د منلو وړ ندي.

لنډه دا هر هغه اداره موسسه يا ډله چې ددی احساس کوي چې د قانون څخه پورته دی او پوښتنه تری څوک نشي کولاي او تردي پوری چې ځان د هر څه څخه جلا گڼي نو دا پخپله يو موازي قوت دی چې د قانونی دولت لپاره يو ډول خطر رامنځته کيدلای شي نو د همدي لپاره بشپړ عدالت په ټولو باندي پلي کول بغير د کوم استثناء څخه دا غوره مثال ددی لپاره دی چې د قانوني دولت ساتنه وشي او زمونږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم هم فرمايلي دي: يقينا هغه څوک هلاک شوي وو له تاسو څخه مخکې چې هغوی کي به چې کله کوم عزتمند سړي غلا وکړه نو هغه به يی پريښوده او کله چې کمزوري سړي غلا وکړه نو په هغه باندي به يی حد جاري کولو زما د په الله قسم وي چې زما سا د هغه په لاس کې ده که چيرته د محمد صلی الله عليه وسلم لور فاطمه هم غلا وکړي نو د هغه لاس به زه پري کړم(١).

ابوبکر صديق رضی الله عنه هم کله چې د خلافت واگې په لاس کې واخيستي نو داسی يی وويل: ای خلکو زه په تاسو باندي خليفه غوره کړی شوی يم زه په تاسو کې غوره نه يم که چيرته زه کمزوری شوم نو ماسره مرسته وکړئ او که زه ښه شوم او ښه کار مي وکړ نو هم ماسره مرسته وکړئ صداقت يو امانت دی او دروغ يو ډول خيانت دی په تاسو کې کمزوري سړی زما په نزد باندی هغه پياوړی دی ترڅو هغه ته خپل حق ورروسپارم او په تاسو کې پياوړی سړي زما په نزد باندی کمزوري دی ترڅو د هغه څخه د خلکو حق واخلم که د الله جل جلاله خوښه وي، تر هغه پوري چې زه د الله تعالی او د هغه درسول اطاعت کوم نو

(١) صحيح البخاری: کتاب جمعه، باب د مړي د ښخيدو پوري پاتي کيدل، حديث نمبر 4304، او صحيح مسلم: کتاب حدود، باب د غل لاس پري کول او په حدودو کې د شفاعت منعه والی، حديث نمبر1688.

تاسو زما اطاعت وکړئ او که ما د الله تعالی او د هغه د پیغمبر نافرمانې وکړه نو په تاسو باندې زما اطاعت نشته[۱].

عمر رضی الله عنه ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته د دیني چارو په هکله یوه تاریخ لیکنه واستوله او په هغه کې یې وفرمایل: په مجلس کې د خلکو ترمنځ منځلاریتوب غوره کړه او خپله څیره او عدالت هغوي ته په سمه توګه ښکاره کړه ترڅو چې څوک تاته تمه پیدا نکړي او کمزوري سړی ستا ظلم څخه ونه ویریږي[۲].

نو عمرابن خطاب رضی الله عنه د کوفي والي ابوموسی اشعري ته امر وکړ چې د قضا په مجلس کې د خلکو ترمنځ برابروالي وکړی او دا باید په بشپړ ډول سره پلي کړي لکه چې وفرمایل: په مجلس کې د خلکو ترمنځ منځلاریتوب غوره کړه تردي چې د هغوی سره په ناسته او هغوي ته په لیدلو کې هم دا مراعات کړي داسی باید ونکړي چې یو په ښه ډلو سره استقبال وکړي اود بل ونکړي یا دا چې یو ته پخپل نوم باندی غږ وکړي او بل ته په لقب باندې غږ وکړي تردي چې که څوک ځواکمن وي ددي طمع پیدا نکړي چې د هغه سره مجامله او په اسانه چلند کیږي اونه هم کمزوري سړی د حق او د عدالت څخه د نه مایوسی احساس وکړي.

نو په بشپړ عدالت او همدارنګه د قانون په پلي والي سره چې په ټولو باندي یو شان پلي شي او د دولت نوم لوړ وساتل شي او د قانون د حاکمیت درناوی وشي پخپله دا ددي لامل ګرځي چې نفسي امنیت او ټولنه کې برقراري رامنځته شي د علم خاندانو ویلي دي چې الله جل جلاله د هغه دولت سره مرسته کوي چې هغه عادل دولت وي اګر که د هغي واکې د کافرانو په لاس کې هم وي او د هغي دولت سره مرسته نکوي چې د هغي واکې د ظالمانو په لاس کې وي اګر که هغوی مومنان هم وي او په موازي قوت کې ډیر خطرناک هغه ډلي او ټپلي دي چې د مذهب نژاد او د طايفي نوم ځانته ورکوي او دوی هڅه کوي چې خپل ځواک او قوت د نورو هیوادونو څخه ترلاسه کړي او اول وي او که آخر وي هغوي ته غاړه ایږدي د هغوي لپاره کار کوي او خپل ځانونه هم په هغوی باندې پیاوړي کوي.

---

(۱) د ابن هشام نبوی سیرت: ج4/ ص 240، عیون الأخبار: ج 2/ ص234. البدایة والنهایة: ج 5/ ص248.

(۲) د دار قطنی سنن: کتاب الأقضیه والأحکام وغیر ذلک: حدیث نمبر 3924.

## فقهي اختلاف او سیاسي اختلاف

مخکی مونږ د دین او د سیاست ترمنځ خبري وکړي او ټینګار مو وکړ چې د ملي دولت د مفهوم د اهمیت او همدارنګه د هغي د جوړښت لپاره باید کار وشي، هغه دولت چې د ټولو لپاره وي او په هغې کې د ټولو حقونه او هیوادنۍ واجبات سره برابر وي پداسي ډول سره چې څوک په دین باندي سوداګري ونکړي او یا هم د سیاسي او حزبي ګټو لپاره ترینه کار وانخلي.

طبعي او لازمي خبره ده چې علماء باید د جوړښت لپاره کار وکړي نه دا چې ورانول رامنځته کړي د یووالي لپاره کار وکړي د تفرقه مخنیوی وکړي همدارنګه د هغو چارو ترمنځ توپیر وکړي چې دیني شرعي او په ثابتوالي او دلالت والي دواړو کې قطعي دي او همدارنګه د هغه چارو ترمنځ چې د هغي دلالت ظني وي چې د فکراو د بل د رایی احتمال لري او پدي کې اختلاف کول پخپله د امت لپاره یوه پراخه دروازه ده چې فکر پکي وکړي لکه څنګه چې عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه فرمایلي دي: هغه چې ماته خوښي رابخښي هغه دا دی چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم صحابه ؤ اختلاف ندی کړی[1]، یعني هغوی په رایه او د نص په پوهه کې اختلاف ندی کړی ځکه چې که چیرته هغوی اختلاف نوای کړی نو دا به په خلکو باندي مشقت وای ځکه هغه چاري چې د معاملاتو سره اړه لري او د خلکو ورځني چاري تنظیموی او د هغوي د ژوند نظام پرمخ وړي نو په هغې کې ډیر پراخوالی دی نو د زماني اود ځای او د حالاتو د بدلیدو سره فتوا هم بدلیدلي شي ښایی په یوه زمانه کې ددغه زماني د حالاتو سره یوه مسأله راجحه وي خو ښایی دا په بله زمانه کې بیا مرجوحه شي او ښایی فتوا په یو ځاي کې راجح وي ځکه ددغه ځای طبیعت ته نظر کړی شوی دی خو ښایی دا بیا په بل ځای کې مرجوحه وګرځي یا دا چې حالات بدل شي او دا ددي غوښتنه وکړي چې باید نوي اجتهاد وکړی شي ترڅو مرجوح راجح کړی شي او راجح مرجوح.

د علماؤ فقهاؤ مفکرینو او کارپوهانو څخه ددې انتظار کیدلای شي چې په هره زمانه اوهر ځای کې د دوی څخه ډیره توقع کیږي چې دوی د امن او سلامتیا غوښتونکي وي او په حقه سره دیته بلنه ورکړي او په ډیر صداقت او اخلاص سره ورته کار وکړي او پدي کې د اسلام هغه لاره او بنسټ پیاوړی کړي چې د ګډ ژوند کولو باندی یی ټینګار کړی دی چې په سوله ایزه توګه باندي باید ټول بشریت په ګډه سره ژوند وکړي اوهمدارنګه دوی د بشریت ټول لوړ ارزښتونه په نظر کې ونیسی او هغه په شخصي ګټو باندي مخکي کړي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لاره او طریقه چې زمونږ لپاره یي ایښې ده غوره لاره ده او هغه داده چې د

---

(١) کتاب جامع باین العلم وفضله د ابن عبد البر: باب جامع ما یلزم الناظر فی اختلاف العلماء، حدیث نمبر 1036.

مديني د خلکو ترمنځ يي ګډ بنستونه ايښی دي اګر که د هغوی په دين نژاد او قبيلو کې اختلاف موجود وو کله چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم اعلان وکړ چې مسلمانان  د مديني د يهودو سره چې هغوي قبيلي قبيلي وو يو امت دی نو په بشپړ ډول سره عدالت يی رامنځته کړ او پيغمبرصلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د يهودو لپاره خپل دين دی او د مسلمانانو لپاره خپل دين[١]، همدارنګه پيغمبر صلى الله عليه وسلم د خپلو صحابه ؤترمنځ وروروليي رامنځته کړه سره لدي چې د هغوي نژادونه او قبيلو توپير درلودو او د اوس او خزرج قبيلو ترمنځ يی وروري رامنځته کړه سره لدي چې د هغوی ترمنځ تاريخي دښمني موجوده وه او الله جل جلاله ددی يادونه په خپله دغه وينا کې کړی چې فرمايي: (وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْۚ لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مَّآ أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) «او د مؤمنانو زړونه يې يو له بل سره ولګول. که تا د ځمکي د مخ ټولي خزاني لګولي هم وای نو ددې خلکو په زړونو کښي دي خپل منځي مينه نشوای اچولای. خو الله دی چي د دوی زړونه يې سره ولګول؛ په يقيني توګه هغه ډېر زورور او د حکمت څښتن دی» [الأنفال: 63].

نو اصل اوبنسټيزه خبره داده چې علماء بايد د يووالي او توافق لپاره کار وکړي نه داچې اختلاف رامنځته کړي همدارنګه د اختلافاتود مخنيوي لپاره بايد کار وکړي خو يوه ډله داسي هم شته چې يو اړخ نيسي او ځيني بيا د شهرت او لويو قدرتونو ته د چاپلوسی پخاطر ځيني شاذ او نادرزه نظريات وړاندې کوي او ځيني بيا د اشغال د ټينګښت لپاره د دين په جامه کې کار کوي دوی پدي کار سره د خلکو ترمنځ اختلافاتو ته لاره هواروي او په اتفاق او اتحاد باندي د فتني اور اچوي او د نړيوال امنيت او د سولي مانع ګرځې نو مونږ په جدي ډول سره په نړۍ کې د سولي لپاره کار کوو او غواړو چې د دين او مذهب په نامه د ناوړه ګټي اخيستني مانع وګرځو.

نو پدغه وخت کې په ځای ددي چې د علماؤ غږ د حکمت عقل او د يووالي غږ شي د بدبختۍ او همدارنګه د اختلافاتو لامل ګرځي او يا هم د ځينو متعصبه خلکو غږ ګرځي چې هغوی د واقعيت فقه نشي درک کولاي او ددوی غږ د بی اتفاقۍ او د بدبختۍ لامل ګرځي او کله کله داسی هم کيدلاي شي چې د ځينو حاکمانو د رضاوالي لپاره او يا هم د ځينو کورنيواو د قبيلو او يا هم د خپلو پيروانو د رضايت لپاره په ناوړه توګه سره کارونه کوي او ځيني داسی رايی او فتواګاني رامنځته کوي چې د هغي ناوړه انجام ته نګوري چې پري رامنځته کيږي او دا په دی ډول سره تعصب کوي او حقيقي چارو ته نګوري او همدارنګه د منطق عقل او فکر څخه کار نه اخلي.

(١) د سيرت نبوی کتاب د ابن هشام: ج1/ ص503، 504.

نو د همدي لپاره مونږ او تاسی ټول باید دا درک کړو چې د بل ختمول او د خپل مخالف له منځه وړل ناممکنه خبره ده اودا دالله جل جلاله د لاري سره په ټکر کې راځي چې ټول خلک یی پیدا کړي دي خو یو له بل سره توپیر لري لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخۡتَلِفِينَ١١٨ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمۡۗ) «بېشکه که ستا رب غوښتلای نو ټول انسانان یې یوه ډله (د یوه دین پیروان) ګرځولای شول. مګر اوس خو هغوی په بېلا بېلو لارو تل روان وي، او له لارو ورکې څخه به یوازې هغه خلك وژغول شي، چې ستا د رب رحمت پر دی. (د ټاکلو او غوره کولو) د همدغي (ازادئ) لپاره خو یې هغوی پیدا کړي ول» [هود: 118-119]، همدارنګه د بل له منځه وړلو هڅه او یا هم بی اتفاقي رامنځته کول ددی لامل کیدلای شي چې بالمثل کار وشي نو ټوله نړئ به په دیني او مذهبي کړکیچونو کې راګیره شي چې څوک به تری په امن کې پاتي نشي چې دا د ویجاړی بربادئ او د فساد څخه بل څه نشي رامنځته کولای.

نو طبعي خبره ده چې علماء باید د رښایئ ستني وي او همدارنګه د سولي د خبرو اترو د یووالي او د نږدیوالي ستني وي نه دا چې د اختلافاتو لامل شي علماء باید یووالی رامنځته کړي نه دا چې اختلافات او ویجاړي اودا مونږ ټولو لپاره لازمه ده چې پدي کې هڅه او ددی د رامنځته کولو لپاره کار وکړو.

## علم د دولت او ډلي له نظره

د دولت مقصد عامي ګټي عام نظر عام جوړښت بشپړه استراتیجي ګټل کیږي دا د هغو ډلو په خلاف باندي چې د هغوی نظر ډیر تنګ دی چې د خپلو ډلو د ګټو څخه بهر نه ووځي.

د دغو ډلو نظر ډیر تنګ دی او ځیني پدي کې د علم څخه مقصد یواځي شرعي احکام ګڼي چې عبادت پري ترسره کړې په ځانګړي توګه علم میراث او په هغه ډول سره چې پخوانیو فقهاؤ رانقل کړی وي بغیر لدی چې د وخت او د ځاي او د حالاتو ته نظر وکړي بغیر لدي چې دوی د ثابتو او سپیڅلو احکامو اود هغو احکامو ترمنځ توپیر وکړي چې بدلیدونکي دي او یا هم د زماني او ځای سره هغه د بدلیدو وړتیا لري چې دا د اجتهاد د خاوندانو لخوا ترسره کیږي چې د علم او د عقل خاوندان وي.

ځیني بیا د علم څخه مقصد یواځي د غیبو علم ګڼي او هغه څه چې د غیبو د علم پوري تړاو لري چې د علم څخه زیاته مبالغه هم پکې کوي تردي چې دوی ددې دعوا کوي چې د دې څخه مقصد یواځي الهام او یا هم د دی په څیر نور څه دي سره لدي چې مونږ ددغه علم څخه انکار نکوو لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا) « او هلته هغوی زموږ له بندګانو څخه یو بنده وموندہ چې موږ په خپل رحمت سر لوړی کړی ؤ او له خپل لوري څخه مو یو خاصه پوهه ورپه برخه کړې وه» [الکهف: 65]، مونږ پدې باندي ټینګار کوو چې ددغه علم څخه مقصد دا دی چې سم نظر او رایی ته باید درناوی وشي او هغه وینا چې سمه او برابره وي هغه باید غوره کړی شي نه دا چې ددی دعوا وکړی شي چې په غیبو باندي پوهیدل او یا هم په هغې باندي خبر ورکول وي.

یوه بله ډله هم شته چې کله په اوسنیو علومو کې نوي موندني وشي او همدارنګه څیړنه او فضایی علومو کې تطبیقات وشي نو دوی د ددغو اوسني اکتشافاتواو د کتاب الله او د سنت رسول د نصوصو سره د تړاو رامنځته کیدو لپاره کار کوي اونصونه په هغه څه باندي رامنځته کوي چې د هغه احتمال نلري دوی هڅه کوي ترڅو د سیاحت صناعت او نوري برخي د قرآن کریم او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د احادیثو سره وتړي اګر که دغه کار په ښکاره ډول سره تخلف هم وي.

ځیني بیا د علم څخه مقصد یواځي هغه څه ګڼي چې ګټه پکې وي او پدي سره خپله وفاداري او تابعداري خپلي ډلي ته ثابتوي او بغیر لدي چې نظر پکې وکړي په همداسی ناپوهی سره د خپلي ډلي د ګټي لپاره کار کوي.

هيځوک ددي ځخه انکار نشي کولای چې علم ډير لوی فضيلت لري او د هغې ځای ډير لوی دی او د هيوادونو په جوړونه کې ډيره لويه اغيزه لري لکه چي شاعر وايي:

په علم او مال سره خلک خپل هيوادونه جوړوي

هيوادونه په ناپوهي او بي وزلی باندي نشي جوړيدلای

بل شاعر وايي:

داسي ملت ماته را وښاياست چې وده اړ پرمختګ يي کړی وې

او بغير د علم ځخه يي ياقوت او وسلو ته لاسرسی پيدا کړی وې

په بل روايت کې بې ويلي:

داسي ملت ماته را وښاياست چې وده او پرمختګ يي کړی وې

او بغير د علم ځخه يي توري ته لاسرسی پيدا کړی وې

هغه علم چي ور باندي هيوادونه جوړيږي مقصد تری هغه علم دی چې ګټه رسونکي وي او په نصوصو باندي په خه ډول سره پوهيدنه ترسره شوی وي چي د عقل رول پکي له منځه ولاړ نشي او د نصوصو په پلي والي او د هغې سره په چال چلند کې بايد د عقل رول موجود وي ترهغه وخته پوري چې دغه دليل د ثابتوالي او د دلالت له اړخه قطعي نه وي او که داسي وي نو د عقل رول پکې نشته خود دغه ډول نصوص ډير کم دي ځکه د الله جل جلاله حکمت ددی غوښتنه کوي چي کتاب الله او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې عمومي قواعد او عمومي بنسټونه بيانوي او د مجتهدينو لپاره چې د عقل اود فکر خاوندان وي د نظر کولو فرصت ورکوي ترڅو هغوی د ځای زماني حالاتو دودونو او د رواجونو په بدليدو سره د دغه عامو مقصدونو په رڼا کې دا هم بدل شي دا پخپله د شريعت د پراخوالي د رازونو ځخه اود نرمښت ځخه يو راز دی.

نو پدی باندي مونږ پوهيږو هر هغه ځه چې د علم د شان په لوړوالي کې راغلي دي مقصد تري هغه علم دی چې ټولو علومو ته شامليږي يواځي د فقه علم تری مراد ندی يا د تفسير يا د حديث او يا هم د لغاتو علم مراد وي بلکي ددی ځخه ټول هغه علمونه مراد دي چې خلکو ته پري په دين او دنيا کې ګټه رسولای شي.

د علم د مفهوم په هکله اوس وده اوپرمختګ راغلی دی او په ښکاره ډول سره دا غلطه ده چې د علم د مفهوم ځخه چې قرانکريم مونږ هغه ته هځولي يو يواځي شرعي علوم مراد کړو بلکي قرانکريم مونږ ټولو علومو ته هځولي يو او د هغه ځخه مقصد هر هغه علم دی چې د هغه ځخه په دين او دنيا کې ګټه رسيږي چې

پدي کې شرعي، عربي، طب، فارمسی، فزيک ، کيميا، فلکيات، انجينری، ميخانيک، انرژي، او ټول علوم راځي چې په اوسني نړۍ کې يې ځانګړي ځاي لري او زما په نظر د الله جل جلاله دغه ويناوې چې فرمايي: (قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ) « ايا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي يو شانته کېدای شي؟ - نصيحت خو د پوهې خاوندان مني» [الزمر: 9]، او د الله تعالی دغه وينا چې فرمايي: (فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ) « که تاسي ته معلومه نه وي، نو له اهل کتابو څخه پوښتنه وکړئ» [الأنبياء: 7]، مقصد عام دی او ټولو ته شامليږي او مونږ نشو کولاي چې شرعي علومو ته دا يواځې راجع کړو ځکه چې دغه چاره پراخه ده او هر ګڼه رسوونکي علم ته شامليږي او د هر چا څخه بايد د هغه د مسلک په برخه کې پوښتنه وکړو د ډاکترانو څخه د طب د انجينرانو څخه د انجينرۍ او قانون پوهانو څخه د قانون د شريعت د علماؤ څخه د هغوی په مسلک کې او د ټکنالوجی په برخه کې د هغوی د خاوندانو څخه بايد پوښتنه وکړو.

د علم ارزښت او لوړوالی ټولو علومو ته شامليږي او ټول هغه علوم پکې راځي چې خلکو ته پري په دين او دنيا دواړو کې ګټه رسيږي نو د همدې لپاره د الله جل جلاله دغه وينا چې فرمايي: (إِنَّمَا يَخۡشَى ٱللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ ٱلۡعُلَمَٰٓؤُاْۗ) « حقيقت دا دی چې د الله د بندګانو څخه يوازي عالمان د هغه څخه وېريږي» [فاطر: 28]، په بل ځای کې فرمايي: (وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مُخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَۗ إِنَّمَا يَخۡشَى ٱللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ ٱلۡعُلَمَٰٓؤُاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ) « او په همدې ډول د انسانانو، ځناورو او څارويو رنګونه هم مختلف دي. حقيقت دا دی چې د الله د بندګانو څخه يوازي عالمان د هغه څخه وېريږي. بېشکه الله برلاسی او بښونکی دی » [فاطر: 27-28]، په بل ځای کې فرمايي: (إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ) « د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت او د شپې او ورځې په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډيري نښاني دي، چې په ولاړې، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای يادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غير ارادي توګه غږ کوي چې:) "اې زموږ ربه! دا ټول شيان تا بابيزه او بې مقصده نه دي پيدا کړي، ته له دې څخه پاك يې چې عبث كار وكړې؛ نو اې ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره» [آل عمران: 190-191]، همدارنګه فرمايي: (يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ) « اې د پيريانو او انسانانو ډلي، که تاسي د اسمانونو او ځمکي له سرحدونو څخه په وتلو تښتېدلای شئ، نو وتښتئ. خو نشئ تښتيدلای، د دې لپاره ډېر قوت په کار دی» [الرحمن: 33]، مقصد يې ترې د نړۍ ټول علوم دي او په

آخرنی آیات کې چې د سلطان لفظ راغلی زیاتره علماؤ ویلي دي چې د سلطان څخه مقصد دلته د علم څواک دی.

دا چې زمونږ اسلامي او عربي تاریخ په شرعي علومو کې د لویو علماؤ سره تړاو لري او همدارنګه په انساني علومو کې یې هم ډیر پرمختګ کړی دي او هغوي اجتهاد کړي ترڅو دا ترلاسه کړي او پخپلو کتابونو باندې هغوي پیژندل کیږي تردي پوري چې دوی په علومو او فنونو کې لوی لوی علامه ګان وګرځیدل چې ددي مثالونه په لاندې ډول دي، امام ابی حنیفه النعمان (وفات ۱۵۰ه)، امام مالک بن انس (وفات ۱۷۹ه)، امام محمد بن ادریس الشافعی (وفات ۲۰۴ه)، امام احمد بن حنبل (وفات کال ۲۴۲ه)، امام محمد بن اسماعیل البخاری (وفات ۲۵۶ه)، امام طبری (وفات ۳۱۰ه)، فارابی (وفات ۳۳۹ه)، امام شاطبی (وفات ۵۹۰ه)، ابن رشد (وفات ۵۹۵ه)، حافظ ابن کثیر (وفات ۷۷۴ه)، ابن خلدون (وفات ۸۰۸ه)، حافظ ابن حجر عسقلانی (وفات ۸۵۲ه)، امام سیوطی (وفات ۹۱۱ه)، امام زرقانی (وفات ۱۳۶۷ه) او ځیني نور مشهور علما.

او په علمي اړخ کې بیا که زمونږ تاریخ کې که وګورو نو د شرعي علوموپه څیر پدغه برخه کې هم مونږ لوي لوي علماء درلودل لکه: : الخوارزمی (وفات ۲۳۵ه)، الکندی (وفات ۲۵۶ه)، ابن الهیثم (وفات ۴۳۰ه)، البیرونی (وفات ۴۴۰ه)، ابن البیطار (وفات ۵۹۳ه)، ابوبکر رازی (وفات ۶۰۶ه)، ابن النفیس (وفات ۶۸۷ه)، ابن سینا (وفات ۶۸۷ه) او ځیني نور لوی علماء.

خو بیا هم مونږ ته لازمه ده چې یواځې ددغو لویو علماؤ په یادونه بسنه ونکړو بلکې ددي ترڅنګ چې هغوی مونږ ته لوی تاریخ او تمدن پریښی دي او اوس چې مونږ د لوي تاریخ اوتمدن خاوندان یو نو په اوسني تاریخ کې د اوسنیو علومو برخو کې مونږ بشپړ رول اداء کړو او پدي کې داخل شو څکه په اوسنی علم کې ډیر پرمختک راغلی او د فضایی علومو ترڅنګ چې ددغه علومو مهمه نښه ګڼل کیږي پدغه علومو کې هم پرمختګ راغلي نو مونږ لپاره لازمه ده چې پدغه چارو کې داخل شو او وده او پرمختګ وکړو.

**دولت نه ګډوډي**

دغه عنوان بيلابيلي مهمي معناګاني لري لومړۍ دا چې پدي کې د دولت او د ګډوډۍ ترمنځ توپير کيږي ځکه چې د دولت مقصد حفاظت امنيت باور برقراري او همدارنګه نظام دی دولت يو فکري سياسي اقتصادي او قانوني فکر دی خو ګډوډي بيا ددي برخلاف کار دی ځکه چې په هغه کې نه نظام وي نه اداري نه امنيت نه برقراري او ددې ترڅنګ نور منفي معناګاني لري او مثبت معنی هيڅ پکې نشته.

د امت دښمنانو تل هڅه کړی چې دغه ډول ګډوډي رامنځته کړي او هغې ته يی بيلابيل رنګونه ورکړي دي چې د دوی ګډوډي رامنځته کيدل او همدارنګه د ګډوډيو جوړښت يی تري مقصد دی او ددې موخه دا ده ترڅو زمونږ هيوادونه دړي وړي کړی او ددغو لويو هيوادونو څخه واړه هيوادونه جوړ کړي چې پکې بيلابيلي ډلي واکمنان کړي او مقصد يی همدا وي چې دولت موجود نه وي او ګډوډي وي لکه چې زمونږ په سيمه او نړۍ کې بعضي هيوادونه همداسی شول ددې مقصد دا وي چې دوی وکولاي شي په آساني سره دغه هيوادونو باندي برلاسی شي د هغوی شتمني لوټ کړي او د هغې په پريکړو کې برلاسی وي او د هغې اداري له منځه يوسي او د هغې تير راتلونکي او حاضر ټول خراب کړي او پداسی ډول دوی رامنځته کړي چې راتلونکي ته هيڅ اميد ونلري پداسی حال کې چې دې خلکو دا خبره هيره کړې ده او يا هيروي چې د تاريخ درسونه او عبرتونه دوی نه اخلي ځکه چې پدغه نړۍ کې به هيڅوک په امن کې نه وي که چيرته انسانان په نورو باندي ظلم کوي او کوښښ کوي چې هغوي له منځه يوسي برابره خبره ده چې دا د وګړو په کچه باندي وي او که د امتونو او د ولسونو په کچه باندي هغه څه چې په ختيځه نړۍ کې پرې رامنځته کيږي د هغې غږ په لويديځه نړۍ کې هم اوريدل کيږي په شمال کې چې رامنځته کيږي غږ يی په جنوب کې اوريدل کيږي بلکي دا ټول اړخونه يو له بل سره نږدي شويدي ځکه چې اوس بيلابيل عصري وسايل رامنځته شويدي چې ټوله نړۍ د يو وړي قريي په څير يې ګرځولي ده او ترهګري د لويو وچو څخه هم اوړي او هيڅ پوله نه پيژني لکه څنګه چې مونږ تل پدي باندي ټينګار کوو چې ترهګري نه دين لري او نه هم هيواد او نه هم عقل او لکه څنګه چې ويل شوې دي د بی عقلانو او د ناپوهانو کارونه تجاوزکوونکي وي.

بی له شکه ګډوډي چې زمونږ شاوخوا اوس رامنځته شوی ده ددی لپاره پلان جوړ شوی وو چې زمونږ په هيوادونو کې هم رامنځته کړي خو زمونږ د هيواد وسله وال پوځ پوليس او ټول وګړو په يقيني توګه سره دغه پلانونه ناکام کړل او په راتلونکي کې هم زمونږ د دښمنانو ټول پلانونه که د الله خوښه وي ناکامۍ سره مخامخ کيږي.

خو دلته مونږ ته لازمه ده چې په پوره ځواک او قوت سره ټول هغه هڅې له منځه یوسو چې ترهګري ډلي سرته رسوي او موخه یی دا ده چې زمونږ ټولنه ناکامه کړي او ددې لارې دوی چاودني او ویجاړي او د خلکو لپاره ویرونه رامنځته کړي او همدارنګه داسی اوازی خپری کړي چې په ټولنه اغیزي وکړي اود هغه ثابت کارونه او باور له منځه یوسي او مخکي هم پدي باندي مونږ ټینګار کړی دی او بیا هم ټینګار کوو چې باید ددغه ډول مجرمانو محاکمه ترسره شي او دوی د ملي خیانت په توګه باندي باید محاکمه شي پداسی وخت کې چې په مونږ باندی د بیلابیلو اړخونو لخوا په مونږ خطرونه راچاپیره دي زمونږ ټولو څخه ددی اړتیا لیدل کیږي چې باید ډیر قوت سره خپل داخلي اړخونه د خاینانو اود ایجنټانو څخه خلاص کړو او هغه څوک له منځه یوسو چې د بهر څخه تمویلیږي او د هغوی لپاره کار کوي لکه د عراق یو شاعر محمد مهدي الجواهري[(۱)] چې پخپل دغه شعر کې وایي:

په واقعیت کې اشغالګرو زمونږ په منځ کې خپله تمه لیدلې ده

او خپل ښکاري سپي یي زمونږ په منځ کې خوشي کړې

او د خپلو مزدورانو او جاسوسانو څخه یي تعخد اخیستی

هغه مزدوران چې خپل کور او خاوره یي ویجاړه کړه

او ددغه ویجاړۍ په مقابل کې د خبلو بادارانو څخه مزدوري آخلې

مونږ ټول باید دا په ښه ډول سره درک کړو چې په یو داسی پړاوباندې تیریږو چې د تاریخ یو مهم پړاو دی برابره خبره ده چې د هیواد په کچه وي که د امت او د سیمي په کچه وي او دا ددې غوښتنه کوي چې مونږ ټول هیوادوال باید عامه ګټي په شخصي ګټواو حزبي او ګوندي ګټو باندي مخکی کړو او ټول په ګډه سره پدی باندي کار وکړو چې خاینان او ایجینټان ښکاره کړو او قانون منګلو ته یی وسپارو او دا زمونږ د ټولو هیوادنۍ او شرعي وجیبه ده.

همدارنګه مونږ هر یو ته لازمه ده چې پخپل ځان باندي پیل وکړو او خپل ټولنیز او اداري مسئولیتونه اداء کړو او د خپل هیواد په وړاندي وجایب باید سرته ورسوي ترڅو د هیواد ساتنه وشي او د هغه ادارو ساتنه وشي چې مونږ او تاسې ټول ورته اړتیا لرو ترڅو مونږ ټول داسی ګډوډیو ته مخامخ نشو چې په هغې کې هیڅا ته امن او امان بیا پاتې نه وي.

(۱) د محمد مهدی جواهری دیوان: ص 332، چاپ: د اطلاعات وفرهنګ وزارت، بغداد .

## د سیستم او د ادارو لرونکې دولت

لوی دولت هغه دی چې په پیاوړی سیستم او اداراتو باندې ولاړه وې، او د خپلو ملي ادارو د پیاوړتیا لپاره کار کوي ترڅو د هغې بنسټونه پیاوړي شي او همدارنګه دوی پدې باندې کار کوي چې ټولې هغه ترهګریزې ډلې له منځه یوسې چې هڅه کوي ترڅو د دولتي ادارو ځای ناستی شي او یا هم  د دولت په وړاندې خنډونه رامنځته کوي همدارنګه دغه هڅلې پدې باندې کار کوي چې د وګړي او د ټولني فکر له منځه یوسې لکه چې ویل شوي دي د ډلي او د ټولني فکر هیوادونه هیڅکله هم نه بدبخته کوي چې د هغوي ترمنځ اختلاف موجود وي خو د یو وګړي فکر بیا هغه بدبخته کوي.

په واقعیت کې فردې دولت او د حکومت فکر اوس وخت کې له منځه تللی او نړۍ اوس دیکتاتوري په هیڅ ډول نه مني او ددغه ډول نظامونو هیڅ اغیزي ندي پاتي الله تعالی دې احمدشوقي ته خیر ورنصیب کړې چې لورد کرومر ته یي په خطاب کې دا شعر ویلی[١]:

ای فرعون! د فرد زمانه له منځه تللې ده

او د ظالمانو دولت شتون نلري

او د هر هیواد وګړې

د خلکو د حکم په خلکو باندې د نظام تابعداران شوې

د سیستم او اداره لرونکي نظام همیشه پدې باندې کار کوي چې اداري لوړي کړي او پدی کار کوي چې ولسونه د ټولو قوو او د ادارو په لاس کې وي ځکه چې ولسونه دې چې د ادارو لپاره نمایندګان ټاکي او هغه اداري چې هغه ټاکل شوي وي چې پدې کې ولسي جرګه او پارلمان راځي دا د دولت د هغو ادارو څخه کنټرل کیږي چې د قانوني دیموکراتی او د څارني لپاره کار کوي کله چې دولت دغه ډول اداري ولري نو سیاسی اراده لري ترڅو ددغه ډول ادارو درناوي وکړی او هغوي ته دا چانس ورکوي ترڅو د خپلو ادارو له لاري د دولت د پیاوړتیا لپاره کار وکړي او هر یو خپل رول په بشپړه توګه سره اداء کوي ترڅو یو پیاوړی دولت رامنځته شي چې د ټولو قوو ترمنځ جدا والی موجود وي او یو له بل سره تړلي نه وي او ټول په ګډه سره ښه لوري ته کار وکړي ترڅو بشپړوالی رامنځته کړي نه دا چې نفرت خپور کړې، نو همدا ده چې دا د جوړښت او د پرمختګ د مهمو لاملونو د جملي څخه ګڼل کیږي.

(١) شوقیات: قصیده (توت عنخ آمون) 1/ 364، چاپ: هنداوی د کلتور او د ښوني اداره.

کله چې دغه اداري د وخت طبیعت وپیژني او ننګوني چې ورسره دولت مخامخ دی درک کړي او ټول هغه خطرونه چې د هیواد پوري راچاپیره دي ځان پري پوه کړي او یو له بله سره په بشپړه توګه کار وکړي او هریو خپل وجایب وپیژني او د هغې په اداء کولو کې کوتاهي ونکړي او خپل رول کې تجاوز ونکړي او ټول دا درک کړي چې هیواد د ټولو لپاره دی او ټول پدی کې ژوند کوي او د ټولو لپاره پراخه دی او پدي کې توپیر وکړي چې د هیواد په خدمت او د شخصي ګټو ترمنځ ډیر توپیر موجود دی او د خپل هیواد دګټي لپاره وکړي نو پدغه وخت کې به مونږ بیلابیل ګامونه پورته کړي وي چې جوړښت رامنځته کیږي او ټول هغه لاملونه له منځه ځي چې د دولت د له منځه وړلو، ناکامۍ او د ویجاړۍ لامل کیږي.

بې له شکه چې مونږ په مصر کې پدي باندي کار کوو چې یو پیاوړي نظام رامنځته کړو چې د ملي ادارو درناوي پکې وشي او د هغو د رول درناوي وشي د هغو د پیاوړتیا لپاره کار وشي او هر یو ته په بشپړه توګه دا چانس ورکړل شي ترڅو خپل ځانونه بیرته جوړ کړي او د هیوادني میني او د شروطو مطابق پرمختګ وکړی او بیلابیل بنسټیز قواعد پلي کړي چې په هغه کې د هیڅا ترمنځ توپیر موجود نه وي او پدي بنسټ باندي چې د دین رنګ نژاد جنس او د نورو لاملونو له کبله د چا ترمنځ توپیر ونشي نو همدا ده چې دا به زمونږ د خپل نسل او د راتلونکي نسل لپاره یو نوی کار وي چې ترسره یې کړو او ددی څخه باید ګټه پورته کړو او خپل حالات بدل کړو او په بنه ډول سره پرمخ ولاړ شو ترڅو یو عصري دیموکرات پیاوړي دولت رامنځته کړو چې د هغې ریښي دیو تمدن او دیموکراتي سره تړلي وي ځکه دغه ولس ډیر لوي تمدن لرونکې ولس دی او ټول هغه غلطۍ له منځه یوسو چې ددغه هیواد په بیلابیلو ادارو کې موجود وي ځکه ددغه هیواد مشران د دغو ادارو د پیاوړتیا لپاره کار کوي نو دغه وخت کې مونږ ټولو ته لازمه ده چې دوی سره همنظری شو او د هغوی د پیاوړتیا لپاره کار وکړو او هر هغه چا سره حساب کتاب وکړو چې په وړاندی خنډونه جوړوي او هغه څوک چې په دولت کې کار کوي او د اداري عدالت او د پیاوړتیا په وړاندي خنډ رامنځته کوي د هغه مخنیوي باید وشي او دا د دولت په لومړیتوبونو کې باید موجود وي ترڅو خپله فلسفه او ایډیالوجي د ملي دولت او د اوسني عصري دیموکراتي دولت لپاره کار وکړي او لدي ټولو څخه مهمه دا ده چې مونږ هیڅا ته دا اجازه ورنکړو د دولت د قوي په وړاندي نوري قوې رامنځته کړي په ځانګړي توګه هغه بیلابیلي ډلي چې ترهګریزي او تندروي ډلي دي چې تل هڅه کوي په ټولنه باندي ځان وتپي د دوی د مخنیوي لپاره باید کار وکړو ځکه دا یو خطر دي چې مونږ باید خبرداره وسو او د هغو د له منځه وړلو لپاره په ګډه کار وکړو.

## عادل امام یا حاکم

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: اووه کسان داسې دي چې دوی به د قیامت په ورځ د الله جل جلاله د عرش تر سیوري لاندي وي داسی ورځ چې د هغه پرته بل سیوري نشته یو به عادل امام یا حاکم وي بل هغه ځوان چې د خپل رب په عبادت کې را لوی شوی وي بل هغه سړی چې زړه یی د جوماتونو سره تړل شوي وي او بل هغه کسان چې د الله جل جلاله لپاره یو له بل سره مینه کوي د الله لپاره یو له بل سره جمع کیږي او جدا کیږي او بل هغه سړی چې که چیرته یو د منصب او د ښایست خاونده ښځه ورځخه غوښتنه وکړي او هغه ووایی چې د الله څخه ویریږم بل هغه سړی چې په پټه سره صدقه کوي ترڅو چپ اړخ پرې خبر نشي چې ښي اړخ څه مصرف کړل او بل هغه سړی چې د الله جل جلاله ذکر په پټه کوي او سترګو نه یی اوښکې بهیږي[١].

د عادل امام یا د حاکم لفظ هر هغه چا ته شاملیږي چې د خلکو د یوې ډلي مشري په غاړه ولري اود هغوی دیني او دنیاوي چاري د هغه په لاس کې وي د هغوی مسئول وي او د الله په وړاندي به ځواب وایي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هر یو په تاسو کې مسؤل دی او هر یو په تاسو کې به د خپل لاس لاندي خلکو په هکله پوښتلی شي حاکم د خپل رعیت مسؤل دی سړی د خپلي کورنۍ او ښځه د خپل د خاوند د کور او اولادونو مسؤلیت لرې نو هر یو په تاسو کې مسؤل دی او هر یو په تاسو کې به د خپل لاس لاندي خلکو په هکله پوښتلی شي[٢].

همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم په بل حدیث کې فرمایلي دي: کوم سړی چې د یو قبیلي یا د هغه پورته د یو دولت مشري په غاړه ولري نو هغه به د قیامت په ورځ لاس تړلي راځي یا د هغه نیکي به د هغه لاس خلاصوي او یا هم به همداسی د ګناهونو له کبله تړلي پاتي کیږي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم همدارنګه فرمایلي دي: یقینا الله جل جلاله د هر چا څخه به د خپل رعیت پوښتنه کوي چې د هغه ساتنه یی کړي او که د هغوی حقوق یې ضایع کړي دي؟ تردي پوري چې د سړي څخه به د خپلي کورني پوښتنه کیږي[٣].

نو د عامو چارو امانت په لاس کې نیول ډیر دروند کار دی ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ابوذر رضی الله عنه ته وفرمایل: چې ای ابوذره ته کمزوری یې او دا یو امانت دی او د قیامت په ورځ پښیمانتیا ده مګر هغه چا لپاره چې د هغه حق یی اداء کړی وي او هغه څه یی اداء کړی وي چې ورباندي وو[٤]، مقصد دا چې

(١) صحیح البخاری: د اذان کتاب ، باب هغه څوک چې په جومات کې د لمونځ لپاره منتظر پاتي کیږي، حدیث نمبره 660.

(٢) صحیح البخاری: کتاب آزادی، باب د خلکو په حقونو باندي د تیري بدي، حدیث نمبر 2554.

(٣) سنن کبرای نسائی: حدیث نمبر8833.

(٤) صحیح مسلم: کتاب امارت، باب د ضرورت پرته د امارت کولو بدي، حدیث نمبر 4823.

ټول هغه کارونه یی سرته رسولي وي چې د هغه پوري تړاو لري او په هغه کې په هیڅ ډول یی کوتاهي نه وي کړی په هغه څه باندي چې مکلف شوی دی او هغه ته سپارل شوي دي که چیرته پدی کې یو چا کوتاهي کړي وي نو بیا د قیامت په ورځ دا شرمندګي او پښیمانتیا ده ځکه بدله د هغه چا چې خپل حق اداء کړي وي او هغه څه یی اداء کړی وي چې الله جل جلاله هغه ته سپارلي وي نو دا د الله جل جلاله له لوري هغه باندي اکرام دي پداسی ډول سره چې د خپل د عرش تر سیوري لاندي به یی ساتي پداسی ورځ چې د هغه پرته بل سیوری نشته بلکې هغه به دټولو په سر کې راځي او الله جل جلاله د هغه کسانو په ډله کې شامل کړی دی چې دغه لوي فضیلت یی ورکړي دي او ددی په رڼا کې مونږ همدارنګه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه بل حدیث را اخلو چې فرمایلي دي: د دریو کسانو دعاء نه ردیږي یو د عادل امام یا حاکم بل هغه روژه لرونکي چې کله روژه ماتوي او د مظلوم دعاء به د وریځو څخه پورته ځي او د اسمان دروازي ورته کولاویږي او الله جل جلاله به فرمایي چې زما دی پخپل عزت باندي قسم وي چې زه به تاسره مرسته کوم اګر که څه وخت بعد هم وي(١).

همدارنګه حاکم او عادل امام چې هغه کله اجتهاد وکړي او پکې غلط شي نو د هغه لپاره یو اجر ورکول کیږي او که چیرته اجتهاد وکړي او اجتهاد یی سم وي نو د هغه لپاره دوه اجره ورکول کیږي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې یو حاکم اجتهاد وکړي نو که اجتهاد یی سم وي دوه اجره ورکول کیږي اوکه چیرته اجتهاد او حکم وکړي او په هغه کې خطا وي نو بیا به یو اجر ورکول کیږي(٢).

همدارنګه د اسلام مبارک دین مونږ څخه غوښتنه کړي ده چې باید د عادل پاچا چې انصاف کوونکي وي او د الله جل جلاله څخه د خپل رعیت په چارو کې ویریږي درناوی وکړو لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د سپین ږیرو د قرآن حافظانو او د انصاف لرونکي پاچاهانو درناوی باید وکړو او دا د الله جل جلاله د لویوالي د ښنو څخه ګڼل کیږي(٣)، پخپله دلته د مقسط لفظ چې دی اسم فاعل دی د أقسط څخه اخیستل شوی دی ددی څخه مقصد دا دی چې ددې ترڅنګ چې انصاف کوي ظلم هم له منځه وړي یواځې پدې باندي بسنه نکوي چې عدالت رامنځته کړي بلکې د مظلومانو څخه د ظلم په لري کولو او هغوی ته د انصاف ورکولو په برخه کې هم کار کوي ددي ترڅنګ چې د خلکو اړتیاوي پوره کوي او هغوی د ارامتیا لپاره شپه او ورځې کار کوي او د هغوی د دنیاوي

(١) سنن ترمذی: کتاب د جنت صفت، باب د جنت د صفت او نعمتونو په هکله راغلي احادیث، حدیث نمبر 2717.

(٢) صحیح البخاری: کتاب په قرآن او حدیثو باندي منګولي لګول باب د حاکم د اجتهاد ثواب، حدیث نمبر 6805. او صحیح مسلم: کتاب قربانی، باب د حاکم د اجتهاد ثواب ، حدیث نمبر 3240.

(٣) سنن ابی داود: کتاب ادب، باب د خلکو د ځای د قدر پیژندل، حدیث نمبر 4845.

او ديني چارو سمبالښت سرته رسوي نو ددی لپاره هغه د دعاء او د مرستي وړتيا لري، ابوبکر صديق رضی الله عنه فرمايلي دي: چې تاسی تر هغه پوری زما اطاعت وکړئ تر څو پوري چې زه د الله او د هغه د رسول اطاعت کوم کله چې زه د الله جل جلاله او د هغه د رسول د اوامرو څخه نافرماني وکړم نو تاسو له ما څخه اطاعت مکوئ.

همدارنګه په نورو اثارو کې راغلي دي چې يقينا الله جل جلاله د عادل پاچا له لاري هغه څه ويشي چې د قرآن کريم له لاري يي ندي ويشل شوي[1]، که الله جل جلاله د خپل کتاب په يو ځآی کې فرمايلي دي: (أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفۡسَۢا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ أَوۡ فَسَادٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعٗا وَمَنۡ أَحۡيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۚ) «چا چي يو انسان د ويني له بدلي يا په ځمکه کښي له فساد خورولو پرته (په ناحقه) ووژه، داسي وګڼه لکه چي هغه ټول انسانان ووژل او چا چي څوك له مرګه وژغوره، داسي وګڼه لکه چي هغه ټولو انسانانو ته ژوند ور وبښه» [المائدة: 32]، نو د احياء او د ژوندي والي څخه مقصد دلته حقيقي معنی نده بلکي مجازي معنی ده چې د هغه د ژوند بقا لپاره کار وکړي چې هغه لپاره يو ښه ژوند برابر کړي د هغه لوږه له منځه يوسي ستر عورت يي پټ کړي او همدارنګه د هغوی څخه شر لري کړي چې پدي کې د ترهګرو شر هم راځي چې د الله جل جلاله با امنه بندګانو باندي ترهګري رامنځته کوي ترڅو هغوی له منځه يوسي او يا هم په غير مستقيم ډول باندی دا کارونه وکړي لکه د پاکو اوبو برابرول د لارو جوړول چي پدي سره د پيښو کمښت رامنځته کيږي او چې پيښي راکمي شي نو له کبله يې د مړو شمير راکميږي نو دا پخپله د نفس د ژونديوالي لپاره يو لامل ګرځي.

لکه څرنګه چې مونږ پدي باندي ټينګار وکړ چې د حاکم لپاره دا بسنه نه کوي چې يواځي عدالت وکړي بلکي ددي ترڅنګ نور ټول ارزښتونه بايد وساتي چې ورته اړتيا وي چې پدي کې په ټولو چارو باندي وفا کول پياوړتيا او همدارنګه امانت او ځيني نور مهم کارونه راځي په ځانګړي توګه زمونږ په اوسني ژوند کې چې پدي کې بيلابيل اړخونه رامنځته شويدي او دا ټول ديته اړتيا لري چې بايد پوره تجربه ولري ترڅو ټول د دولت چاري په ښه ډول سره پرمخ يوسي او اداری په ښه ډول سره کنټرول کړی لازمه ده چې بيلابيل داسی صفتونه او همدارنګه ارزښتونه په ځآن کې ولري چې دغه چاري په ښه توګه سره پرمخ يوسي او هر هغه مسئوليت چې تاته سپارل کيږي د هغه په پرمخ وړولو کې خپل رول اداء کړی همدارنګه ترټولو مهمو دا ده چې په کار کې اخلاص ولري او ټول هغه اړخونه چې ورسره تړاو لري هغه بايد په سمه توګه پرمخ ولاړ شي او

---

(١) ددي په هکله لاندي کتابونه وګورئ: الجامع لأخلاق الراوی وآداب السامع د خطيب بغدادی، ص89، اوتفسير ابن کثير 5/ 111 د مرفوع د روايت، کتاب الکامل فی اللغة والأدب ج1/ ص 157، دا روايت قوی دی.

ټول کړکیچونه چې ورسره مخامخ کیږي د هغې په له منځه وړلو کې په ښه ډول سره کار وکړي او یو سیاسي فکر باید ولري او د ملي یووالي اود ملي امنیت او د هیواد د ساتنې لپاره کار وکړي او په ګډه سره ښه ټینګ کارونه پرمخ یوسو ترڅو داسې ټیم ځانته غوره کړي چې هغه کلتور او پوهه د ځانه سره ولري او وکولای شي چې دغه چارې په ښه ډول سره پلي کړي.

همدارنګه دا باید په نظر کې ونیولی شي چې وړتیا او پیاوړتیا د هر ایالت او ولایت د چارو څخه توپیر لري ځیني ولایتونه داسې دي چې په هغې کې جګړه وي نو د هغې لپاره هم مسلکه سړی باید وټاکل شي ترڅو د هغې ټولې چارې په ښه ډول سره پرمخ یوسي او ددښمانو ټول فریبونه او استراتیجیانې له منځه یوسي چې په شریعت کې ورته د عامو او خاصو ګټو د پوهیدنې معنا ورکوي چې باید وکولای شي ګټې رامنځته کړي او فاسد کارونه له منځه یوسي[1]، همدارنګه داسې ایالتونه چې په هغې کې اقتصادي چارې وي نو یو داسې کس ورته باید وټاکل شي چې هغه په اقتصادي چارو باندي پوه شي ترڅو ټول عصري مالي سیستم په ښه ډول سره برابر کړي او د ټول هیواد د ګټې لپاره کار وکړي او همدارنګه عام ولایتونه او یا هم مسئولیت دیته اړتیا لري ترڅو تجربه وړتیا او د هیوادونو د اداره کولو وړتیا د ځانه سره ولري چې پدې کې سیاسي پوځي امنیتي اقتصادي فکري او کلتوري ټول اړخونه راځي چې پدې ټولو باندي باید پوه وي او دا پخپله د پیاوړتیا امانتدارۍ او د ساتنې او د پوهې معنا پیاوړی کوي الله جل جلاله پدې هکله د شعیب علیه السلام د لور په ژبه باندي د موسی علیه السلام په هکله فرمايي: (قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْأَمِينُ) « له هغو دوو ښځو څخه يوې خپل پلار ته وويل: "پلاره جانه، دغه سړی نوکر ونيسه؛ دی تر ټولو يوه غوره څوک دی چې نوکر يې نيسې، ځکه چې قوی او امانتدار دی» [القصص: 26]، او د یوسف علیه السلام په ژبه عزیز مصر ته داسې فرمايي: (قَالَ ٱجْعَلْنِى عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلْأَرْضِ ۖ إِنِّى حَفِيظٌ عَلِيمٌ) يوسف (ع) وويل: "د هيواد خزانې ما ته وسپاره، زه ساتونکی هم يم او عالم هم» [يوسف: 55] نو امانت یواځې بسنه نکوي بلکې ددی ترڅنګ باید وړتیا هم موجود وي او همدارنګه وړتیا هم یواځې بسنه نکوي پداسې وخت کې چې امانت پکې موجود نه وي نو دواړه یو له بل سره تړلي دي[2].

---

(۱) كتاب الفوائد فى اختصار المقاصد د علامه عز الدين بن عبد السلام ص 80، د دار الفكر چاپ ، دمشق، تحقيق اياد خالد الطباع، لومړنی چاپ کال 1416.

(۲) دغه کتابونو ته دی مراجعه وشي: مشروعية الدولة الوطنية، ص 50.

امام ماوردی رحمه الله پخپل کتاب أحکام سلطانیه کې د هغه چا لپاره بيلابيل شرطونه ايښي دي چې په ولايتونو کې د حاکم د استازي په توګه ټاکل کيږي چې دغه شرطونه په لاندي ډول دي[(١)]:

لومړی: امانت، ترڅو په هغه څه کې خيانت ونکړي چې ورته سپارل کيږي او په هغه څه کې چل او فريب ونکړي چې ورته وړنداې کيږي.

دوهم: ريښتيا خبره ترڅو په هغه څه باندي باور وکړی شي چې يی سرته رسوي او د هغه ويناوو باندي کار وکړي شي په هغه ډول سره چې د هر څه څخه چې منع والی کوي نو هغه منع کړی شي.

دريم: د تمي کموالي ترڅو په هغه څه کې رشوت وانخلي چې ورته وړاندي کيږي او همدارنګه دوکه نشي په هغه څه کې چې ورته آسانه کيږي.

څلورم: د هغه او د خلکو ترمنځ بايد دښمني موجوده نه وي بلکي مينه او محبت موجود وي ځکه چې دښمني پخپله ددی لامل ګرځي چې انصاف ونکړي او همدارنګه د مهرباني څخه انسان لري کوی.

پنځم: هغه څه په ياد ولري چې د خليفه څخه ترلاسه کوي او هغه څه چې خلکو ته وړاندي کوي ځکه چې په هغه باندي ګواه او شاهد وي.

شپږم: پوهه او ذکاوت ترڅو چاري سره ګډوډي نکړي او التباس پکې رامنځته نشي ځکه چې پوهه او ذکاوت د چارو د پرمخ وړلو لپاره ډير مهم دی نو لازمه چې دا بايد په حاکم کې او همدارنګه په واليانو کې موجود وي دغه وصف مامون محمد بن يزداد چې نوموړي وزير وو د طويل په هکله پدي شعر کې ويلي دي:

د شخص واقعي خبري بايد درک کړای شي

که د معنی په درک کولو کې اشتباه وشي بی معنی شي

که د انسان زړه د خبرو د ساتني څخه غايب شي

نو د هغه ويښتيا د نړی لپاره يو ډول خوب دی

اووم: دخواهشاتو څخه بايد ډډه وکړای شي ځکه چې دا ددی لامل کيږي چې د حق څخه باطل لوري ته ميلان وکړي او حق بيا نشي رامنځته کولي ځکه چې خواهشات بيا خپله ددی لامل ګرځي چې د عقل خاوندان د سمی لاری څخه واړوي لکه چې پدي هکله پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:چې يو څه ته ستا مينه او محبت ددی لامل کيږي چې تا ړوند او ګوڼ کړی.

(١) الأحکام السلطانية د ماوردی: شروع د ص 57.

همدا خبري د علم خاوندانو د عادل امام په هکله کړي دي اما هغه تندروي ډلي چې نه تجربه لري نه فکر لري او نه هم ليدلوري لري نه په ديني چارو کې او په دنيوي چارو کې کومه تجربه لرې نه دوی جوړښت پيژني او نه هم دوی دا کولي شي چې جوړښت رامنځته کړي بلکي دوی داسی يو قوم دی چې ويجاړول کوي او ددوی ايډيالوجي پدي باندي ولاړه ده چې دوی تل هڅه کوي ترڅو د ولسونو او د حاکمانو ترمنځ واټن زيات کړي اګر که دا ددی لامل کيږي چې دولت له منځه ولاړ شي ځکه چې دوی هميشه هڅه کوي ترڅو ولسونه ديته را وپاروي چې حاکمانو په ضد ودريږي او شته نظامونه ړنګ کړي ترڅو وکولای شي خپل ځانګړي نظام جوړکړي چې د تاريخ په اوږدو کې دغه ډول نظامونه هيڅ پيژندل شوي ندي ځکه چې دوی هميشه د تاريخ په اوږدو کې داسی نظام رامنځته کړی دی چې خپل ډلو ته به وفادار وي او هغه څوک چې د دوی د ډلي پوري تړلي نه وي هغوی نه پريږدي نو دا ټول ددی لامل کيږي چې د دولت برقراري نه رامنځته کيږي بلکې دوی د خپلو تنګو ګټو لپاره کار کوي او د خپلو ډلو لپاره کارونه پرمخ وړي او دا ټول ددی لامل کيږي چې دولتونه کمزوري شي او د دوی کارونه د ډلي لپاره پرمخ ولاړ شي نو د همدي لپاره مونږ پدي باور لرو چې دغه ډلي د دين اودولت دواړو لپاره يو ډول خطر دی.

## د عام نظام ساتنه

عام نظام يو ديني هيوادنۍ او انساني غوښتنه ده كه ديني اړخ را واخلو نو اسلام داسی يو دين دی چې يو ځانګړی نظام لري او د نظام اقرار كوي پداسی ډول سره چې ټولي معناګاني د ځانه سره ولري لمونځ خپله يو نظام دی روژه نظام دی حج يو ډول نظام دی هر هغه څه چې الله جل جلاله پدغه دنيا كې پيدا كړي دي او هغه يې ديته مسخر كړي دي په هغه كې حكمت شته الله جل جلاله فرمايي: (أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ) « ايا تاسي انګېرلې وه چې موږ بابېزه پيدا كړي ياست او زموږ لوري ته ستاسي هيڅكله راګرځېدل نشته؟» [المؤمنون: 115]، او د الله تعالی دغه وينا چې فرمايي: (إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ) « موږ هر څه له يو تقدير (اندازې) سره پيدا كړي دي» [القمر: 49].

همدارنګه پدغه نړۍ كې هر هغه څه چې شتون لري خپل رول اداء كوي او خپل وظيفه لري چې الله جل جلاله د همدې لپاره پيدا كړی دي او خپلې چاري په ښه نظم او پوهي او پياوړتيا سره پرمخ وړي او پداسی ډول سره چې راتلونكې په مخكيني باندي نه مخته كيږي او هم وروستني او نه هم مخكيني په راتلونكي باندي وروسته كيږي پدي هكله الله جل جلاله فرمايي: (وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ٣٩ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ) « او لمر د خپل ټاكلي ځای خوا ته ځي، دا د خورا ډېر ځواكمن پوه ذات، وضع كړی حساب دی، او سپوږمۍ ته موږ پړاوونه ټاكلي دي، تر دې پوري چې د هغو پړاوونو څخه په تېريدو بيا هغه د خُرما وچه څانګه غوندي شي، نه د لمر په وس كښي دا شته چې سپوږمۍ ونيسي او نه شپه پر ورځي مخكي كېدلای شي. دا ټول په يو يو فلك (مدار) كښي لامبو وهي په اسمان كي چورلېدونكي دي» [يس: 38-40].

نو دغه نړۍ ټول په يو نظام باندي ولاړه ده لكه چې الله جل جلاله فرمايي: (ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٖ) « لمر او سپوږمۍ د يو حساب پابند دي» [الرحمن: 5]، نو هر څه د الله په نزد باندي په حساب او نظام او اندازه باندي ولاړ دي لكه چې الله جل جلاله فرمايي: (وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَسۡكَنَّٰهُ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابِۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ) « او موږ له اسمانه، له صحيح حساب سره سمي، په يوه ټاكلي اندازه اوبه و اورولې او هغه مو په ځمكه كښي تم كړې. موږ په باوري توګه د هغو (اوبو) په له منځه وړلو وس لرونكي يوو» [المؤمنون: 18]، همدارنګه فرمايي: (وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ) « بېشكه، موږ انسان له خالصي نړۍ ختې څخه جوړ كړ، بيا مو هغه په يو محفوظ ځای (رحم) كښي په څڅېدلي

څاڅکي (نطفې) تبدیل کړ، بیا مو هغه څاڅکي (نطفه) ته د برغنډ (تړلي وينې) بڼه ورکړه. بیا مو برغنډ د غوښې بوټۍ وګرځوله، بیا مو بوټۍ هډوکي جوړ کړل، بیا مو هډوکو ته غوښه ور واغوستله؛ بیا مو هغه یو بل مخلوق جوړ کړ. نو الله ډېر زیات برکتناك او تر ټولو پیدا کوونکو ښه پیدا کوونکی دی» [المؤمنون: 12-14]، په بل آیات کې فرمایي: (إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنۡيَٰنٞ مَّرۡصُوصٞ) « د الله خو هغه خلك خوښ دي چې د هغه په لار کښې پداسي شان صف تړلي جنګیږي چې ګواکي هغوي یو محکم کړی شوی دېوال دی» [الصف: 4].

نو نظام یو دیني هیوادنۍ او انساني غوښتنه ده ځکه چې د خلکو ګټې تر هغه پوري نه خوندي کیږي چې نظام موجود نه وي که داسي ونه شي بیا ګډوډي رامنځته کیږي او دولت ترهغه پوري دولت نشي کیدلای ترڅو چې نظام پکې نه وي نو د دولت د جوړني لومړنۍ بنسټونه ولس خاوره نظام او حکومت دی او ددغه نظام تعبیر په اساسي قانون او په نورو قوانینو کې شوی دی او همدارنګه په قوانینواو لایحو لاربښونو ټولو کې ددی شرح شوی ده او هغه څه چې ددولت اداري ترسره کوي هغه د قواعدو او د نظام له لاري پرمخ وړي ترڅو د خلکو ژوند تنظیم کړي او په بیلابیلو ډګرونو کې پرمخ یوسي او دغه ټول د نړۍ د آبادي او استقرار لپاره یو بنسټیز شرط ګڼل کیږي.

پرمختللي ولسونه همیشه د عام نظام او د عامو ادابو ته پاملرنه او د هغې د ساتني لپاره کار کوي همدارنګه د نورو حقونه ساتي او په هغه کوتاهي نکوي او نه هم پخپلو حقونو کې تجاوز کوي نو د ټولني لپاره لازمه ده چې یو نظام موجود وي ترڅو په هغه پرمخ ولاړ شي ترڅو خلک د ګډوډۍ سره مخامخ نشي چې هیڅ نظام ونلري او پدی کې دا هم شامليږي چې انسان باید د ترافیکو د قوانینو درناوي وکړي او همدارنګه د هغه څخه سرغړونه ونکړي او همدارنګه د ټول هغه څه ساتنه وکړی چې د عام نظام او د عامو چارو سره اړه لري او د هغه څخه تجاوز ونکړي اودا ټول هر هغه څه ته شامليږي چې د دولت قوانینو رامنځته کړي دي او له همدي کبله د عام نظام بنسټونه پیاوړي کیږي او زمونږ د ټولني څخه یو داسی ټولنه جوړوي چې هغه منظمه وي او په هر څه کې با بنسټه پرمخ ولاړ شي.

که یو څوک د پرمخ تللو هیوادونو په حال باندي فکر وکړي او هغو ټولنو ته نظر وکړي چې ډیر پرمختللي دي نو په یقیني ډول سره پدې باندي پوهیږي چې دوی دې مرحلي ته لدي کبله رسیدلي دي چې دوی د قوانینو احترام کړی دی اود هغې په پلي والي کې يي نه ستړي کیدونکي هلی ځلي کړي دي او د واجباتو او د حقونو د بنسټ ساتنه یی کړی ده لکه څنګه چې انسان غواړي خپل حق ترلاسه کړي نو همداسی باید خپل وجایب هم د ټولني په وړاندي سرته ورسوي برابره

خبره ده چې د خدماتو په وړاندي د پیسو ورکړه وي او که داسی نور باید ټول په بنه ډول سره اداء شي ترڅو وکولای شي چې د قوانینو درناوي وکړي.

## په آسماني رسالتونو کې د ګډو انساني ارزښتونه باندې پوهه او د هیوادونو په جوړونه کې د هغې اغیزې

یوه لویه برخه د تاوتریخوالي چې زیاتره هیوادونو کې رامنځته کیږي موخه یې دا ده چې انساني احساس یاهم موجود ندی او یا هم ډیر کمزوری دی او د ارزښتونو سیستم نشته دا پخپله مونږ دیته اړ کوي چې پدې باندې ټینګار وکړو چې انساني ارزښتونو ساتنه وکړو او همدارنګه د کلتوري او تمدني اړخونه باید په نظر کې ونیسو اود ګډو انساني ارزښتونو له لارې مونږ پرمخ ولاړ شو چې د ټول بشریت ترمنځ دا موجود وي.

یقینا الله جل جلاله انسان ته عزت ورکړې دې او هغه عزت یې پدې باندې ورکړې دې چې هغه یو انسان دی بغیر ددی چې د بشر ترمنځ توپیر وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ) « دا خو زموږ پیرزوینه ده چې بنیادم ته مو لویي ورکړه» [الإسراء: 70]، نو انسان الله جل جلاله جوړ کړی دی او د هغه له منځه وړل د الله د جوړښت له منځه وړل دي.

همدارنګه ټولو اسماني شریعتونو او رسالتونو پدې باندې اجماع کړې ده چې بیلابیل شریعتونه او بنسټونه موجود دی چې ټول سره ګډ دي چې د ټولو څخه مهم د بشریت ساتنه ده لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (مِنۡ أَجۡلِ ذَٰلِكَ كَتَبۡنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفۡسَۢا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ أَوۡ فَسَادٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعٗا وَمَنۡ أَحۡيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۚ) «له همدې امله موږ پر بني اسرائیلو دا فرمان لیکلی ؤ: "چا چې یو انسان د ویني له بدلې یا په ځمکه کښې له فساد خورولو پرته (په ناحقه) وواژه، داسې وګڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل او چا چې څوك له مرګه وژغوره، داسي وګڼه لکه چې هغه ټولو انسانانو ته ژوند ور وبښه." - خو د هغو حال دا دی چې زموږ پیغمبران پرله پسې له روښانه څرګندو لاربښودنو سره ورته راغلل؛ سره له دې هم د هغو زیاتره کسان په ځمکه کښې زیاتی کوونکي دي» [المائدة: 32].

نود همدي لپاره زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ټول بشریت نفس ته حرمت قایل وو هر کله چې یوه جنازه تیریدله نو هغه صلی الله علیه وسلم ورته ودریدلو نو ورته وویل شول دا د یهودي جنازه ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:آیا هغه انسان نه وو؟(۱).

او هغه ارزښتونه چې آسماني رسالتونوورباندې اجماع کړې ده هغه عدالت، زغم، په وعدو باندی وفا کول، د امانت اداء کول، په کړنو او خبرو کې

(۱) صحیح البخاری: کتاب جنائز، باب د یهودي د جنازي لپاره پاڅیدل، حدیث نمبر 1313. و صحیح مسلم: کتاب جنائز، باب د یهودي د جنازي لپاره پاڅیدل، حدیث نمبر 961.

ریښتینولي، د والدینو سره نیکي کول، د یتیم د مال ساتنه، د ګاوندیانو د حقونو مراعات کول، ښه خبري کول، او داسې نور دي، ځکه چې د اسماني رسالتونو مصدر یو دی نو له همدي لپاره پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ټول انبیاء علاتي ورونه دي مورګاني یې جدا جدا دي او دین یو دی[١].

ښایي د اسماني رسالتونو د شریعتونو په عباداتو او د هغې د اداء کولو طریقه کې یو له بل سره توپیر ولري ځکه چې دا د زماني اود ځاي سره فرق کوي خو اخلاق او انساني ارزښتونه چې د ګډ ژوند کولو بنسټ دی په هیڅ شریعت کې د نورو شریعتونو څخه توپیر نلري پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هغه څه چې د نبوت د لومړني خبرو څخه پوه شوي دي هغه دا دي که چیرته ته حیاء ونلري ته هغه څه کوي چې ستا خوښه وي[٢]، زما په نظر هیڅ یو شریعت د اسماني شریعتونو څخه دا ندي روا کړي چې دنفس وژنه باید وشي چې به حقه سره نه وي او یا هم دا یی ندي روا کړي چې د والدینو سره نیکي ونشي یا دا چې د یتیمانو مال وخوړل شي یا دا چې د کارکونکو او د اجیرانو حق وخوړل شي اوهمدارنګه هیڅ یو شریعت درواغ غدر خیانت او د وعده خلاف ورزي او د نیکۍ بدله په بدۍ سره ورکول ندي روا کړي.

بلکې ددی برعکس باندي ټول اسماني رسالتونو پدي باندي اتفاق او اجماع کړې ده چې دغه انساني لوړ ارزښتونه باید وساتل شي څوک چې لدي څخه ووځي هغه یواځي د ادیانو د غوښتنو څخه نه ووځي بلکې د انسانیت غوښتنو څخه هم وځي او د انسانیت د چوکاټ څخه بهر کیږي او د هغه سالم فکر څخه وځي چې الله جل جلاله ټول خلک په هغه باندي پیدا کړي.

نو د همدي لپاره عبد الله ابن عباس رضي الله عنه د الله جل جلاله دغه وینا را اخیستی ده چې فرمایي: (قُلۡ تَعَالَوۡاْ أَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ عَلَيۡكُمۡۖ أَلَّا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗاۖ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُم مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡۖ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَۖ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ١٥١ وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَإِذَا قُلۡتُمۡ فَٱعۡدِلُواْ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰۖ وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ أَوۡفُواْۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ١٥٢ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ) «[اې محمده صلی الله علیه وسلم!] دوی ته ووایه چې راشئ، زه تاسي ته اوروم چې ستاسي رب پر تاسي باندي څه بندیزونه لګولي دي: دا چې له هغه سره څوك مه شریکوئ؛ له مور او پلار سره ښه چار چلن وکړئ؛ خپل اولاد د مفلسۍ له وېرې

(١) د احمد مسند: ج 20/ ص39، نمبر 9508.

(٢) صحیح البخاری: د آدابو کتاب ، باب هرکله چې د حیا د لاسه ورکړه نو هر څه چې د زړه غواړه ترسره کړه، نمبر 5769.

مه وژنئ، موږ تاسي ته هم روزي درکوو او هغو ته به يې هم ورکړو؛ او د بې حيايۍ کارونو ته نژدې کېږئ هم مه، که ښکاره وي او که پټ؛ او هغه نفس چي الله هغه محترم ګرځولي دې مه وژنئ مګر په حق سره دا خبري دې چي ددې لارښوونه يي تاسي ته کړې ده تاسي بايد د پوهي او ادراک څخه کار واخلئ، او دا چي د يتيم مال ته مه نژدې کيږي، مګر په داسي توګه چي ډېره غوره وي، تر دې پوري چي هغه د خپل رُشد عمر ته ورسيږي. او په تول او پيمانه کښي پوره انصاف وکړئ، موږ پر هر چا د مسئوليت هماغه غوره پېټی ږدو څومره چي د هغه په وس کښي وي. او کله چي خبره کوئ، په عدالت سره يي وکړئ، که معامله د خپل خپلوان وي هم. او له الله سره تعهد پوره کړئ. ددې خبرو ښوونه تاسي ته الله کړېده، په کار ده چي تاسي نصيحت ومنئ، دغه راز د هغه لارښوونه دا ده چي همدا زما سمه لاره ده، نو تاسي پر همدې لاړ شئ او په نورو لارو مه ځئ، چي هغه به تاسي له هغي لاري واړوي، تيت او پرك به مو كړي. دا هغه هدايت دی چي ستاسي رب درکړی دی، په کار ده چي تاسي له سرغړوني څخه ځان وژغورئ» [الأنعام: 151-153]، هغه وايی دا محکم آياتونه دي چي په ټولو کتابونو کې هيڅ هم پدی کې ندي نسخه شوي او دا هغه محرمات دي چي په ټول خلکو باندي دي او دا ددين بنستونه او اصلونه دی څوک چې پدي باندي عمل وکړي جنت ته داخليږي او څوک چې پريږدي اور ته داخليږي.

زمونږ دين مونږ ته ددی ښودنه کړی چې بايد ښه خبري او د هغوی ترمنځ توپير ونکړو ښه خبري ورته وکړو لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسۡنٗا) « خلکو ته ښې خبري کوئ» [البقرة: 83]، بلکي زمونږ د ټولو څخه ددي غوښتنه شوي ده چې دغه ډول خبري وکړو چې هغه ښه او نيکي خبری وي لکه چې الله جل جلاله فرمايی: (وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُواْ ٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ) « او [اې محمده صلى الله عليه وسلم!] زما (مؤمنو) بندګانو ته ووايه چې (خلکو ته) هغه څه واياست چې ډېر ښه وي» [الإسراء: 53]، همدارنګه علماء وايی چې نيکي د يو چا سره دا ده چې په ښه ډول سره او په ورين تندي باندي د خلکو سره مخامخ شي او نرمه خبره ورته وکړي لکه چی الله جل جلاله فرمايي: (وَلَا تَسۡتَوِي ٱلۡحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُۚ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي بَيۡنَكَ وَبَيۡنَهُۥ عَدَٰوَةٞ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٞ٣٤ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٖ) « او [اې پېغمبره صلى الله عليه وسلم!] نېکي او بدي يو شانته نه دي؛ ته د بدیٰ مخنيوی په هغي نېکۍ سره وکړه چي هغه ډېره ښه وي، (ته به وګورې) چي ستا سره چي د چا دښمني لوېدلې وه، هغه دې لکه صميمي دوست ګرځېدلی دی، دغه صفت يوازي د صبر کوونکو په برخه کيږي او دغه مقام يوازي هغو خلکو ته چي د غټي برخي خاوندان دي، په برخه کيږي» [فصلت: 34-35]،

او د عیسی علیه السلام په لاربنونو کې راغلي دي څوک چې تا په بني اړخ د شا کې ووهي نو چپ اړخ ورته واړوه پدي کې خپله دیته لوی دعوت دی چې باید زغم ترسره شي او دغه زغم په ټولو اسماني رسالتونو کې موجود وو دا ددي لپاره چې ټول بشریت په سوله او ارامښت کې ژوند وکړي چې د هغوی ترمنځ جنګ جګړه تاوتریخوالي او بدبختي موجوده نه وي.

## د عقيدې لپاره قتل جائز ندی

اسلام د سالم فطرت دين دی او دا يو داسي لاره ده چې ژوند رامنځته کوي نه دا چې مرګ رامنځته کړي او کله چې الله جل جلاله پخپل قرآن کې قصاص رامنځته کړ لکه چې فرمايي: (وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) «هوښيارانو! ستاسي لپاره په قصاص کښي ژوند دی، په کار ده چې له دې قانون څخه سرغړاوی ونه کړئ» [البقرة: 179]، نو په عين وخت کې نورو آياتونو کې د ژوند د ساتني لپاره يی هم ټينګار وکړ او دا داسی نه وه چې يواځې په اسلام کې رامنځته شو بلکې په تورات کې هم همداسی وو لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ وَٱلْأَنفَ بِٱلْأَنفِ وَٱلْأُذُنَ بِٱلْأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُۥ) «په تورات کښي موږ پر يهوديانو دا حکم ليکلی ؤ چې د نفس په بدل کښي نفس، د سترګي په بدل کښي سترګه، د پوزې په بدل کښي پوزه، د غوږ په بدل کښي غوږ، د غاښ په بدل کښي غاښ، او د ټولو زخمونو لپاره برابره بدله ده. نو که څوك قصاص صدقه کړي، هغه د هغه لپاره کفاره ده. او کوم خلك چې د الله د نازل کړي قانون سره سمه فېصله ونه کړي، هماغوی ظالمان دي» [المائدة: 45].

او عربو د جاهليت په دوران کې به ويل قتل پخپله د قتل مانع ګرځي، يعني که چيرته قاتل پدي باندي پوه شي چې هغه څخه به قصاص اخيستل کيږي او د هغه جزاء به همدا وي چې هغه به وژل کيږي نو زر کرته به هغه فکر کوي مخکي لدي چې په قتل باندي اقدام وکړي نو دا پخپله د ساتنی او همدارنګه د قتل څخه د منع والي يوه لاره ده.

اما هغه جګړه چې د نفس اود هيوادونو ددفاع لپاره او يا هم د خيانت او د دښمنانو د چال او د فريب د له منځه وړلو لپاره سرته رسيږي په هغه کې بيلابيل شرطونه ايښودل شوي دي کله چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم يوه کافره سپين سرى ښځه وليدله چې وژل شوی ده نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دا بايد نه وای وژل شوی همدا وو چې يو شخص ته يي دنده ورکړه ترڅو خالد ته ولاړشي چې ماشومان او سپين سرې ښځې هيڅکله هم ونه وژني(1)، همدارنګه زمونږ دين د ښځو وژل منعه کړي دي مګر هغه ښځي چې په جګړه کې ولاړي وي او همدارنګه د سپين ږيرو وژل يی منع کړي مګر هغه چې په جګړه کې ولاړ وي همدارنګه د ماشومانو وژل يی منع کړيدي د کښتونو سوزول يا د ونو پرې کول دا ټول منع کړای شوي دي مګر هغه ونې چې په هغه کې دښمنان پټيږي او د پرې کولو څخه پرته بله لاره ونلري همدارنګه ددی څخه يی منع کړی ده چې بزګر د هغه په پټو کې ووژل شي او کاهنان او راهبان د هغوی په عبادتخانو کې

(١) د امام احمد مسند : ج 38/ ص 108. نمبر 1761.

اګر که قتل د عقیدي په مقابل کې وې ځکه چې د خلفاء راشدینو او د پیغمبر له لوري منع راغلی ده چې دغه خلک باید ونه وژل شي سره لدي چې هغوی په اسلام باندي ایمان او باور نلري.

اسلام ددي لپاره ندی راغلی چې د خلکو وژنه وشي بلکي ددي لپاره راغلي چې هغوی ته سمه لاره وښودل شي لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (إِنۡ عَلَيۡكَ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ) « پر تا خو یوازي د خبري (پیغام) رسولو مسولیت دی» [الشورى: 48]، په بل ځای کې فرمایي: (وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَأٓمَنَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ أَفَأَنتَ تُكۡرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ) « که ستا د رب اراده دا وای (چې په ځمکه کښي دي ټول خلک مؤمنان او حکم منونکي اوسي)، نو د ځمکي ټولو اوسېدونکو به ایمان راوړی وای. نو ایا ته خلك مجبور وې چې ایمان راوړي؟» [یونس: 99]، په بل ځای کې فرمایي: (لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ) «د دین په چارو کي څه زور او مجبورول نشته، سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جلا کړای شوېده. اوس چي څوك له کوم طاغوت (شیطان) څخه منکر شي او پر الله ایمان راوړي، هغه یوه داسي کلکه اسره ونیوله، چي هېڅکله ماتېدونکې نه ده، او الله د هر څه اورېدونکی او پر هر څه پوهېدونکی دی» [البقرة: 256]، او په بل ځای کې فرمایي: (ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ) «[ای پیغمبره صلی الله علیه وسلم]، د خپل رب د لاري په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه، او له خلکو سره په داسي ډول مباحثه وکړه چي ډېره غوره وي. ستا پروردګار ډېر ښه پوهیږي چي څوك د هغه له لاري څخه اووښتی دی او څوك پر سمه لاره برابر دی» [النحل: 125]، همدارنګه په بل آیات کې فرمایي: (إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ) [ای پیغمبرهصلی الله علیه وسلم!] ته چي چا ته وغواړې او خوښ دي وي، هغه ته هدایت نشي ورکولای، خو الله چي چا ته وغواړي هدایت ورکوي، الله هغه خلك ښه پیژني چي د هدایت منونکي دي» [القصص: 56].

نو د علماؤ او اسلام ته د بلونکو وجیبه دا ده چې په ښکاره ډول سره خلکو ته اسلام ورسوي او دا په ډېر حکمت او ښه ډول سره وړاندي کړي اسلام د جوړښت دین دی نه د ویجاړی د اصلاح دین دی نه د فساد د رحمت دین دی نه د تاوتریخوالي لکه چې الله جل جلاله فرمایي: (وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ٢٠٤ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ) « په انسانانو کي څوك داسي دي چي د هغه خبري د دنیا په ژوند کښي تا ته ډیري ښې ښکاري او هغه پر خپلي نېك نیتی په وار وار الله شاهد نیسي، خو په حقیقت کي هغه د حق

ډېر سخت دښمن وي، او کله چي هغه ته قدرت په لاس ورځي (یا کله چي بېرته وګرځي)، نو په ځمکه کښي د هغه ټولي هلي ځلي ددې لپاره وي چي فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني ځوځات له منځه یوسي. په داسي حال کښي چي الله (هغه ذات چي هغه به شاهد نیوه) هیڅکله فساد نه خوښوي» [البقرة: 204-205]، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: نرمښت او ښه چال چلند هرڅه ته ښایست وربښي او کله چي د یو څه څخه په واتن کي راشي نو هغه بد او ناخوښه ګنې[1]، همدارنګه بل ځاي کي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چي خپله برخه د نرمښت څخه بل ته ورکړي نو هغه د خیر او د ښیګڼي برخه ورکړه او څوک چي د نرمښت او اخلاقو څخه محروم شي نو هغه د خیر او د ښیکڼي څخه محروم شو[2].

(۱) صحیح مسلم: د نیکو کتاب او صله رحمی او آداب، د نرمښت باب ، نمبر 6767.

(۲) سنن ترمذی: د نیکو کتاب او صله رحمی او آداب، د نرمښت باب ، نمبره 2145.

## پلازميني پولي او د هيوادونو جوړښت

د هيوادونو د پلازمينو او د پولو ترمنځ اړيکي د بشپړوالي دي نه د تاوتريخوالي او د جګړي، او مناسبه هم نده چې داسی شي ځکه چې هيڅ دولت لدي څخه بله چاره نلري چې بايد يوه پلازمينه ولري چې هغه د ټول هيواد زړه او مرکز وي او همدارنګه بيلابيلي پولي او اړخونه ولري چې د وزرونو په څير وي چې هيوادونه د دوی څخه پرته پرمخ نشي تللي خو پلازمينه يا پايتخت هميشه په زياتره هيوادونو کې د پاملرني وړ وي ځکه چې واقعيتونه او شواهد ټول ددي ښودنه کوي چې مرکز د تاريخ په اوږدو کې د ډير اهتمام وړ ګرځيدلی وي خو دغه پاملرنه او اهتمام د پرمختللو او د شاته پاتي هيوادونو ترمنځ توپير کوي ځکه پرمختللي هيوادونه هيڅکله هم د خپلي خاوري هيڅ اړخ بی پاملرني نه پريږدي او همدارنګه خپلو ټولو اړخونو ته پاملرنه کوي او د تاوتريخوالي د تيري او د له منځه وړلو څخه ژغوري او ترددي پوري چې هيڅ ډول ناامني پکې نه پريدي او چاته دا اجازه هم نه ورکوي چې ور باندي تيری وکړي د عمر بن عبدالعزيز په زمانه کې يو شاعر دربار ته داخل شو او دغه شعر يی ولوستلو[1]:

که ته خپل نږدی او اړخونه ساتي او پاملرنه پري کوي

مګر ستا اميران په اسلامي خاوره کې دليوانو په څير دې

هغه چې ته ورته پري امر کوي هغوی نه قبلوي

تر دي چې پخپلو تورو باندې د خلکو څټونه وهي

خو د هيواد د بيلابيلو اړخونو او د پولو د ساتني او د ودي پره بايد يواځي د حکومت په غاړه وانچول شي او نه هم د سياسي مشرانو په غاړه بلکې ديته بايد ټول پاملرنه وکړي او ددي د ودي او پرمختګ لپاره د هيواد د ټولو ادارو اود مدني ټولنو او د رسمي ادارو  د ملي سوداګرو لخوا په ګډه سره کار وکړی شي ترڅو پدغو سيمو کې پانګه اچونه ښونه او روزنه د روغتيا په برخه کې کار او همدارنګه د ودانيو جوړول کلتور اوقاف آثارو او د ټولو وزارتونو او همدارنګه ټول هغه مدني ټولني چې په ټولنيزو چارو کې کار کوي او د مخلص ملي سوداګر بايد ټول د هيواد ټولو اړخونو ته پاملرنه وکړي، په ځانګړي توګه هغو سيمو ته چې د پولو سره نژدي وي او ديته لومړيتوب ورکړي ځکه چې ملي امنيت دې سره تړاو لري او همدارنګه ترڅنګ يی وده او پرمختګ راځي ځکه مناسبه ده چې مونږ د هيواد ټول اړخونه او پولي بايد د خلکو د جذب سيمي وګرځوو نه دا چې تري خلک وشړو ځکه کله چې دولت دغه سيمو ته اهتمام او پاملرنه ونکړي نو ددغه سيمي خلک ديته مجبوريږي چې پدغه سيمو کې ددولت په ضد کارونه

---

(۱) البيان والتبيين کتاب د جاحظ ۳/ ۲۳۳، چاپ: دار و مکتبه الهلال، بيروت.

وکړي چې دا پخپله په مرکز او ټولو ولایتونو باندي بیا اغیزه کوي او ددي ترڅنګ بیا بیلابیل غیر نقشي کورونه او ګډوډي رامنځته کیږی، او دا پخپله د فیوډالیزم او د یوي طبقي د نظام د رامنځته کیدو لامل ګرځي چې د وخت په تیریدو سره بیلابیلي ناروغي رامنځته کوي چې د مخنیوي لاري یي بیا نشو موندلی.

او که چیرته هیوادونه د خپلو سرحدي سیمو د ساتني او پدغه سیمو کې د پانګې اچوني لپاره کار وکړي او لازم خدمتونه وړاندي کړي چې پدي کې د کورونو جوړول د ورغتیا په برخه کې کار کول ښوونه او روزنه کلتوري پروګرامونه او ځیني نور خدمتونه راځي چې د ژوند ارزښتونه ورسره تړاو لري ترڅو د دوی خاوره او د زیږدني ځاي پرمختګ پیدا کړي او د کار زمینه برابره کړي او په ترڅ کې تولیدات پیدا شي او دا ټول ددي لامل ګرځي چې ددغه سیمي خلک د هغي د ساتني لپاره کار وکړي او نور پرینږدي چې نور خلک په هغه باندي برید وکړي او خپل هیواد ته په اخلاص سره غاړه کیږدي.

او د دغو سیمو لپاره د کار او د پانګې اچوني لپاره د زمینی برابرول چې اوس مصر دولت د سینا د دښتي د سیمو مرسي مطروح اسماعیلیه حلایب شلاتین او د وادي جدید او په عام ډول د ټولو صحراوي سیمو د ودي او پرمختګ لپاره کار کوي نو دغه سیمي به د خلکو د را جذبیدو لامل شي او دا پخپله د جغرافیاوي جوړښت او د عدالت په برخه کې یو ښه ګام دی او همدارنګه د کورونو جوړل او ددغه سیمي د خلکو لپاره یو ښه ژوند پدې سره په مرکز باندي هم بوج کمیږي او ددغه سیمي خلک پخپله ددغه سیمي د ودانولو لپاره کار کوي او همدارنګه د پلازمینو او د مرکز وضعیت د نړی په کچه سیاسي او اقتصادي وزن یی زیاتیږي چې دا پخپله د ودي اود پرمختګ لامل ګرځي او د سیلانیانو د راجذبیدو او همدارنګه د تمدن د ودي او پرمختګ او د ولسونو د ودي او پرمختګ لامل ګرځي.

## د خپلو ډلو د ګټو لپاره د درواغو اوریدونکې او خپرونکې

قرآنکریم د درواغو د اوریدونکو او د خپرونکو په هکله خبري کړي دي او د هغوی صفت یی ددي بل صفت سره مقایسه کړی دی چې هغه د حرامو د مال خوړل دي پدي هکله الله جل جلاله فرمایي: (سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحۡتِۚ) «دوی د دروغو اورېدونکي او د حرام مال خوړونکي دي» [المائدة: ٤٢]، ددي دواړو صفتونو ترمنځ ټینګه اړیکه ده ځکه چې د درواغو خپرونکې د حرامو د خوړونکو سره تر ډیر حده پوري ارتباط لري ځکه هغه څوک چې په درواغو سره خبري اوري او خپروي او د خپل دین دولت په ضد باندي کاری کوي او دا پخپله د ځلورمي او د پنځمي پیړۍ د وسلو څخه یوه وسله ګرځیدلي ده.

مونږ که فکر وکړو قرآن کریم د دغه ډول خلکو تعبیر پدي باندي کړی دی چې دوی د درواغو اوریدونکې او خپرونکې دي دلته د سامع مستمع او د سماع لفظونو ترمنځ توپیر موجود دی سامع هغه چاته ویل کیږي چې هغه ته یوه اشاره وکړی شي او په ناپامۍ سره یوه خبره واوري برابره خبره ده چې هغه د اوریدو نیت لري او که نلري او مستمع هغه چاته ویل کیږي چې خبرو لپاره چپ وي او اوري او سماع بیا د مبالغي صیغه ده چې د فعال په وزن باندي ده مقصد یي دا دی چې هغه ددي انتظار نکوي چې درواغ ورته راشي بلکي بحث کوي او څیړنه کوي ترڅو درواغ پیدا کړي او هڅه ورته کوي ترڅو هغه خپور کړي لکه چې مونږ او تاسی ګورو او وینو چې زیاتره د اخوانیانو مطبوعاتي ډلي مسؤلین او کارکونکي ددی لپاره کار کوي ترڅو د پیسو له لاری دغه ډول افکار خپاره کړي او د درواغو لپاره لاري لټوي او خلکو باندي خپروي او همدارنګه هڅه کوي ترڅو درواغ راجوړ کړي او پدي سره د خلکو عام ذهنیتونه خراب کړي او خلک دیته را وهڅوي چې ګویا دا یو حقیقت او واقعیت وي.

زمونږ دین یواځي مونږ ددي څخه منعه کړي نه یو چې د درواغو د اوریدو څخه ځان وژغورو بلکي دیته یي هم هڅولي یو چې باید د هرهغه خبر چې اوري د هغه د ریښتیاوالي لپاره کار وکړي او هغه ثابت کړي مخکي لدي چې هغه خلکو ته واوروي پدي هکله الله جل جلاله فرمایي: (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ) «اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقیق وکړئ، هسي نه چې کومي ډلي ته په ناپوهۍ سره ضرر ورسوئ او بیا پخپلو کړو پښېمانه شئ» [سُوۡرَةُ الحُجرَات : 6]، په بل ځای کې فرمایي: (إِذۡ تَلَقَّوۡنَهُۥ بِأَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُولُونَ بِأَفۡوَاهِكُم مَّا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ وَتَحۡسَبُونَهُۥ هَيِّنٗا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٞ١٥ وَلَوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ قُلۡتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبۡحَٰنَكَ هَٰذَا بُهۡتَٰنٌ عَظِيمٞ) «(لږ ځیر شئ، په هغه وخت کي تاسي څنګه سخته غلطي کوله) چي کله ستاسي له یوې ژبې څخه بلي ژبې ته دغه درواغ، پرله پسې نقل کول او تاسي په خپلو

ځُولو سره هغه څه ويل، چي د هغه په باب تاسي څه علم نه درلود. تاسي دا يوه عادي خبره ګڼله، په داسي حال کښي چي د الله په وړاندي دا ډېره لويه خبره وه، ولي تاسي ددې په اورېدلو سره ونه ويل: "له موږ سره دغسي خبره له خولې څخه راويستل نه ښايي، (اې ربه) تا ته پاکي ده، دا خو يو لوی بهتان دی» [النور: 15-16]، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي يو چا دپاره همدغه ګناه بسنه کوي چې هر هغه څه ووايي چې واوري(١).

دا چې زمونږ دين درواغ په عام ډول سره منعه کړي دي او دا يي د منافقت د نښو څخه يوه نښه ګرځولي ده پيغيمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي د منافق درې علامې دي کله چې خبري کوي درواغ وايی وعده کې خلاف ورځي کوي اوپه امانت کې خيانت کوي(٢) همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: تاسو بايد رينښتيا ووايئ ځکه چې رينښتيا ويل پخپله د نيکۍ لپاره لاره هواروي او نيکي بيا د جنت لپاره لاره هواروي او يو سړی چې رينښتيا وايي او په رينښتيا ويلو کې فکر کوي او درواغ نه وايي دا د الله جل جلاله په نزد رينښتيا ويونکې ليکل کيږي تاسو بايد د درواغو څخه ځان وژغورئ ځکه چې درواغ فاسقو فاجرو کارونو ته لاره هواروي او فاسق او فاجر کارونه بيا اور ته لاره هواروي يو سړی چې درواغ وايي او درواغو کې فکر کوي تردي چې الله په نزد باندي هغه درواغجن ليکل کيږي(٣)، نو دا چاري په هغه وخت کې ډېره سخته ګناه وي کله چې يو څوک د عزت خاوند وي او ته ورباندي درواغ وتړي ځکه چې دغه ډول خلک بيا د منافقينو د جملې څخه ګرځي هغه څه وايی چې پخپله نکوي پدي هکله الله جل جلاله فرمايي: (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ٢ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ) « اې مؤمنانو، تاسي ولي هغه څه واياست چي کوئ يې نه، د الله په وړاندي دا ډېر د غضب وړ حرکت دی چي تاسي هغه څه وواياست چي کوئ يې نه» [الصف: ٢-٣]، ځيني داسی خلک دی چې دغه درواغ ددي لپاره وايی چې فساد خپور کړي او د ځمکي په سر باندي سرکشي وکړي او دا هغه څه دې چې قرانکريم منعه کړي دي او دغه ډول خلک يی د منافقينو او فاسدينو په کتار کې ګرځولي دی الله جل جلاله پدي هکله فرمايي: (وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ٢٠٤ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ) « په انسانانو کي څوك داسي دي چي د هغه خبري د دنيا په ژوند کښي تا ته ډيري ښې ښکاري او هغه پر خپلي نيك نيتی په وار وار الله شاهد

(١) د ابی داود سنن: کتاب ادب: باب د دروغ ويلو نه منع والی، حديث نمبر4994.

(٢) صحيح البخاری: کتاب ايمان: باب د منافق نښي، حديث نمبر33، او صحيح مسلم: کتاب ايمان: باب د منافق د صفات بيان، حديث نمبر216.

(٣) صحيح مسلم: د نيکوی کتاب، صله رحمی او آداب: باب د دروغ بدی او د رينښتيا ويلو ښيګڼي او فضيلت ، حديث نمبر6805.

نیسي، خو په حقیقت کې هغه د حق ډېر سخت دښمن وي، او کله چې هغه ته قدرت په لاس ورځي (یا کله چې بېرته وګرځي)، نو په ځمکه کښي د هغه ټولي هلي ځلي ددې لپاره وي چي فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني ځوځات له منځه یوسي. په داسي حال کښي چي الله (هغه ذات چي هغه به شاهد نیوه) هیڅکله فساد نه خوښوي» [البقرة: ٢٠٤-٢٠٥].

که زمونږ په اوسني زمانه کې فکر وکړو نو وسایل اوس بدل شویدي په ځانګړي توګه د جنګ او جګړي په نظامونو روشونو او تګلارو کې پرمختګ او وده راغلي ده څکه جګړه یواځي یو اړخ نلري چې هغه پوځي او امنیتي اړخ وي بلکي ددي ترڅنګ استخباراتي اړخ هم لري او د استخباراتي اړخ ترڅنګ اوس په څلورم نسل کې په جګړو کې نور هم پرمختګ راغلي دي ترديي چې مونږ اوس په بیلابیلو برخو کې داسی احساس کوو چې پنځم نسل ته په جګړو کې ورداخل شوي یو چې دا د بشریت په تاریخ کې ترټولو سختی جګړې دي څکه چې پدي کې ټول غیر مشروع وسایل استعمالیږي چې د ترهګرۍ څخه ګټه پورته کوي او همدارنګه ترهګري روزي او هغوی ته وسلي ورکوي او دیته د جګړي نوم ورکوي او همدارنګه ترڅنګ یی خیانت کوي او په پیسو باندي خلک اخلي او په نورو ځایونو کې یی جنګوي همدارنګه ددي ترڅنګ د شایعاتو یا پخپل سر د آوازو خپرول هم د جګړي یو اړخ دی چې پدي کې هم ډیری خلک کار کوي او خلک تمرینوي او د ځیني خلکو وظیفه همدا ده چې دغه کارونه ترسره کړي او پدي کې ویب پاڼي جوړوي او همدارنګه سیاسي اقتصادي او نفسي مشکلات خلکو ته رامنځته کوي ترڅو ولسونه را وپاروي او د خپلو حاکمانو په ضد باندي ودروي او همدارنګه دبیلابیلو مشرانو او د ملي لاسته راوړنو په ضد باندي کار کوي او په ټولو پرمختللي کارونو کې شک خپروي او د بیلابیلو ډلو او د ترهګریزو ګوندونو سره یو ځای کیږي او ددي لاری بیلابیلو ادارو ته سرخوږی جوړوي او بیلابیل داسي شعارونه پورته کوي چې د خلکو ترمنځ بی اتفاقي رامنځته کړي او دا د یوي منظمي طریقي له لاری وړاندي کوي او همدارنګه پدي کې پیسی مصرفوي او د اوسنیو وسایلو څخه ګټه پورته کوي او د ولسونو د ارادي د ماتولو لپاره کار کوي او د حاکمانو د کارونو په وړاندي خنډونه جوړوي او په علماؤ مفکرینو کلتور پوهانو او د پوهي د خاوندانو په وړاندي شکونه رامنځته کوي او د هغوی په ضد باندي کار کوي هغوی ته خنډونه جوړوي او همدارنګه په پټه او ښکاره ډول سره د بنسټونو په خلاف باندي په خپلو هیوادونو کې کار کوي او داسی پلانونه جوړوي چې د هغوی په واړندي خنډونه رامنځته کړي او همدارنګه نورو هیوادونو ته جاسوسي کوي او پدي سره د خپل بیرغ د پورته والي مخه نیسي او د میراني په وړاندي ودریږي چې دا پخپله ایماني هیوادنۍ وجیبه ده او پدي سره د خلکو باور راټیټوي.

دغه ډلي همیشه هڅه کوي چې خلکو ته دا روښانه کړي چې دا د هیوادنی میني او د حکمت اود مسئولیت د احساس څخه نه ګڼل کیږي او همدارنګه د ملي او عامو ګټو څخه نه ګڼل کیږي چې د پوځیانو او د امنیتي ځواکونو تر شا ودریږی ځکه چې دا کار یواځې د امنیتي ارګانونو دی چې باید دا کار وکړي، بلکي مونږ پدي باندي ټینګار کوو چې د دوی ترشا ودریدل یو ډول ضروري او شرعی او هیوادني وجیبه ده چې مونږ باید خپل سیاسي مشرانو ملاتړ وکړو او خپل وسله وال میړاني پوځ او خپلو پولیسو سره ودریږو او د هغوی مرسته د ټولو وسایلو له لاري وکړو او مونږ پدي باندي هم ټینګار کوو چې ملي دولت ته مشروعیت باید رامنځته شي او ددغه ډول ډلو چې خاینې ډلي دي او د الله جل جلاله په دین باندي تجارت کوي او دوی په هیڅ ډول سره د هیوادونو پولي او استقلال ته غاړه نه ایږدي او دوی تل وایي چې دا وهمي پولي دي چې هیڅ ارزښت نلري او همدارنګه دوی تل پدي فکر باندي دي چې هیوادونه یی ارزښت نلري د دوی بله موخه نشته مګر دا چې خپلو هیوادونو دښمنانو لپاره ګټه رسوي او پدي سره د خلکو هیوادنۍ او ملي احساس را ټیټوي.

مونږ دلته ددغه ډلو د نظر برخلاف رایه لرو ځکه هرهغه کار چې د ملي دولت او د ملي یووالي لامل ګرځي او ددي د جوړوني او ودي او پرمختګ لامل کیږي دا پخپله ددین یو اړخ دی او هغه کار چې د دولت شتون او د هغي موجودیت او همدارنګه هغي ته ننګونه او د هغه په اړخونو کي د فساد خپرونه رامنځته کیږي دا ټول د دیني او د هیوادني ارزښتونو او د بنسټونو په خلاف باندي کار دی چې دا پخپله د دین او د هیواد په وړاندي خیانت ګرځي او د هیواد او د دین د دښمنانو لپاره مزدوري ده چې دغه ډلي ترسره کوي.

ددی څخه لوی مسئولیت بیا په دیني علماؤ او همدارنګه کار پوهانو د رسنیو کارکونکو او په لیکوالانو باندي راګرځي ځکه چې دوی باید پدغه ډګر کي خپل رول اداء کړي ځکه په عامه پوهاوی کي دوی ډیره اغیزه لري او د ننګونو په وړاندي او د اوازو د لمنځه وړلو او د حقیقتونو رابرڅیره کولو او همدارنګه د خلکو له لوري د پلانونو د شنډولو لپاره کار وکړي چې اوس مهال زیاتره زمونږ لیکوالان کارپوهان رسنیو کارکوونکي دغه کار په ښه ډول سره پرمخ وړي او همدارنګه دوی د عامه پوهاوی لپاره کار کوي او د خپل توان په اندازه دغه لاره پرمخ وړي مونږ همدارنګه دیته اړتیا لرو دغه ایجابي اړخونه د عامه پوهاوی په رامنځته کولو او همدارنګه د عام ذهن د روښانه کولو لپاره یو بشپړ پلان د ځانه سره ولرو ترڅو دا یو عام فکر وګرځوو او ټول هر هغه پلانونه کارونه شنډ کړو چې زمونږ د هیوادونو په وړاندي رامنځته کیږي او دا باید هر عاقل د ځانه سره خپله دنده وګرځوي چې دغه ډول کارونه سرته ورسوي.

## دين او دولت

يوه او ښه دولت پخپله د ښه ديندارۍ د رامنځته کولو لپاره يوه لاره ده د دين او د دولت ترمنځ اړيکه د دښمنۍ نه او هرګز به داسی نه وي سمه دينداري چې پوهه او منځلاريتوب د ځانه سره ولري پخپله په پياوړی توګه سره د عصری اوديموکراتي دولت د جوړوني لپاره يوه ښه لاره ګرځي چې دا پخپله په هيوادنۍ بنسټونو او بشپړو ارادو باندي ولاړ وي او سم دولت هيڅکله هم د انساني فطرت سره په ټکر کې ندی چې دا پخپله د ايمان غوښتنه کوي او په ښکاره ډول سره د دوو شيانو ترمنځ توپير وکړو يو ديناري او بل هم تندروي ده خه ديناري هميشه خاوند يي ديته هڅوي چې تل زغم رحمت او ريښتينولي او ښه اخلاق ولري ددي ترڅنګ د نورو سره ښه ژوند کولو ته يی هڅوي چې مونږ ټول د همدي غوښتنه کوو، اما تندروي او ترهګري مونږ او تاسو ټول فساد او د فساد خپرولو ته رابلي چې په ترڅ کې وراني ويجاړي د ويني تويول او همدارنګه د مالونو لوټول پکې راخي دا هغه ناوغي ده چې مونږ ټول بايد ددي په وړاندي ودريږو او په کلکه ددي مخنيوي وکړو او هر څومره قوت چې مونږ ته راکړل شوی ددي د له منځه وړلو لپاره کار وکړو او دا د ريښو څخه وباسو.

پدغه ځای کې مونږ او تاسو بايد د هغه دين چې په حقه دی او د ترهګرۍ ترمنځ چې په باطله دی توپير وکړو او مونږ بايد پدي باوري ووسو چې د حق او باطل ترمنځ جګړه به تل وي او ترهغه به دوام کوي ترڅو دغه خاوره او هغه څه چې پدي خاوره باندي دي پاتي وي خو تل بريا به د حق لپاره وي دا که وخت پری ډير تير شي که لږ، پدي هکله الله جل جلاله فرمايي: (بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٞۚ وَلَكُمُ ٱلۡوَيۡلُ مِمَّا تَصِفُونَ) « خو موږ پر باطل باندي د حق ګوزار کوو، چې د هغه سر ماتوي او هغه ګوري، محوه کيږي. او ستاسي لپاره د هغو خبرو له امله تباهي ده چې جوړوئ يې» [الأنبياء: ١٨].

په واقعيت کې د حق او باطل ترمنځ مثال داسې دي لکه ښه او پاکه کلمه چې په حقه باندي وي او خبيثه کلمه چې په باطله باندي وي لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا كَلِمَةٗ طَيِّبَةٗ كَشَجَرَةٖ طَيِّبَةٍ أَصۡلُهَا ثَابِتٞ وَفَرۡعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ٢٤ تُؤۡتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۢ بِإِذۡنِ رَبِّهَاۗ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ٢٥ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٖ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجۡتُثَّتۡ مِن فَوۡقِ ٱلۡأَرۡضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٖ) « ايا ته نه ګورې چې الله د توحيد د سپيڅلي کلمې مثال کوم شی ښودلی دی؟- د هغې مثال داسي دی لکه يوه ښه ذات لرونکې ونه، چې د هغې جرړي په ځمکه کښي ښخي شويدي او څانګي يې تر اسمانه رسېدلي دي، هغه په هر وخت کښي د خپل رب په حکم سره خپلي مېوې راوړي. دا مثالونه الله ددې لپاره خلکو ته بيانوي چې هغوی ورڅخه درس واخلي، او د کفر د ناولي کلمې مثال د يوې بد

ذاتي وني په ښېر دی چي د ځمکي له مخ څخه رايستل شوې، غورځول کيږي، د هغې لپاره هيڅ محکموالی نشته» [إبراهيم: ٢٤-٢٦].

خو بريا بی له شکه تل د حق ده اود حق د خاوندانو به وي الله جل جلاله فرمايي: (وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ١٧١ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ) « له خپلو لېږل شويو بندګانو سره موږ لا پخوا وعده کړې ده، چي په يقيني ډول به له هغو سره مرسته وشي؛ او همدا زموږ لښکر به (پر کافرانو) برلاسی شي» [الصافات: ١٧١-١٧٣]، همدارنګه بل ځای کې فرمايي: (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ) « اې مؤمنانو که تاسي د الله (د دين) سره مرسته وکړئ، نو هغه به ستاسي سره مرسته وکړي او ستاسي قدمونه به کلك کړي» [محمد: ٧]، په بل آيات کې فرمايي: (وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ) « او پر موږ دا حق ؤ چي د مؤمنانو سره مرسته وکړو» [الروم: ٤٧].

دا چې موږ د يو باعدالته مسئلی خاوندان يو چې هغه د دين او د هيواد مسئله ده نو مونږ ټول ديته اړتيا لرو چې د خپلو هيوادونو د جوړښت او ودانۍ ته کار وکړو او همدارنګه د ودي او د پرمختګ او د توليداتو لپاره کار وکړو او د خلکو د خوښي لپاره کوښښ وکړو او د هغوی امنيت او برقراری رامنځته کړو ځکه چې دا پخپله د حق دين او د حقيقي انسانيت موخه ده او هر هغه څوک چې فساد او فساد خپروي او همدارنګه ويجاړی او وژني ته لاره برابروي دوی د اديانو په خلاف کار کوي او د ټولو هغو لوړو ارزښتونو او د انساني فطرت په خلاف کار کوي چې انسانيت پري ولاړ دی.

دين او دولت يو له بل سره ټکر نلري دين او دولت په ګډه سره د هيوادوالۍ او همدارنګه په حقوقو او واجباتو کې د هيوادوالو د برابری بنسټونه برابروي، نو مونږ ټول بايد د خپلو هيوادونو د خير او ښيګڼي او د ټولو خلکو د ښيګڼي لپاره کار وکړو د بل چا لپاره هم د ښيګڼي غوښتنه وکړو لکه څنګه چې د خپلو ځانونو لپاره خوښوو ځکه ټول اديان د رحمت لرونکې دې او اديان ټول د زغم او د بشريت د ساتني او د خلکو سره د مرستي لپاره راغلي دي دين او دولت دواړه زمونږ څخه غواړي چې د خلکو سره په ګډه او ټولنيزو ستونزو د حل لپاره کار وکړو او زمونږ په منځ کې بايد هيڅ داسی څوک نه وي چې هغه وږي پاتي وي او يا هم د کارونو څخه محروم وي او يا هم اړمند کسان او بی وزله کسان په مونږ کې پاتي شي.

دين او دولت دواړه مونږ ديته هڅوي چې کار وکړو او توليدات رامنځته کړو او په کار کې ښه مهارت ترلاسه کړو او همدارنګه د بی وزلی بی کاری او د لټۍ څخه ځان وژغورو او همدارنګه ترهګري او ترهګر او نه پاملرنه فساد او د فساد خپرونکې ويجاړي او د تخريب او همدارنګه د ويرو د رامنځته کوونکي اود فتنو

رامنځته کوونکي اوجاسوسان او خاينان ټول رابرڅيره کړو او د دوی په وړاندي ودريږو.

په پای کې مونږ پدي باندي ټينګار کوو هر هغه څوک چې دا وهم کوي چې د دين او دولت ترمنځ اړيکه د تاوتريخوالي ده نو دوی په اديانو باندي په سمه توګه سره ندي پوه شوي او يا هم دوی نه غواړي چې د دولت په مفهوم باندي په ښه توګه سره پوه شي ځکه چې مشکل نه په صحيح دين او نه په سم دولت کې دی بلکي مشکل په هغه څه کې دی چې دوی د دين د طبيعت څخه ناخبره دي او يا هم د دولت د طبيعت څخه ناخبره دي او يا دا چې ددي دواړو څخه ناخبره دي.

خو مونږ دلته پدي باندي ټينګار کوو چې بايد د هيواد داساسي قانون او د نورو قوانينو درناوی وشي او د قانوني دولت د ودي او د پرمختګ لپاره کار وشي او په يو هيواد کې د دولت د قوو په وړاندي نوري برابري قوي جوړي نشي دا که هر ډول مصدر ولري ځکه چې دولت بايد د يو بيرغ لاندي وي او د هغي د چترلاندي بايد ټول لومړيتونه جمع شي که چيرته هره اداره او ډله او يا يو اړخ د دولت د بيرغ لاندي خپل بيرغ پورته کوي نو دا د يو دولت په وړاندي خطر دی چې نه د دين او نه د دولت سره برابر دی بلکي ددي په وړاندي خنډونه جوړوي.

# فهرست

سریزه .......... ۳
د دولت په اداره کولو کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کړنې .......... ۷
د د دولت او د جماعت یا ډلې فقې ترمنځ .......... ۱۱
د تجربې او شوق په اساس د دولتونو اداره کول .......... ۱۵
د هیوادونو قیام او پرزیدنه .......... ۱۹
د هیوادونو د اقتصادی پرزښت خطرونه .......... ۲۳
د هیوادونو ساتنه د شریعت د ضروري مقصدونو څخه دي .......... ۲۷
واک د تندروو ډلو له نظره .......... ۳۰
د دولت او د ډلو له نظره د مصحلت او د ګټې مفهوم .......... ۳۳
سیاسي تعددیت او موازي قوتونه .......... ۳۵
فقهي اختلاف او سیاسي اختلاف .......... ۳۸
علم د دولت او ډلې له نظره .......... ۴۱
دولت نه ګډوډي .......... ۴۵
د سیستم او د ادارو لرونکي دولت .......... ۴۷
عادل امام یا حاکم .......... ۴۹
د عام نظام ساتنه .......... ۵۵
په آسماني رسالتونو کې د ګډو انساني ارزښتونه باندې پوهه او د هیوادونو په جوړونه کې د هغې اغیزې .......... ۵۸
د عقیدې لپاره قتل جائز ندی .......... ۶۲
پلازمیني پولې او د هیوادونو جوړښت .......... ۶۵
د خپلو ډلو د ګټو لپاره د دروغو اوریدونکې او خپرونکې .......... ۶۷
دین او دولت .......... ۷۱